

Ketabton.com

ښاغلی قیام‌الدین خان «خادم»
د «روهی ګلاونه» مؤلف

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پښتو ټولنې له خپرونو څخه :

دخپرونو لمبر ( ۷۱ )

# روهي ګلونه

مؤلف

قيام الدين « خادم »

د پښتو ټولنې د دائرة المعارف د ترجمې د څانګې مدير

۱۳۲۵

د کابل

عمومي مطبعه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زېري

بلبلان پسې ناري وهي رحمانه ! د بهار گـلو نه شو يدي که نه دي ؟

«رحمان»

* * *

د سوندک مو ندک سپلي اخري کېږي په بلبلو زېري و کړه : بيا بهار دی

«خوشحال»

* * *

د گلونو قدر چا زده ؟
د بـلـبل يا د بو را زده

«خوشحال»

تقریظ:

# روهي ګلونه

هر طرف ته نوبهار دی غوړېدلی
سترګې وخوره چه به دا ننداره نه کا
(خوشحال)

دا ښکلې ګلونه چه د ښاغلي خادم په زيار راغونډ شوي دي او د پښتو ادب مينانو ته د سوغات په توګه وړاندې کېږي ، هغه ګلونه دي چه پښتنو د پخوانيو شاعرانو د زړه په وينو روزلي شوي دي .

څنګه چه تر اوسه پورې د پښتو ژبې په ادبياتو کښې داسې يو جامع منتخبات نه و ، او ښاغلي خادم (چه د پښتو يو پياوړی اديب دی) په دې کارګوټي پورې کړې او بريالی شوی دی ، نو پښتو ټولنه دا خپله وظيفه ګڼي چه د دې فاضل دا دستايلو وړ خدمت وستايي او په دې انتخاب ده ته تبريك ووايي او هم په دې ګلونو سره د هغو پرديسانو روح ښاد او ياد کړي چه دوی به د خوازه وطن په بيلتون کښې ويل :

قاصدان له روهه نه راځي مدت شو
سلام باد را رسوي منت ئې تم دی

او له خدايه غواړي چه داسې ډېر آثار پښتنو ته وړاندې کړي .

(عبد الرؤف « بينوا »)

د پښتو ټولنې عمومي مدير

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تهدیه

زه دا درنگ رنگ تا زه گلونو دسته هغه چانه یه مخکښې ږدم چه تر هر چا اوتر څه دروه یه گلانو مین دی !

دشا هانو ور کړه لعلو چواهر وی          دادب دخاوندانو ؛دزړه وینی

« خادم »

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

داوي څښتن حمداوثنا وايو . او دده په هغه لاستائيچه ترټولو غوره دی ؛ او په آل اولادئی، درودليږو او ددي شکر کوو چه په لنډه موده کښي مونږ دخپل ملت (پښتو اوپښتو نولی) په خدمت کښي «چه زمونږ دمشرانو او خصوصا دګران ټولواك اعليحضرت محمدظاهرشاه رضامندی هم په دي کښي ده »

خومره چه کښدی شوه دهغې نه ډير کامياب شو. يعنی په کوم وخت کښيدپښتو خدمتګارانو زيات آثارو ليکل؛ چه لنډله دغوڅخه چاپ شوی دی ؛ او ډير لاپاتي دی په فرصت کښي به چا پيږی او دذوق خاوندا نوته به وړاندی کيږی .

يوله دغو آثارو څخه چه دپښتو په ادب کښي ورته ډيره اړتياليدی شوه دا کتاب دی چه د «روهی ګلونو» په نامه نن له چاپه راووت . دا کتاب دډيرو پخوانو هغو شاعرانو دا شعارو انتخاب دی ، چه نن يې آثار ډير لږ کيږی ، دا اشعار او ددغو شعراؤ ديوانونه ماپه ډير کوښښ پيدا کړيدی . او په ډير زحمت سره می تري دا مجموعه جوړه کړېده ؛ چه په خپل ډول اوترتيب کښي دنورو ټولو ديوي ، انتخابا تو ته هم نده ورته .

او داله دي کبله چه دپښتو شعراو ادب ځانته روح او ځانته لاری لری . مادغه روح او د غه اسلوب په نظر کښي نيولی دی ؛ او هغه سی مي د کتاب دترتيب نقشه جوړه کړېده . او بيا مي دا کتاب ليکلی دی ددي کتاب په ترتيب کښي نوي خبره داده چه دتهجی تورو يادرديف او قافيې په لحاظ ندی ترتيب شوی بلکه په ترتيب کښي موضوع اومعنی ته زيات اهميت ورکړی شوی دی ، نوهر خومره چه دا مجموعه يوه ادبی مجموعه ده ؛ او دا دادب اوشعر دنزاکتو او شاهکار يو څخه ډکه ده ؛ هغو مره دژوند او زندګی داسرارو خزانه هم ده !

په دغه شان سره دپخوانو کلاسيکی شعراؤ شعرپه شپږو بابونو ويشل شويدی چه په هرباب کښي فصلونه دی ؛ اوپه فصلونو کښي هم ځا نته ځانته عنوا نونه دی . او دهر عنوان لاندی د مختلفو شاعرانو اشعار ليکلی شويدی . اميد دی چه دقدر دانانو په نزدبه زما دا خواری ځای و نيسی؛ اوبه درنه سترګه به ورته وګوری !

کابل - تسندوز سازی - قيام الدين خادم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لومړی باب

## مینه او محبت

لویه خدایه ، لویه خدایه ! ستا په مینه په هر ځای یه
غر ولاړ دی درناوی کښې ټوله ژوی په ځاری کښې
دلته دی د غرو لمنې زموږ کښېږدی دی پکښې پلنې
داو ګړی ډېر کړی خدایه !
لویه خدایه ، لویه خدایه !

دلته لنډ زموږ اور بل دی وور کور ګی دی، وور بور جل دی
مینه ستا کښې مونږ مېشته یو د بل چا په مله تله نه یو
هسک او ځمکه نغښته ستا ده د مهر و وده له تا ده
دا پیا لنه ستا ده خدایه !
لویه خدایه ، لویه خدایه !

« بیټ بابا »

❀ ❀ ❀

پر لوړو غرو هم په دښتو کښې په لوی سهار په نیمو شپو کښې
په غاړه ژغ او په شپېلکو کښې یاد وېر ژلیو په شپېلو کښې
ټول ستا دیاد ناري سوري دی!
دستا د مینې ننداري دی !

جنډی زرغون که په بېدیا دی ډېر ښه خواته په خندا دی
ترنک چه خړدی په ژړا دی دا ټول اغېز د مینې ستا دی
ټوله ښکل دی ستا له لاسه
ای دریا سوالو پاسه پاسه !

که نمر روښانه مخ یې سپین دی یا د سپوږمۍ تندی ورین دی
که غر دی ښکلی پر تمین دی لکه هنداره مخ یې سپین دی
ستا د ښکلا د اپلو شه ده
دا یې یو سپکه ننداره ده

---

لغات : هسک آسمان ٠ مېشته : ډېره ٠ ځاری : عجز ٠ جنډی : ګل ٠ ترنک : دیورود نوم دی ٠

دلته لوی غرونه زرغونېږی     دژوند وږمې پکښې چلېږی
بوراوې شا وخوا ګرځی     ستړ ګی لیدو ته یې هېښېږی
لویه خاونده دا توله ته یې
تل دنړی په ښکلیده یې

خاونده! ښکلی ستاجمال دی     ښکاره یې لوریه لور کمال دی
که ورځ که شپه که پېړی کال دی     ستا دقدرت کمکی مثال دی
ستا د لور ونو یوه ر نما ده
دلته چه جوړه تما شا ده

زړه مې داستا دمینې کوردی     سوی دعشق په سوځندا وردی
رب یې وتاته په هر لوردی     بیله دې هیڅ دی ورک یې پلوردی
ستا دجمال په لید و ښاد دی
که نه وی دغه نور بر باد دی

په غرو کښې ستادعشق شپېلکی دی     ددې نړ ی په عشق سمی دی
که غټ که ووړ که پندو نری دی     ستا د جمال محری هر شی دی
چه پر دنیا مې ستر ګی پرې شوې
ستا دجمال په ننداري شوې

نه هسک نه مځکه وه تورتم ؤ     تیا ر ه خپره وه تول عدم ؤ
نه دا ابلیس نه نی آدم ؤ     ستا د جمال سو چه پر تم ؤ
چه شو ښکاره ښکلی دنیاشوه
دپنځ پر لوری یې ر نما شوه

زه چه خر ګند پردې دنیاشوم     د ښکلی مخ په تما شا شوم
ستا پرجمال باندی شیداشوم     له خپلی ستړی را جلا شو م
په ژړا ژړام چه بیلتون دی
یمه پردیسی بل مې تون دی

وګرېږو ، ولې «متی» ژاړی     سورې یې اوری غاړې غاړی
خه غواړی، خه وایی، خه باړی     خپل تون او کورو کلی غواړی
چونی چه بیل شی نیمه خواشی
تل یې دبڼ په لور ژړا شی

« شیخ متی : کلات بابا »

❀ ❀ ❀

---

لغات ـ هېښ : حیران ـ تون : ځای ـ چونی : بلبل ـ بڼ : باغ

الهی ! د محبت سو زو گداز را
تن پرور بلبل دې عیش کاندی پر گلو
که مې نزموبې په وياند دوزو ستر گو
چه نظر له ناتوانی و چا ته نه کا
چه مې نوی سر کوزی چاته بې ښکليو
اضطراب د حرص مې کړې له زړه گی لري
که مې نه فاشوې سر زید و عمر ته
خو به گورم د قیامت و ورځو شپو ته

چه خپل بر گئ په آب د چرخ نکړم سر سبز
چه مدام وی په چشمه د آفتاب ولی
چه کباب یې په گرمی ، زما ځیگر شی

چه بلبل یې و دیدن ته انتظار کا
که مې نه محتاجوې د صبا باد ته
سرخرو یې زما نصیب لکه لاله کړه

په اوبو کښې یې د کاملی گوټ پیدا کړ
په سجود یې مځکې سردی لگولی

الله مې رب د ی زه یې مربوب یم
غرق په اوبو کښې که اوبه وینې

د د ه په حکم با لا پستی شی
نه تل بهار وی نه تل خزان وی

چه زما په چمن راشی گستاخی کا
چه آزاد ه د منکر تر سره پر بوځی
چه کشور د افغانانو معطر شی
الهی ! د خپل حبیب له بر کته

په دا اور کښې دستی(۱) سمند رساز را
پروانه لره په اور زما گداز را
مې د عیش په میخانه کښې د مجاز را
د هغو بیمارو ستر گو نازو نیاز را
له دولت د عشقه هسې کبر و ناز را
قناعت قوی لنگر دد ې جهاز را
خپل زانو لکه نر گس محرم راز را
دا انجام په دم قدم کښې د آغاز را
«عبدالمجید مهمند»

د همت علو پشان د کهکشان را
د سحر پشان درست عمر سپین دامان را
دلاله غوندی په جام مئی جوشان را
کاظم خان «شیدا»

تن و ماوته گلشن د هغه باغ را
بوی د یار د تورو زلفو په دماغ را
پرسینه له محبته هسې داغ را
«شمس الدین کاکړ»

ده ور کړی پکښې اورله مکان دی
هم یې زوړ ند په رکوع سره آسمان دی
«عبدالرحمن مهمند»

بنده دده یم که خوب ناخوب یم
نعمت یې نه وینم په نعمت ډوب یم
«عبدالقادر ختك»

مستی خمار شی خمار مستی شی
هستی نیستی لری ، نیستی هستی شی
«خوشحال ختك»

د شبنم په څېر یې عمر بوزمان کړې !
د فلك په څېرمې توره د زبان کړې !
د هر بیت مصرع مې زلفې د خوبانکړې !
دا : ساده انشار نگینه درحمان کړې !
«عبدالرحمن مهمند»

---

(۱) په اکثرونسخو کښې د (ستی) پځای (سهی) لیکلی شویدی ؛ خوموښږ یې په معنی نیوهېږو «خادم»

روغي گلونه (۵۲۵) ب سردار محمد ح سراج الدین : ر محمد امین : ن محمد نعیم : ه اجرائیه پښتو ټولنه لیل ۱۸ : ۸ـ ۲۰ـ ع

(c) ketabton.com: The Digital Library



الهي د مينې درد را / کرم د ل آهو نه سر درا
خلاص کړه ما له بې دردی / له دې هسې د لسر دی
زړه په شان د غنچې را کړه / آتشی ز ما مینا کړه

«کاظم خان شیداء»

پر هر چا چه حق یاد نشی ناتمام دی / پر کاغذ اول دده پښنا م قلم زده

«دوات لواني»

## ب : داستاڅی په مینه

که رنما ده پیروی د محمد ده / گینه نشته په جهان بله رنما

«عبدالرحمن مهمند»

ډندې ستر گې چه دزړه مې پرې بیناشوې / یم پدین د محمد آخر زمان خوښ

«عبدالعظیم رانړزی»

توره تاریکی تو له لدې جهانه لاړه / نوردپاك رسول چه په جهان کښې شه پیدا

«میانعیم متی زی»

ما مختار یکښې مذهب د حنیفه کړ / چه مختارؤخود یه ستورو کښې مهتاب

«پیر محمد کاکړ»

راغلم ووجود ته د حبیب له بر کته / شوم لکه ذره هسې په نمرسره اظهار

«پیر محمد کاکړ»

توره تاریکی تو له له دې جهانه لاړه / نوردپاك رسول چه په جهان کښې شو پیدا

«میانعیم متی زی»

په زرگونو انبیا تردنیا تېر شو / محمد غوندې بل نه ؤ پیغمبر هیڅ

«دولت»

## ج : عشق . . . ؟

هسې پټ گرځم دا زېړ رخسار له خلقو / لکه زرچه خوك له خلقو پټ پنهم زدی
راحت نه دی بې زحمته چا موندلی / کوم طبیب دی چه په روغ صورت ملهم زدی
زه هر گوره خیل صنم یورې شرمیږم / برهمن چه سر په پښو دخپل صنم زدی
و آسمان ته لاس د عقل نه رسیږی / داخوعشق دی چه په عرش کرسی قدم زدی

«عبدالرحمان مهمند»

که د سربندل دشوار په ما و تا دی
اندېښنه سری بیدار کاندي له خوبه

دا په عشق کښې سهل کاردي دشوار ندی
کم اندیشه که بیدار دی بیدار ندی
«عبدالرحمان مهمند»

که په کاردي د سروشو نځوشیریني وي
درحمان په عاشقي کښې سترګي وشوي

د خپل ځان په وینو سو رلکه انار شه
څوك چه وایي عاشق ړوند دی هغه خوار شه
«عبدالرحمان مهمند»

عشق د نفس له خاصیته منزه دی

کاردستر ګو به څوك څرنګ پدهانګا
«عبدالرحمان مهمند»

څه حکمت دیار په مینه کښې رب کېښود
دا باران نه دی چه اوري له آسمانه

چه عاشق لره همدرد او همدوا شوه
د مرغانو په رحمان باندی ژړا شوه
«عبدالرحمان مهمند»

چه په زړه باندی زرداغونه جوړ شی

چه دیار له داغه آه کاهغه ګرم دی
«خوشحال ختك»

زه تر عشق جار بېزم : تر هغو چه عاشقان دی
رایشی له کومه ځای په څوو کا په زړه کښې
هی دخدای دیاره تفحص رایسی مکړه

واړه عشق یکاردی حقیقت دی که مجاز دی
هیڅ پري نه پوهېږم عشق یو څه سوز و ګداز دی
بلارته وایه نشي عشق یو هسی مخفي راز دی
« خوشحال ختك »

عاشقان دعشق له کاره انکار نه کا

فاسقان به په خپل زړه کښې اری غلا
« خوشحال ختك »

ځیني هوس کامینه په باغ لری
داد واړه ګرو هه بوالهوسان دی

څوك می په سر ستره حب دا یاغ لری
عاشقان مینه د زړه په داغ لری
« عبدالقادر ختك »

لیونی غوندی دعشق په کارو بار کښې

د خپل ځان په سودو زیان نه یم هر ګز
« عبدالحمید مهمند »

که هرڅومي تندتېزه توسن دعقل

عاقبت شو په دنبال د مینی پیا تی
« میا نعیم متیزی »

دعشق یوسبق کافی دی

نور ددرست جهان دفتر هیڅ
« صدرخان ختك »

عاشق ګرم او شوقی وی
چه دعشق په لاره درو می

زاهد سوړ بی حمیته
خالی ندی له تهمته
« دولت لوانی »

(c) ketabton.com: The Digital Library



خام خاطر مې مشوش و په هجران کښې — چه تمام دعشق په اور وسو متین شو

«دولت لوانی»

معرفت ځنې پیدا شو — عشق د عقل پلارو مور دی

«مرزا خان انصاری»

دغه عقل چه په عشق با ندي شیدا شو — دعرب په مینه گوره چه عجم مری

«مرزا خان انصاری»

وقبلې د عشق مخ د کل عالم دی — ودریاب تهٔځی که سیل له هر جا پاڅی

« مرزا حنان»

په هرداغ می دخپل زړه هسې باوردی — چه په مرگ به راته شمع شي په گور کښ

« عبدالحمید مهمند»

که شهید نکړی خپل ځان دعشق په توره — نوش به کله جام دحوض کوثر نکړی

« عبدا لعظیم را نیزی »

دسیماب په شان په لاس کښې نیوی نه شم — عشق را هسی گرم هم نرم هم لطیف

آئینې غو ندی هر و لی هر نا و لی — شی مهمان ځما په کور کښې بی تکلیف

« شمس الدین کاکړ »

هر یو زړه چه شی بیدا غه بیکار نه دی — چه بی مهره شی بهر ات هغه باطل دی

« مرزا حنان »

ته دعشق په لذتو نو خبرنه شوي — په سراب دځان مشغول کړ ، له دریابه

هغه چاری چه دعشق په جذبه کېږی — کله کېږی په لښکرو په افواج

« خوا جه محمد بنگښ »

جریده د عشق په لار ځم همراه نه لرم بې عشقه
بی رفیقه ، بی پناه ځم ، پناه نه لرم بی عشقه

هرساعت چه بیلتون یاد کړم په خپر دادو فریاد کړم
ځکړم چاو ته فریاد کړم ، نیکخواه نه لرم بی عشقه

مدام غوښې د زړه خورمه ، دزړه وینی به تل څښمه
ځکرم ځکرم چرته ځمه ، همراه نه لرم بی عشقه

معتقد یدا خپل رزق یم ، مبرا په زړه له فسق یم
واړه سرتر پا په عشق یم ، یو گاه نه لرم بی عشقه

دافقیر دولت نفی یم ، و گناه ته هوسی هم
خدای مې بیامرزه عاصی یم ، گناه نه لرم بې عشقه

« دولت لوانی »

عشق دی دا که یو فساد دی نه یوهېږم — په جهان کښې چه داشورو شرپیداشه

بیا به روغ دعاشقی له رنځه نشی — په هر تن کښې چه دغه اثر پیدا شه

« عبدالرحمان مهمند »

بادشاهانو که قصرونه کړه آباد          ماد عشق عمارتونه کړه آباد (۱)
نوم د کوم یوه بادشاه هسی یادېږی          لکه نوم دی دمجنون او د فرهاد
عشق عاشقلره یوهسی پیر استاددی          چه به نه دی بل دا هسی پیر استاد
دغه واړه کرامت د عاشقی دی          چه څوك غوث کاندی، څوك قطب څوك اوتاد
« عبدالرحمان مهمند »

درحمان شراب له عشقه          نه انگور (۲) نه له عنبه
« عبدالرحمان مهمند »

عاشقی ده خدای له اوره پیدا کړی          چه په اور کښې یې وطن وی څه به خوب کا
« عبدالرحمان مهمند »

مدام ناست یم وچ کو کل ستر کی په نم کښې          عشق را او ښو د بحروبر په خپل حرم کښې
« عبدالرحمان مهمند »

دا یو څرنگه ژوندون دی نه یوهیږم          خواب وخیال دی که افسون دی نه یوهیږم
دینښگ او د بلبل ترمینځ حیران یم          مخ دې اوردی که گلگون دی نه یوهیږم
عشق په هسی رنگ مقام باندی قائم کړم          چه وصال دی که بیلتون دی نه یوهیږم
درحمان څهره یې زیړه زعفرانی کړه          خدای زده عشق دی که طاعون دی نه یوهیږم
« عبدالرحمان مهمند »

خودخر گندوی لکه صبح په جهان کښې          هر گړوان چه په یارۍ کښې دریده شی
بی مطلوبه بی هیچ فهم په چا نه وی          هر طالب چه په طلب کښې فهمیده شی
یا به قند یا به نبات او یا به شهد وی          هر کلام چه له رحمانه شنیده شی
« عبدالرحمان مهمند »

سر اومال مې شو تالا په تور د عشق          لامې ندی لاړ له سره شور د عشق
« عبدالقادر خټك »

چه د عقل په تدبیر مې عاشقی کړه          یو هېڅ لی په تدبیر وم د د بیر کج
هېڅ مدد له عقله مه غواړه په عشق کښې          د دغه طبیب دارو لری تا ثیر کج
راهبران دعقل واړه رهزنان دی          لنړ د عشق له لاری مه بیا یه بهر کج
« عبدالحمید مهمند »

په هر ځای کښې ناست ولاړ زانگم له غمه          مینی مخ راته د ځمکی گهواره کړ
« عبدالحمید مهمند »

ته چه ما له عشقه اړ وی ناصحه!          دا عبث دی یول د سحر په دریا زدی
« شمس الدین کاکړ »

عشق دعقل په تدبیر چلاوه نشی          په دې ناوې نه جوړېږی پسول د چا
« عبدالحمید مهمند »

---

(۱) په مجنونو نسخو کښې (بنیاد) راغلی دی (۲) دانگور په ځای که (خورما) وای، ښه به وای «خادم»

داجهان دی خدای له عشقه پیدا کړی ، د جمله ؤ مخلوقا تو پلار دی دا
تر عشق غوره بل څه کار په دنیا نشته ، تر همه کارو نو غوره کار دی دا

« عبدالرحمان مهمند »

بل به هسی سرگردان په جهان نه وی ، یاعاشق دی یا آسمان دی یا آسیا
ته چه ز غوري سرومال په‌عاشقی کښې ، عاشقی دا هسی کله ده ویړیا
چه یی کسب عاشقی ده د دلبرو ، نظر نه کاندی په کسب د کیمیا

« عبدالرحمان مهمند »

بېدردان دعشق له درده خبر نه شول ، براهیم ځکه منت بار دا هل درد یم

« ابراهیم »

هیڅ می نزده محبت که او ر دی دا ، یه اور سوزم په رضا که زور دی دا
چه په تله د سرو مال راڅخه نه ځی ، وا قعی د تورو ستر گو تور دی دا
چه یی زه له بله غمه په امان کرم ، دعشق غم دی که زما غمخور دی دا
چه‌می‌ولیدو «حمید» دعشق په کار کښې ، لېونی د مجنون کشر و رور دی دا

« عبدالحمید مهمند »

باد شکلیو دپا ولیو شرنگها ر دی ، یا د عشق د لېونیو د ز نځیر

« عبدالحمید مهمند »

بی رهبره یون دعشق په‌لاره گران‌دی ، دلیه بویه چه پیدا کاندی رهبر څوك

« عبدالرحمان مهمند »

خپله مینه یی رهبر پیر کامل دی ، عاشقان ځکه طلب دبل پیر نه کا

« مطیع‌الله پیرخیل »

آرام زړه په‌عشق کښې‌نشته سرله سره ، خوب محال په هغه ځکه چه توده شی

« عبدالله پوپلزی »

چه اثر د مینې نه وی باندې شوی ، هغه زړونه گویا کانی د بیدیا دی

« ملا جمعه »

(c) ketabton.com: The Digital Library



# عزلیات

که څوك یار په جهان غواړی یار دی دا
یار دی دا که دجهان سنګار دی دا

خیال دز افو یی زما له زړه چا پیر شو
که تر ګنجه چا پیر شوی مار دی دا

دا جهان دی خدای له عشقه پیدا کړی
د جملو ؤ مخلو قا تو پلا ر دی دا

تر عشق غو ره بل څه کار په دنیا نشته
تر همه کا رونو غو ره کار دی دا

بل بلبل به د ګل نوم ا خستی نه ؤ
که خبروی چه ګل نه دی خار دی دا

بیا را تله و دی جهان ته بل وار نشته
بل وار نشته بل وار نشته وار دی دا

د حباب عمر دی وګو ری چه څه دی
که څوك شمار کاندی دعمرشماردی دا

د مجنون صورت په زړه کړه رحمان ګوره
ستا په عشق کښي هسی خوار زاردی دا

« عبد الرحمن مهمند »

چه یی و لید و ستا حسن بی حسا ب
له دي قصد ه تاو پیدا شو د آفتاب

په آرزو یي د نرګس ستر ګی څلور شو ي
غنچه سره دزړه په و ینو شوه غرقاب

ستاپه غم می دواړه ستر ګي سري ناغي شوي
که خیمی د ی سیاه پوشي سره طناب

که دي زلفي په مخ پیچ وتاب شوي ښایی
وبښته څه طا قت لر ی د اور له تاب

در حمان بخت به هله له خوبه ویښ شی
که ستر ګي ورته پورته کړي له خواب

« عبدالرحمن مهمند »

که ساقی تلخه با ده در یا ی شور کا
د فلك په جام به مست کله مخمور کا

آرا سته وی تل محفل د خند ه ر و یو
زمانه به د ګل جام څرنګ نسکور کا

چه په لاس کښي یی تل چوب لکه شانه وی
بی افسونه به نیو ل د تور منګور کا

د لتنګی کړم لکه ګل په خندا ور که
که می بل دصبا باد په خونه او ر کا

چه په سریی سبز آسمان زری دستار ږدی
عا قبت یی لکه شمع بیا سر تور کا

لکه ګل کړی ګران بار تر دا منشی
باد دي څه لکه غبار په کتف سور کا

« کاظم خان شیدا»

که ښکا ره زما خا طر د لاله داغ کا
په ژړا به ستر ګي سري د ګلو باغ کا

د حباب غونډ ی مي ډك په آه سرد کړ
څوك زما په ګور به بل څرنګ چراغ کا

افرو خته یو وی محفل په شان دشمع
چه سوخته دبل په کار کښي خپل دماغ کا

د ګر دش نو بت یی هیڅ په ما د ا نشی
که سا قی د ز ماني ، فلك ا یاغ کا

زنګ که هر کله «شیدا» دتیغ جوهر خوری
د مګس به بال به څرنګ استفراغ کا

« کاظم خان شیدا»

چه می ولید ه ا برو په مخ دیار کږ
له تعظیمه ور ته زه شوم په تلوار کږ

کږي ورو ځی کوږ با نه کږي یی ز لفی
منا سب دی له کږو سره رفتار کږ

مار په دا سبب مد ام کږ فتا ری کا
چه یی ولید ه دا ستا د زلفو مار کږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



هسې ژړا خلې اتر له همنشینه
چه معماري اول خپته کړه کښېنږ دی
ژړبه وا چوی یار دار چار پای په خا کښي
هیڅ جواب د پیغام نه را ځی دیار ه

په سبب د کنځې پښې شي‌سم بازار کج
بیا ترسره پوری ځی هغه دیوار کج
که یې یو ځله خوك وځکوي مهار کج
پسی زما شوه تورلیمه په انتظار کج
« شمس‌الدین کاکړ »

خوږ ژوندون راپوري هسې کړه‌هجران تریخ
نو خطان چه د عاشق له ژړا بد وه دی
په وصلت کښې له رقیبه نه خلا صیږم
می حرام دی په مجلس کښې چه یار نه دی
چه می‌نوم ستا د هجران په ژبه وا خیست
که فرهاد ته شیرین غم د شیرینی دی

لکه حال وی پربند یانود زندان تریخ
پرسبزه باندې نا وخته وی باران تریخ
پرموسم‌د ګل اوقات شی دباغبان تریخ
بې له ګله وبلبل ته شی بوستان تریخ
لاتر او سه می په هغه دی دهان تریخ
داستا غم کړ شیرین عمر پرحنان تریخ
« د مرزا حنان »

چه می یار ولید په سیمه د اغیار ګډ
د غه حق د بلبلا نو پـه جا نب دی
په امید د زلفـو و نښتم په دام کښې
ددیدن په ګدائی کښې می ننګه نه شی
د و قا د ګلـو پیا نـی پکښې نشته
زه رحمان ئې د فردوس له غمه خلاص کړم

له غیرته می لیمه شوه په خو نبار ګډ
خدای دنه کا مبتګیر کځ په‌لاله زار ګډ
رو هیلی وم ساده دل په هندو یار ګډ
د ر و یز ګریم د بتا نو په با زار ګډ
کاشکی نه وی زه ددهر په ګلزار ګډ
چه په ګلی په کوڅه شوم د خپل یار ګډ
« عبدالرحمن مهمند »

دا تور خط را غی پـه مخ د ګلعذار
سپین رخساریې‌په تورخط کښې هسې‌پټ شو
زما نه به بې سپین مخ دا هسې تور کا
هر کارسازن‌په خپل کار کښې‌درمانده دی

که غا لب شوه په کشمیر باندی کفار
لکه پټـه چـه معنی وی پـه اشعار
چـه غرض اری د بل پـه کا رو بار
اوبه کنه وډای شی ګرځ دخپل رخسار
« شمس الدین کاکړ »

او بیو د فراق دستر ګو خواب را خخه یووړ
رنګ په رنګ ژړا کړم لکه‌نی دیار لغمه
نه می را برسیره کړ ګوهر دعشق له بحره
تل‌چه‌یې‌هوس کاندی‌سره لاس وخونریزیءته
یوطرف ساقی شو بل طرف شو جام دمیو
وا چولم یار د جدائی په سره دیګ کښې
هیڅ یې نظرونه کړ زما وخاکساریء ته
سینه‌خوله‌دیارچه‌په‌خواست‌زه‌شمس الدین‌غواړم

کور زما دصبر دې سیلاب را خخه یووړ
زړه می په یوه نفس احباب را خخه یووړ
زیاث یې لاآرام لکه حباب را خخه یووړ
سرې د هغو ستر ګو قصاب‌را خخه یو وړ
عقل یې له میانه پـه شراب را خخه یووړ
روح‌یې زمادځان لکه ګلاب را خخه یووړ
زړه می سیا چشمو په شتاب را خخه‌یووړ
خواست دهرې ورځې دمخ آب را خخه یووړ
« شمس‌الدین کاکړ »

زما زړه گوره چا یووړ
په دوه زلفو لیلی یووړ
ځکه د ی شوبی ارامه
چه د زلفو بلا یووړ
چه په خپل قوت غره وم
زړه قوت په تالا یووړ
دا کتاب زما دستر گو
سیلا بو د ژړا یووړ
خه بازار چه می د زړه ؤ
حسن ستاحسن په غلا یووړ
حسن باج ؤ چا ورنکړ
ده جهان په یغما یووړ
ما ویل چه مینه نه کړم
زړه بیوا که شیها یووړ
قراری د زړه می نشته
بیقرار زلفو ستا یووړ
دا تمام عالم ښادی کا
احمد غم دا شنا یووړ «احمدشاه ابدالی»

ستا د زلفو خیال چه زه افګار ساتم همیش
هسي په سینه کښي ګویا مار ساتم همیش
زلفی دي سنبل مخ د ګلاب ستر ګي نرګس دی
زه باندي باغبان یم دا ګلزار ساتم همیش
داله تلوسي نه چه پرقلب می پرزو نه شی
ځکه په ځیګر کښي ستا ازار ساتم همیش
خلق زهیر بڼری چه مجلس لره ور دروم
پس له دي به زه نور ځان کنار ساتم همیش
عکس د رخسار چه دي زما په زړه کښي ګرزی
زه په خپل ځیګر کښي سورا نګار ساتم همیش
زه مي ستا له غمه همیشه آه و فغان کا
زه په خپل وجود کښي دا بیمار ساتم همیش
ستر ګي مي خلور شی ستا پرخوا چه وعده و کړي
زه حنان له غیرو دا ستالار ساتم همیش
« مرزا حنان »

خط به مخ د صنم راغی که سپوږمی شوه په هاله کښي
دا یې غابنې په خوله کښي زیب کا که ژاله شوه په لاله کښي
هسي رنګ سحر وجادو کا په نظر د شهلا ستر ګو
نه یې سیال په هند کښي شته دی نه ثانی په بنګاله کښي
لکه وښلی مرغی په سست دام د سلو لومو
هسي زه پسر ښانو زلفو کښي پستم په کشاله کښي
دازما له غمه شین زړه پکښي خیال د یار دلبو
هسي رنګ زیب و زینت کا لکه می په شنه پیاله کښي
ما ویل عین ګټ ګل دی د غنچي په لمن انښتي
که مي کوت یو ګل اندام ویروت په سبزه دوشاله کښي
شکلی مخ کا ولي ناسته ، په مجلس د رقیبانو
په جوار د سپو کښي نه وی هیڅ ارام په غزاله کښي
سر تر پایه تیغ د هجر لکه نی سوری سوری کړم
ځکه یم مدام داهسي په فریاد و په ناله کښي
که یار غوا ډي هو مره ژاړه خو د رځی عبدالحمیده!
دا په دا چه درمونده شي په دریاب نه په ناله کښي
« عبدالحمید مهمند »

زه داهسي دیوا نه او مجنون چا کړم
له رواج او له رسومه بیرون چا کړم
نه پوهیږم چه داهسي چاري څوک کا
لیونی د خپل نګاه په افسون چا کړم
کومي ستر ګي کوم بانړه کومه غمزه ده
دوب شهید غونډي په خاکه اوپه خون چا کړم
توان توفیق چه د فتنو را څخه نه ؤ
په فتني د تورو ستر ګو مفتون چا کړم
رحمان هیڅ له خیله ځانه خبر نه یم
چه دا هسي رنګ زبون او محزون چا کړم
« عبدالرحمان مهمند »

زه دیدار په دردوغم کښي شاد مان یم
لکه ګل دبر ښانی په وخت خندان یم
ته زما و بیکسی ته نظر مکړه
خدای ساتلی لکه ګنج په بیابان یم
لکه ونه د ځنګل په میوه پوره
په ویرا نه ویرا نی کښي ابا دان یم
پوره ښتنه می د صورت بی عشقه نه دی
څو کیدار په هر نفس دخپل کار وان یم

دو صال مارغه داو شو دا نه راکره — لکه لعل ودر په غاړه د خوبان یم
د کاملې عقیدې له بره کته — دروهي په غاړه ناست شاه جهان یم
روښنائي مې په طلب کښې شوه حاصله — شپه اوورځ لکه آفتاب په لار روان یم
چه صفت د تورو زلفو د اشنا کړم — بلې، سر په لو په لار د هندوستان یم
بې مینه مې هیڅ حال د صورت نشته — لکه بې مال ومتاعه تش د کان یم
دهوس بلبل ویسا را باندې نه کا — دافلاس په ګکېل بو تې د خزان یم
دلبرانو ته خاك تر تلي لاندې — د دې نور جهان په سر لکه اسمان یم
چه دیار په دیدن سرو مال ښندمه — خلقو واوری زه هغه عبدالرحمان یم

«عبدالرحمان مهمند»

زه دیار په درو غم کښې غرقاب خوښ یم — په داور کښې بیطاقته بیتاب خوښ یم
تر دا بوچې گفتگوی چه زه یې اورم — په نغمه په ترانه د رباب خوښ یم
چه دیار دخط وخال ښې پکښې وي — زورند سر په مطالعه د کتاب خوښ یم
دریا تر ناقبو له عبادته — دساقي په میومست او خراب خوښ یم
چه نه علم نه تسبیح نه تلاوت وي — له دې هسې بیداری نه په خواب خوښ یم
دطوبی دونې سوری مې خوښ نه دی — ستا دمخ په لمبو سوی کباب خوښ یم
خاموشي که هر څو لویه مرتبه ده — زه دیار سره په سوال وځواب خوښ یم
دیار دهرې غمخوری یم عاجز کړی — رحمان څکه په خوړدن دشراب خوښ یم

«عبدالرحمان مهمند»

څوك چه بد راسره کا ورسره ښه یم — هم په دا ښو دبدانو توزلیمه یم
له هغو مې څه اندوه چه په خوی اوردی — په خپل خوی کښې سوده اوزم تراوبه یم
چه وماته وزما عیب پښکښ را وړي — ددې هسې یار له خدایه په غوښته یم
نور زما دی، نار زما دنورو څه دی — دیتنګوغوندې مخ خیر دلمان په سوه یم
په ایرو یې مخ سپیره شي چه نفاق کا — آینې غوندې مخ سپینه تور په زړه یم
چېرې نه وي چه په بل مخ وته گوری — په هجران کښې خوښ دستر گو په واته یم
له نور چا کله گله عبد القادر کړم — زه خوار کړی خپلو ستر گو یم خپل زده یم

«عبدالقادر ختك»

مخ دې لکه نمر دې ورته څیر کتلی نه شم — څکه یې دمدحې ترعهده وتلی نه شم
زده یې راغلیل کړ دهجران په ناو کیو — راز پکښې دیار د محبت ساتلی نه شم
اوس مې په معنو کښې ښه مین دستر گو کسی — کسی به د خلقو په ویل اېستلی نه شم

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه یې د زنخ په څاه کښې بند لکه یوسف کړم
بند یې د حواس په پنجره زه عبدالقادر کړم

د خپل یار له مینې هسې دیوانه یم
که بې آهه یې ناڅې بې زغه سوزم
د خال خیال یې ما ضعیف لره کافي دی
چه یې خیال ساتم د سرو لبو په زړه کښې

په جنت نه یم خوښ هر گز په درد یار مې قسم
زړه مې له نا وعده د نه وصل هر گز و نه لیده
پر وایه گل و په خار نه کړم د جنون له فیضه
که مې سرولاړ شی ستا په مینه لا خوشحاله یم زه
تور بخت مې و نه لیده هیڅ ستا د کتا کل شب قدر
ستا د گلگون رخساره شرقه زه حنان دا وښو

زه چه مین دیار پر مخ یم نوبهار څه کوم
چه وعده و کړې د هغتی ترمیان کړې تپر گلونه
رضا د ځان مې په رضا د خپل اشنا ور کړې
چه مې زړه وړی په منگوله هغه یار دی زما
که د وصال په هوا را شی یکتنها دلبره

سپین رخسار دې وای سپین صبا شو قم
د صبا او د بیگا تر منځ حیران یم
سپر یندې فوندې قی کړی کولمې ناست یم
گنجینه شوم ستا د مینې له دو لته
چه میرا در سره نه وی قلندر ه !
قلندر په کومه پوزه لاړ شی صوات له
د میرا صاحب له جوره قلندر ه !

مغنی گوتې په ځیر ز دی په بم هم
ستا د عشق د غشی هسې ځای پرهار دی
ستا د زلفو مار چیچلی نه ر غیږی
تا چه مخ ور نه ښکاره کړو لیونی شو
هغه راز د محبت چه پټ له تا دی
د خوښۍ پیاله په لاس کښې نن زما ده

بې یې د زلفینو درسی ختلی نه شم
زړه مې پرواز غواړی ولې الو تلی نه شم
«عبدالقادر ختک»

چه خبر نه په کعبه په بتخانه یم
پر څراغ د مخ یې هغه پروانه یم
د مینې په دود قانع په لږ دانه یم
دا په دا مدام د لعلو خزانه یم
« مرزا حنان »

خوښ په لذت یم د خوارۍ په اعتبار مې قسم
په ناامیدۍ د تورې شپې د انتظار مې قسم
په سینه صافه آئینه د نو بهار مې قسم
په تېره تیغ د استاد جور جوهردار مې قسم
په تورو مینځو ستا د زلفو په هر تار مې قسم
گلان کړم هره گړۍ په لاله زار مې قسم
« مرزا حنان »

تماشه بې دیاره مخه د گلزار څه کوم
بې له وصاله تش د خولې خالی اقرار څه کوم
دا که مې ټول دیار په لاس دی خپل اختیار څه کوم
نور حسن داره بې له ده د قندهار څه کوم
نور منتونه زه جمعه به د دیار څه کوم
« جمعه بارکزی »

تور کاکل دې وای تور شپه د تم
نه پوهیږم چه عمل و کړم په کم
د هجران لاس مې و کاږی زیروبم
اژدها را پاڅي گرزی د مبدم
ته چه صوات لره ورځې عذر دی کم
چه میرا یې همراه نه وی هوس کم
دا یو لاړو، السلام علیکم
« قلندر »

هم ساقی شته هم بهار و صنم هم
چه ریښه پرې اېښودای نشی مرهم هم
په ستا نو په زیار تو نو په دم هم
پاس د غرو نو په سر گرزی په سم هم
زړه خبر ور ځنې نشو قلم هم
درد زحمت را څخه و تښتېده غم هم

به لذت دي دسروشرنګو کوثر هيڅ کړ
د يوه لاس نقاره دا سي آ واز کا
که ناستي ديار کوی به خاورو مومی

د شبنم دا نه که تخم شي د ګلو
چه بی نشه لکه ګل به رخسارونه
حال دسوی طالع څه بيان کړم چا ته
معطل به عارضه د شام غريب ذی
داسمان به شان يی تيز دفتنو تيغ کړ

بسرلی مي دخزان به تالار تېر شو
اوس که ځان وهم که خاوري پهسر اونم
لامي غټوره ته په تحير کتلی نه وو
لکه دپري پري پيکر هم پري رو وو
بوه ورخ به دا غنز و شي عايغا نه

بی له ياره رانبکاره ژوندون ذبون شو
چه دعشق په مکتب ماد غم داستان اوست
دقلم په دود به چا که سينه څی کړم
دحسرت ګوتي به غاښ کړی طبيبانو

سور پيزوان دپه سروشونډو هسی زيب کا
دسرو ټيك دشهزاده په جبين پروت دی
دواړه ليچي دي وښکلي مصري نوري
ستا له غمه به ځان زړه در حمان سوزی

پارسائی يی د پارسا له لاسه يووړه
چه مي کړي وه توبه لهمی خواری
معجزه چه د احياده په دوه لب بی
دلبرانو چه دعوی د دلبری کړه
را ته پاتي دا يوه مسلمانی وه
ماوي زه به دعشق راز لرم پهزړه کښي
چه دزړه صبر ديار له سخه غوا ړم
که دنورو هوښياري په عشق کښي پس وه ی

د حيات او به لا هم د زمزم هم
دا افسر کلا به ستا نه دی دم هم
باغ بهار د سکندر دی ارم هم
« سکندر خان خټك »

زړه به سوړ په ديدن نشی د بلبلو
څوك به څه کاتوري زلفي دسنبلو
لکه نمر زما جبين دی د داغلو
که مي زړه به حلقه بندشو د کاکلو
صبح وشام ګرزی ښکاره پهسرو منګلو
« کاظم خان شيدا »

ما لا ګل بوی کړی نه ؤ بهار تېر شو
په هيڅ رنګ په پېر ته نه رازی وار تېر شو
لکه برق درخشنده په تلوار تېر شو
هم هغه رنګه تيز رو پری وار تېر شو
چه فلا نی هم لکه ګردو غبار تېر شو
« عليخان خټك »

اشتياق مي دزړه مرګ وته افزون شو
هك حيران را ته فرهاد دويم مجنون شو
دمرجان په طور روبنی مي لړ ون شو
له قانون اوله شفی رنځ بېرون شو
« حمد »

لکه جيم په قلم ښکلی کاتبانو
شينکی خال دي محاسل په بند يوانو
دو پوه بزم سر په پرېکړي دخوارانو
لکه شمعه په زيارت د شهيدانو
« عبدالرحمان مهمند »

دانائی ئی د دانا له لاسه يووړه
په چشمانو يی زما له لاسه يووړه
لاس يه لاس د مسيحا له لاسه يووړه
دا دعوی يی دهرچا له لاسه يووړه
دا مي هم هغه ترسا له لاسه يووړه
دا خبره مي ژړا له لاسه يووړه
محبت مي دا دعا له لاسه يووړه
دخوشحال يی لا په خوا له لاسه يووړه
« خوشحال خټك »

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا د زړه سختي مې سر تر پایه ولید نه
نور ه دنیا نشته چه څه وه را ښځه خلقه
یار مې هغه وخت وي چه په شیه به سره ناست وو
گل چه شگفته شي عندلیب باندې ناري کا
تل گونه وهلي هر زمان ساده اهو نه
سري لمبي بې بلي دخوشحال ختك په زړه کړې

مست یم مې پرست یم رندي کړمه کړمه کرمه
نور شراب مې واړه تور عالم وته بخښلي
موږ به څښي نه شم زه د میو مستسقي یم
لار د محبت زه تل به روغ سلامت نه وم
څه وایې وماته حال دڅه‌ؤ په هجران کښې
خلق راته وایي رنگ دې پیاز یړ شو عاشق شوې
دوردعاشق دادی چه په عشق کښې ملامت وي

توره چه تېر یسږي خو گذاره اره کنه !
ولې راته وایی چه په ښکلو نظر مه کړه
شیخ دې نمو نسخ روزه کازه به دکې پیالې اخلم
نا وې چه زما د خولې بوسه اخله دا روده
وینې مې دزړه خوري مگر نور څه اره نه دی
څه ژړا فریاد کړې دشپې د تورو زلفو
خو د به ستا دمخه د گناه غونډې څر گندشي
مې شته چنگ ونی شته دخپل یار سره خوشحاله؟

اکه مخ زما د سار دی نمر خوهسې وی کنه!
دعالم د بري خبري اور به اوز توري لښکر یې
بې دعشق له شوروشره چه هر گز زما له سره
چه بې ریم عمل لا کا چه بې ورك کړی ځان پیدا کا
تاوې دروه او مې زبر کړه بل سبق له زړه بدر کړه
وهغه ته مې سر کوزدی چه معلوم ورته رموز دی
چه آزاد مربی وردومې خپل مرادو رځنې موږ مې
په یوه زمان ته یاردو رشي راشي څو گذاره

سنگ به سینه دوړ کړی ستاله هسې سخته دله
وار به وار مې واړه به دلبرو و ښند له
شمعې به ژړا کړه صراحې به خندېد له
نشته یو ه ښکلې چه ي و بو لم بېد له
ما چه عاشقي کړه خود په ما به دا کېدله
سور خت یې اغوستي به دا لاري تېر بدله
«خوشحال ختك»

واوره محتسبه ! باده خورمه خورمه خورمه !
لام و بې مې مجادلي یسې مرمه مرمه مرمه!
تل که هسې د کې پیالې چښمه چښمه چښمه !
زه چه په دا هسې لاري تلمه تلمه تلمه!
نور خبر دار نه یم په زړه سومه سومه سومه !
هیڅ منکري نکړم خلقه شومه شومه شومه !
ځکه زه خوشحال ملامت وړمه وړمه وشړمه !
«خوشحال ختك»

زلفې چه ول ول شي خو خپل یاره اره کنه !
سترگې چه پیدا دی خو دیدار اره کنه
هر سري پیدا دی خپل خپل کار اره کنه!
غواړم دا دارو د زړه پر هار اره کنه !
زړه زما پیدا دی تا خونخواره اره کنه !
نور تلې پخپله دی ښا مار اره کنه !
گل دلاله را وړه خپل رخسار اره کنه !
خپل باض په لاس کښې ځه گلزار اره کنه!
«خوشحال ختك»

اکه زه په عشق کښې زبریم زبر خوهسې وی کنه!
زړه مې نه خوځي له ځایه غر خوهسې وی کنه!
نه ځي نور څه هر څه درومې سر خوهسې وی کنه!
ورځ دشپه دا هسې کر کړه کر خوهسې وی کنه !
تل مې نه یې په خاطر کښې زبر خوهسې وی کنه!
په خبره نه پوهېږي خر خو هسې وي کنه !
په هیڅ ‌ا نه دی تړلی ور خو هسې وی کنه !
دخوشحال خاطر تېر بردی پر خو هسې وی کنه!
«خوشحال ختك»

د وفا خبر پیدا ران دي بېل خوا دروغي      دا متاع د زمانې په دکان نشته
مګر ځان وسپاري خداى ته په امان شي      ګنه بېل خوا ته د هېچا امان نشته
هغه یار به زه و ګرمي خوا ته غواړم      چه یې هېچېر بې منزل او مکان نشته
دلبران که هر څو ډېر دي په جهان کښې      زما یار غوندې د نېر په جهان نشته
چه هم قد لري هم زلفې هم سرې شونډې      دغه هسې رنګ آفتاب په آسمان نشته
عشق عاشق لره یو هسې ګلستان دی      چه وباغ و ته یې لار د خزان نشته
که مجنون غوندې په عشق کښې څوك صادق شي      د لیلى په دروازه کښې دربان نشته
دا نایان به د رحمان په قال پوهېږي      داته کار د هر نا اهل و نادان نشته
«عبدالرحمان مهمند»

ستا په مخ کښې چه حساب د جمال نشته      څکه ما څخه د صبر مجال نشته
ته د سرود مال وېره په ما مکړه      وېره ما څخه د سر او د مال نشته
روښنائي مې د چشمانو ستا دیدن دی      په دا کور کښې بل چراغ او مشال نشته
په جو یبار زما دستر ګو سروته یې      په دا نهر باندې بل څه نهال نشته
مخ دې بې له خط و خاله هسې زیب کا      چه یې هېڅ حاجت په خط وبه خال نشته
ستا په یادو کښې رحمان هسې مشغول دی      چه په زړه کښې یې نور هېڅ غم و خیال نشته
«عبدالرحمان مهمند»

ګنج و عقل زار شه د عاشق د څاځکې او ښې      نه خروار د عقل سه د عشق یوه دانه
تیغ دیار له لاسه په مرې د عاشقانو      هسې لذت کا لکه د میو پېمانه
خداى لره به ورسم په سودا دیاره مخه      بل مقصود مې نشته په کعبه په بتخانه
څه که زاهد زهد کا د یو جنت د پاره      سر بېند لې نه شي په ور بل د جانانه
ګوره د منصور هسې په دار نه شې رحمانه      مکړه دا د عشق خبرې مې سته رندانه
«عبدالرحمن مهمند»

په ګلونو اواز ورو کړه بلبله !      پر ښیا نه پوهېږي ستا د شوره له غلغله
عقل و هوښ عزیز تر هر څه بېزدل نه شي      ته یو څه رنګه ډېر ګران یې دمل جله!
خداى دې ه کاچېرې چوخ بودې په بېهوشي      قدم ورو زده درا ښیاو به ګل ګله !
ومطرب ته مینا وایې وایه وایه !      دا معنا نې پیدا کېږي له قلقله !
صدقه یې هم تر پسل عبدالقادر شه      څه قدرت لري چه وایې اه دل دله !
«عبدالقادر خټك»

وینځه که اصیل وي که توره وي که سپینه      کښېلې شي له حور و چه پرې ور شي د زړه مینه
شهد که څه نبات دي که شته شیرینې نورې      مینه که ئې ګورې چه تر هر څه ده شیرینه
خیال بې د زلفینو لکه مار ور باندې پروت دی      نه پرېږدي وزده ته بله مینه چه ور ځینه
سل زخمه که وخوري توی به یو څاځکې پرې نو لحی      هسې رنګه وچه د صورت کا مینه وینه
خرب به یې بدل په بیداري خوښې پرې وېر شي      هر چه یې په زړه کښې د دلبرو مینه وینه
یار په هوا دندي که د زړه مینه پیدا کړي !      مینه هسې خیز دی چه نه زدې لري کوینه
څه عبدالقادره ! په خوله مینه مینه وایې      څو دې لاو سجاره نده مینه نده مینه
«عبدالقادر خټك»

چه له خپله اشنا نه لری گډه    له نور چا به په نور څه لری گله
انګوری ترخه شراب ور اره بویه    میخواران له ګبینه لری ګله
چه بی تا یې غروم د بل و مخ ته    په دا خوی له ما نیمه لری ګډه
هیڅ ایستادي بکښې ونکړ تري بربوت    له ناوکه یې مې زړه لری ګله
چه جارو مې ستا د در د خاورو نکړه    ډېر زما له ما بانه لری ګله
بد و بد و ته ښکاریږی ښه و ښه ته    ښه له بد و بد له ښه لری ګله
ښه که سرو تری قربان عبدالقادر کړ    بیا تري ولې یار له ده اری ګله
«عبدالقادر خټك»

ننداره لره راځی چه پسی ځو نه    په اختر به ځلمی جونه کا سیلونه
ته به وایی مخ یې ګل د پغمبر شی    چه یې د په پسه مخ ووهی خالونه
چه په سیل د بهار د ګلو ګرځی    ځلمی ګل به پګړی زدی په اوربل جونه
ځینی دواړه زلفې ډکی کا له ګلو    خوك به غاړه د ګلونو کا هارونه
زیړ او سره نمری اغوستی ګلرخانو    وایی سبر و نې و نیو ل ګلونه
چه ګلو نه تولوی سندري وایی    شرمنده کا د بلبلو اوازونه
درست صحرا په خوشبوئی سره خوشبوی کا    په هغه ځمکه چه کیږدی قدمونه
چه له سیله را روانه شی و کورته    ګل لمن د بلبل یې نیسی آستینونه
چه له هسې ننداره نه ځان وباسی    شیخه ورك دي شه پیو څه خلوتونه
له لیدل د ښایسته ؤ بکښې نه وی    چا به څه کړه اته واړه جنتونه
که اوازدی که لیده د روح خوراك دی    نفسانی دې باندې نکا غرضونه
تېر شو وار عبدالقادر ره ! را به نشی    که ژړا کړې که فریاد کړی که آهونه
«عبدالقادر خټك»

څه افسون دې په ما وکړ پریزاده    چه پودم نه یم خالی د تا له یاده
زړه مې ډك لکه سپند دی شعله بویه    که د زړه په فراد و کړم څوفریاده
بېهانه ددي غرض مګر شانه کړي    ته یې لاس وروړي و زلفوته شمشاده
چه اواز دې د تېشې په کهسار نشته    د شیرینې په طلب لاړي فرهاده
په اسباب کښې مې زړه بند په اسباب ندی    د چمن په قید سرو ده آزاده
مهیا ورته قفس د ښاخ د ګلو کړه    که څه رحم په بلبل کوي صیاده
چه به هر منزل کښې سرخوری لکه شمع    د هغه لاري څه نفع ده له زاده
په سختی کله امساك د دولت کیږی    جوهر نه ځی به هیڅ وخت له فولاده
همیشه یې پیچ و تاب لکه جوهر وی    چه شیدا راغی تر دا حیرت آباده
«کاظم خان شیدا»

زه چه مست په لب دیاریم هیڅ حاجت د شراب نشته    او ر د عشق مې زړه کباب کړ و هیڅ حاجت د کباب نشته
تمام تن مې و چ لرګی شو، رګ مې تار ور باندې پربوت    زیر و بم اواز تري خیژی هیڅ حاجت د رباب نشته
پر پر هار رنګ باشی کړی چه پرسش کړی له ما نه    حال مې خو د ور ته معلوم دی هیڅ حاجت د جواب نشته
لکه مرغ نیم بسمل یم تپش کړم په ځمکه باندې    ځان مې ور کړ ستا په عشق کښې هیڅ حاجت د قصاب نشته
«خوشحال شهید»

سحر دا آوازمی غوږ پرست له بلبله
ستا خندا په ژړا کښې پستلم گله !

ترمستی یې لا لذت د خمار ډېر دی — ستا د ستر گو مستی بده ده ترمله
ښا پسته د زمانې د نیـا پرست وی — په کوڅه کښې یې پل مه کښېږده بې پله
په چغلی مې ستا ! په یارمینه زیاتېږی — څو دې زړه هومره چغلی کوه چغله !
ساقی مې چه را کوی یې په قهقه خانده — زده کړه دا د صراحی له قلقله
د لیدونکو په نظر کښې تفاوت وی — او که نه وی خبر جدا نه وی له کله
په پرېشانو اندېښنو خاطر پرېشان شی — جمعیت مومی خاطر له توکله !
چه ستا مخ ورته حاضر وی گل به گوری — دغه ستر گې دې دخدای نکابی گله
د مجلس روښنائی ته یې ته دی استیې — کوم نقصان دی که صبا کړه ډېوه گله
دا دنیا په مثال پل د آخرت دی
تېرشه زر عبدالقادره لدی پله

«عبدالقادر خټک»

سرو کـه لید ه شی د چمن تازه تازه — ستا حسن تري وینم ماه من تازه تازه
زلفې دی سنبل دی یا ښامار دی په چمن نو — یا دواړه نافې دی دختن تازه تازه
گوره ستاله مینې زړه یې ټک دی وینې وینې — رحم کړه شیرینې په کوهکن تازه تازه
ساز دی ښه مجلس دی ښه یاران دی سره جمع — وایه ای فاضله ! هر سخن تازه تازه

«فاضل»

❀ ❀ ❀

زه اول هم دېوانه وم ، دېوانه یم لا تراوسه — له دلداره همخانه وم ، همخانه یم لا تراوسه
له طفلی نه عاشق وشوم ، غم طلب او بلا کش وم — د دلبر د مخ په شمع ، پروانه یم لا تراوسه
زه هلك هم افسانه وم ، له عالمه بیگانه وم — تر ځلمو ښتو کالو تېر شوم بیگانه یم لا تراوسه
چه عشق په جانانه شوم ، له اغیارو کرانه شوم — تورو ښتو مې د سر سپین شو ، کرانه یم لا تراوسه
چه داخل د یار په صف شوم ، د تهمت د تیر هدف شوم — عام وخاص مې وائه ولی نښانه یم لا تراوسه
تل راضی یې په قضاوم ، هم صابر یې په بلاوم — عذر نلرم له حکمه ، بې بهانه یم لا تراوسه
د شیرین دلبر له لاسه ، ما شراب د عشق بې قیاسه — څو بې حده مې ډېر وڅښه ، فرزانه یم لا تراوسه
دا فقیر دولت یو مست یم ، د اشنا په مینه هست یم
په ازل مې شراب څښلی دېوانه یم لا تراوسه

«دولت لوانی»

❀ ❀ ❀

ناست یم ستاله لاسه زړه یاره سینه افگاره — ته له ما نه څه غواړې فلکه ستمگاره
ته یو موش گیرك بې لایق نه یې د گلو نو — ولی بلبلان شړې کمبخته ! اه گلزاره !
یار دي له ما بېل کړ تا خو هیڅ ښادی و نکړه — وایه څه دي وگټل رقیبه دل آزاره !
یو دي د هجران په تنا ره کښې لو غړن کړم — بل دي درقیب سینه رایخه کړه دلداره !

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر يو ګل يې خار شي په لمن زما څو څيري
نه چې د وفا طمع کوي له سرو قده
غوڅ وي قلندر په تيغ د هجر کړی نيا زه!

څوك چې ستا په مينه کښې وما ته کا پند ونه
زده مې که نادان په لاس کښو مات له ښيښه شو
او ښې دبا نو په سر چې را شي نه در ښځی
نه شي څوك سا تلی سره بڅرې په ګر يوان کښې
نه دی چا مو ند لی ښاپيري په دو شا لو کښې

چې صبا يې په هر ګل با ندې طوا ف کا
د پتنګ په دود د ځان په سوو ر ضا يم
هميشه د ګل په بوی زه شمس الدين ځم
ميل نه کا را ته با ز د يا ر د ستر ګو

څوښ له وصله نه شوم د هجر ان له غمه زه
خلق را ته وا يې چې زحمت دې لاد وا دی
سر دې په جها نـکښې د همه وا ړو ښا ديو
لوس بهاه دې وروسته دخپل يار په غم اخته شم
غيم د ې له از اه په نصيب د عا شقا نو
ما عبـدا لقا در چې دا غزل د فـر اق و وې

يو غوا ړم له يا ره ښه ديد ن تا زه تا زه
ځکه بلبلا ن چغا ر کوی په تا زه ګلو
يو ز مان له مـد حې د د لبرو مـه د ر ښړه
ز ړه چې در قيب ز ما په بد سره ښه کيږ ی
آه کوی لـه د لـه په فر يـا د له ز ير ګلـه
بل فکر مې نه کيږ ی بې ستا له ګفتګو يـه
مـه کړه په جفا سـره از ار د بـلـبلا نو
ستر ګی مې خيره شوی چې ولاړ يې زه دې ګورم
ز ړه د يو نس چو ی ستا د هجر لـه سختی

سير د ګلو نو چې کوم يې له خپل ياره
سرو به هيڅـا ليد لې نه وی ميوه داره
مـه کوه ميرا ! نوره جفا درب ديا ره !
« قلـندر »

واړه بيفائده زدی ابا سينه لره بندونه
نه شي څوك ايښو دای وښيښوته پيوندونه
ندی چا بند کړی په ګـيا سره سيندونه
ومې سول پاه سره د صبر در مندونـه
وا خله قلندره ! پـه ميرا پسې کـندونه
« قلندر »

زه هوس د هغه بـا غ لرم لـه شوقـه
ځکه مينه پـر څراغ لـرم لـه شوقـه
په خپل يـار پسی سرا غ لرم له شوقه
تل په لاس کښې پردی زاغ لرم له شوقه
«شمس الدين کاکړ»

نه کړم په ګـل مينه دخزان لـه غـمه زه
لا ښه چې بې خلاص شوم د درمان له غمه زه
نه دې شم بيغمـه د جانا ن له غمـه زه
ډېر په زړه زهير شوم دجهان له غمه زه
ځکـه تـه خلا صيږم يو زمان له غمه زه
رشك بـه کړم پـه اوښو دباران له غمه زه
« عبد القادر خټك »

بل در قيبا نو ځا نـکندن تـازه تـازه
نه به مدام ګـل وی نه چمن تـازه تـازه
تل د يـار له وصفه کړه سخن تـازه تـازه
مکړه پـه ازار زما د ښمن تـازه تـازه
وا وره لـه بلبله ښـه ګفتن تـازه تـازه
شـير شکرې وا يه له دهن تـا زه تـازه
څـه خوبه وفـا کړه انجمن تـازه تـازه
وکړه په دا لوری آمد ن تـازه تـازه
څه خوبه خپل مهر کړه غمجن تـازه تـازه
« يونس »

ښه مې ولیدل په سترګو واړه ښکلي — چې تر واړو لا تېرې کا جمال ستا دی
د دنیا په مخ به ډېر وي ښه مخونه — چې تر هر څه ډېر لذت کا وصال ستا دی
د واړه زلفې د حلقه کړې لکه لومې — چې دانه دې په دا لومه کښې خال ستا دی
دوړه ښېښې ګلګونې سرې به د ماغ درومې — ګوره بیا څو مره وګړي پایمال ستا دی
ته کشتن د غمزې کړه مه ودرېږه — مقتولان نو قبول کړې وبال ستا دی
که همه د خلقو ښکلي سره ټول شي — خسته زړه مې به ټولې کښې لېوال ستا دی
چې دې څوك په کوڅه تېر شي نور مین شي — چې تمام له عشقه روغ دی دېوال ستا دی
که مثال د صورت غواړې ګوره میاشت ته — چې پوره د دوه هفتو شي مثال ستا دی
چې صبا بېګا یې لوند لرم په اوښو — یادګاری را څخه پاتې رومال ستا دی
څو ریبار در سره نه بیا یې دوړاندې — چې په چم به یې تېرېږي محال ستا دی
که په قهر یې شړې په لطف یې بولې — چې یې نه پرېږدې په هیڅ کښې خوشحال ستا دی

« خوشحال خټك »

مخ د یار شمس و قمر دري واړه یو دی — قدې سرو صنوبر دري واړه یو دی
حاجت نه لرم په شهد و په شکرو — لب د یار شهد و شکر دري واړه یو دی
که بې یاره په بستر د پاسه پروت یم — نارو خارو دا بستر دري واړه یو دی
چه و در او و دیوار ته یې نظر کړم — باغ بوستان او دغه در دري واړه یو دی
چه غبار یې د کوڅې را باندې راشي — دا غبار مشك و عنبر دري واړه یو دی
خدای دې یار له هجره هېڅوك خبر مکړه — تاخت و قتل و دا خبر دري واړه یو دی
هغه دم چه سړی د روح له جهانه — توري خاوري سیم و زر دري واړه یو دی
قلندر که په رښتیا قلندري کا — خان سلطان او قلندر دري واړه یو دی
په دکان د نابیناؤ جوهریانو — خرمهري لعل و ګوهر دري واړه یو دی
دا پیران دې عار زما له عشقه نکا — پاك عاشق پیر و پدر دري واړه یو دی
په سبب د ظالمانو حاکمانو — ګور او کور و پېنور دري واړه یو دی
غزا و شوه که ځان ستائي ورحمان ته — بې هنر و ګاو خر دري واړه یو دی

« عبدالرحمن مهمند »

تور ګیسو د په چندن باندې ښامار دی — تورې زلفې دې سنبل د نو بهار دی
تورې سترګې دې هوسئي دي خطا شوي — چه و څرو ته پرتې په سنبل زار دی
تورې وریځې دې لیندې باڼه دې غشي — عاشقان یې زخمي شوي په ګذار دی
مصفا تندی دې ښه دی تر بلوره — بېدلان یې په سرونو خریدار دی
دغه خال چه دې د رو څو په پیوند دی — د خطا د ملك اصلي نافې ترې جار دی
سپینه پوزه دې غوټې د زنبق ده — چه چاپېر ترې نور ګلونه د ګلزار دی
ښنا ګوښ د نسترن دی غوړېدلی — د چنبې تر ګلو به د واړه رخسار دی
سپینه خوله که دې غنچې سره نسبت کړم — د غنچې غوټې کله شکر بار دی
دواړه سرې شونډې دې ښې دی د سرو لعلو — سپین غاښونه بې بها در شهوار دی

ښایسته زنه د سیب د سمرقند دی
چه خوا زه یی تر ښا تو نه بسیار دی

صراحی د سپینو زرو سپینه غاړه
سیم اسا اوږي دي هم په دغه شمار دی

واړه تن دي د حلب تر ښیښې صاف دی
چه را زونه د درون تري نمودار دی

سپینی لېچي دي ونښکلی مصری توری
چه خو نونه یی په غاړه سل هزار دی

دیا قوتو نیگني دي سره نوکونه
ځای په ځای دي په اوږو باندي قرار دی

چه مي ستا د تیو ښه ننداره وکړه
هغه گلك په لذت ډك خوازه انار دی

د نامه غوټی دي گل ده د گلابو
کینږ اوښی د گلو پاڼي پري انبار دی

د نامه نښکته دم و هلی نه شم
هم هغو زده چه خبر په دا اسرار دی

د پنډو یو تر صفت دي نه ز سپږم
ولي سپیني په سپینو الی تر چهتار دی

سپیني پښي دي د زنبق د گلو پاڼي
دیښو گو تي دي گلونه دانار دی

تمام قد دي په مثال د ښیر و نه
در پنده یی سم په مثل د چینار دی

سر تر پا یه ننداره بی ځان دي جوړ کړ
ترتا جار واړه رانمی د هند و بار دی

ستا مثال په هند و بار کښي را ښکاره شو
د لو بیا دانه یوه ښتر خروار دی

ته خو ډېر مهر کوی عمر دي ډېر ښه
دخوشحال ختك دي تش ایدل په کاردی

« خوشحال ختك »

عاشقی را باندي سوري کړي مرئ
هیڅ مي نه د رومی بي باره تر مرئ

څه اثر به یی د عقل وی په سر کښي
د هغو په سر چه کښېني ښاپېرئ

د مژگانو په پنجه مي زړه وکازی
خدای د تر کو مستي ستر گي کړي مرزئ

علوفه به یی بې غمه نور څه نه وی
هر چه کاندي دخو بانو چاکرئ

لېږ د صبر سبق ما لره هم راکړی
که په عشق کښي څوك دغه طاقت لرئ

خدایه څه دي د کوډوال په لاس کښي ور کړم
شپه او ورځ مي غږ وی لکه تو رئ

په صورت مي نری تېبه شوه ولاړه
تاچه دواړه ستر گي توري کړي نرئ

د وصال د دلالان کوم طرف ته غواړم
چه بند ی شوم د هجران په کچرئ

نور د شمعی په فانوس کښه پټیږی
تاچه واغو ستي دخیال جامی نرئ

زه رحمان په زړه نری کړم هغه جونو
چه یی ملاوي د و ښته په دود نرئ

« عبدالرحمان مهمند »

دا چه مست په میو راغی یار دچا دی
بیابه تاخت کابه کوم غولی وار دچا دی

چه زړه سوی یی د حرم په صید هم نشی
دا بید رده بیصر فی گزار دچا دی

ما خو نه دی څوك بیو جهی ازار کړی
دا چه ما ازار وی ازار دچا دی

چه یی درست جهان د مخ په رنا زیست کا
دا آفتاب غونډي روښان رخسار دچا دی

چه بلبل یی رسېدی تر گلو نه شی
دا د ننه په حرم گلزار دچا دی

چه هیڅ ترس په زړه کښي نه لری رحمانه
دا نا ترس او بی پروا گزار دچا دی

« عبدالرحمان مهمند »

سپین رخسار او مشکین خال یی سرخم دی
یا محمود او ایاز نا ست سره همدم دی

که دي مخ په زلفو پټ دی باك یی نشته
د حیات او به هم پټي په تور تم دی

ستا له زلفو له رخساره له سرو شونډو
پیدا شوی شام ، شفق او صبحدم دی

په دهن کښي دي غاښو نه تجلی کا
یا غوټی چه په غنچه کښي د شبنم دی

نه چه اوس ز ما زړه غوټ ستا په غمزو دی — چاره، غوښې له قدیم سره په غم دی
بې ژړا چا ته نه ګوري سیاچشمه — د نرګسو غوږ یده د جوی په نم دی
راحت ندی چا موندلی بې ز حمته — ستا جفا او وفا دواړه منقسم دی
ستا د حسن د تعریف له برکته — د رحمان د شعر کوکې په عالم دی

«عبدالرحمان مهمند»

❀ ❀ ❀

زه که پرنګ بدیم ښکلیه! عاروبي له ما کړې — چارې د قسمت دی، زه یې زشت ته بې زیبا کړي
یو ځله بیا راشه په ګلونو ګذر وکړه! — ای د صبا باده! چه بیا نغښتې غنچې واکړي
ګل دې په هجران کښې سل ټوټې خپله سینه کړه — سرې دې له فراقه لاله ستر ګې بړ ډا کړي
ولې له شیدا بلبلې مخ جار باسي ګله! — ته په دا خوبې هم دده نار و رسوا کړي
لاخوشبوېي ورکا چه بې واچوی واورته — زه به تنا زیاته کړم که ته زیاته جفا کړي
ته د حسن نمر یې دانو ښکلې لکه ستوري — ګل به کالعدم شی که ښکاره خپله لقا کړي

«عبدالقادر خټک»

خوښ یم ترابده د ساقی له میخانې — خورم شراب د مینې دو کې دو کې پیمانې
قدر د بلبل چه پاتی نه شو په ګلزار کښې — جوړې شوې په باغ کښې د زاغانو اشیانې
سپینو ستر ګو د راوښو واړل په خاورو — نه یې وساتلې په پښه کښې د ردانې
هر ساعت چه دمه کا سنګار د یارد زلفو — وخېژی تر زړه زما غا ښونه د شانې
هیڅ حاجت مې نشی په شیخانو ملایانو — ورکې شه بیخایه د پښتون د برې ستانې
تل مې لیونی عوندی څوك نه پرهیزدی ورکورته — ځای راله نشته یې د یار له استانې
هرچه په ازل وی هغه دی زما په برخه — څه له ره نور زه کړم شکایت د زمانې
مرګ د شمس الدین چه ددلبرد یاده نه ځی — شپه ورځ بې تړلی دی په ګوتو نښانې

«شمس الدین کاکړ»

ما په خوب کښې ځان ملنګ لیدلی دی — د زړه رخت مې په عشق رنګ لیدلی دی
اوس له وېرې په کوڅه ورتلی نه شم — ما د مستو ستر ګو جنګ لیدلی دی
غم و ښکلې توری راغی که مې پرهیزدی — ما خلاصی د ستا ترڅنګ لیدلی دی
ما بیګا شپه د یار مخ لید لکه شمعه — دا خپل ځان مې پرې پتنګ لیدلی دی
دا مطیع په سحر څکه څکه ژاړی — چه خپل حال یې ډېر بدرنګ لیدلی دی

«مطیع الله پیرخیل»

مینه د خوبانو نام و ننګ لرې کوی — تش دیدن د ښکلیو د زړه زنګ لرې کوی
تل آرزو لرم چه به پټ حال و یار ته وایم — کله سپی غماز له یاره څنګ لرې کوی
خوښ د معشوقو هغه عاشق وی چه بې ننګ دی — ځکه هر ملنګ له ځانه ننګ لرې کوی
خدای په دواړو کونو هغه پوند په تورلیمه کړه — څوك چه ستا له شمعې ما پتنګ لرې کوی
یار مې په شړل ندی راضی زه پرې پوهیږم — سپی غماز له دره ما په جنګ لرې کوی
بس کړه ای ناصحه! تور ځیګر را باندې مه خوره — کله مست بنګی له ځانه بنګ لرې کوی
بل شغل می نشته په زړه بې دیار له مخه — عشق پوهسې رنګ دی چه بل رنګ لرې کوی

«مطیع الله پیرخیل»

زړه مې د دلبرو تورو زلفو ته هوس کا
مرم د خدای د پاره په شتاب شتاب را درومه
ځم د یار په اوری په هوا هوس خوشې کړم
هر څوك چه طلب کا پته نه ده دا خبره

ګوره دا په ځان خونې تورمار لره وردرومې
چېری هم طبیب ورو ورو بیمار لره وردرومې
ذوق کاندې بلبلې چه ګلذار لره وردرومې
هر کله مطلوب و طلبګار لره وردرومې
«خوشحال ختك»

خوږې شونډې دې شکرې ندی څه دی
چه تسخیر په تورو سترګو کا د زړونو
چه د زلفو په زنځیر یې زمری بند کړل
چه د باغ سرو یې پسته تر قامت ده
وایې نورې مینې لرې کړه د زړه نه

ښکلې غاښ دې مرغلرې ندی څه دی
سیه چشمې سحر ګرې ندی څه دی
هوسی سترګې زړه روړې ندی څه دی
ښېښتنې په قامت سترې ندی څه دی
ستا د مخ په دور لرې ندی څه دی
«خوشحال ختك»

یار په ستمونو د خپل یار نه زهیر پېږی
څو کبر لو یې ده و خوبانو خدای ورکړی
څه شو که تری سلسله ځار پېږی په ساعت کښې
ښه رنګ یې بدرنګ کا چه پری و الوزی پوخته
ګرانې دی هر ګوره نوې چارې نو آموزته
زردی چه خبر به شی د سترو له احواله
سرغواړه له خدایه خولې ډېری دی فاضله

سترګې د ښو په درانه بارانه زهیر پېږی
هیچېرې بی زړه په عاشق خوارانه زهیر پېږی
ګل د بلبلانو په چغار نه زهیر پېږی
زړه د خزان ګوره په بهار نه زهیر پېږی
هرچه مدام مې خوری په خمارنه زهیر پېږی
هرچه د ویښتلو په آزار نه زهیر پېږی
هرچه غم د سر کا په دستارنه زهیر پېږی
«فاضل»

چه خدای په بت مین کړم که داعیب دی هم وی دی
عالم وایی عاشق شوې زه سوګند خورمه چه کله
کافر یم که یې و باسم هغه ساعت له زړې
که ستا کوڅه جنت سره څوك سمه راته کښېږدی
چه ځوان وم دایم زوړ شوم په رښتیار ښتیاخبرو
شیخان او زاهدان واړه په پسی شا ویل کا
که نور په صهبا مست دی زه خوشحال په خرابات کښې

سجود که روښن کړم که داعیب دی هم وی دی
درست خلق دروغجن کړم که داعیب دی هم وی دی
ستانوم چه ځنګندن کړم که داعیب دی هم وی دی
کوڅه به دې وطن کړم که داعیب دی هم وی دی
عالم د ځان دښمن کړم که داعیب دی هم وی دی
په مخ یې مبرهن کړم که داعیب دی هم وی دی
مستې یې په دیدن کړم که داعیب دی هم وی دی
«خوشحال ختك»

په ما غم دی واړه ستا د مینې مینې
اندرون ګو ګل می درست دو ینو ډك شو
بیا دې نوی پرها رونه په ما روغ کړه
په ژوندون یې څه احسان را سره نکړه
زه دې درست له باغه وا پستم دلبره
تو رو زلفو دې خوشبو په کړه ملکو نه
خماری سترګې دې د واړه شنه زمری دی

زړه مې درست پاره پاره شو وینې وینې
ظاهری جامې اغوستې سپینې سپینې
لړغونی مې لا روغ ندی ځینې ځینې
څه پکار دی که یې کړی په مړینې مړینې
تورزاغان پکښې مېوی خوری خوږینې خوږینې
د واړه ګلو ښتې دی دمنګو چینې چینې
د خواجه محمد و مرګ ته وږینې وږینې
خواجه محمد بنګښ »

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه به شوك بې ناچارې وطن پرېښې دی
كه ستا مخ يو زلى وويني په ستر گو
د يوسف غونډې به خو ځني بيرون كا
كه دې وليدې سرې شونډې جوهريانو
كه د لبر په دا ښايست لاړ شي چمن ته

نه به روح هرگز په خوښه بدن پرېښې دی
بت پرست به نور سجود دوشن پرېښې دی
كه د زنې چاته زلفې رسن پرېښې دی
په ياقوت پسې به تله د يمن پر پرېښې دی
د خولئي دعوی به گل د چمن پرېښې دی
« كامگار »

چه يوه گړۍ په جمع زړه ښه مخ وته وگورې !
داخوی زما قديم دی څه ماوس ندی راوړی
د خلقو تهمت يوسر دجهان غم نه بل سر
دا اور چه په ما بل دی دخپل يار له جدائی
اشنا ته وايه نشی نا اشنا به څه خبر يږی
ناوك يې دمژگانو دابرو په كمال جوړ كړ

كه درسته دنيا ستا شی هم څه نده دا تر پورې
چه بې دزيبا مخه رانه خس دی چارې نورې
هم ته به مې لاهسې رنگه سختې بلا ژغورې !
نه گرم نه ملامت يم كه تل وينې ژاړم تورې
دا راز چه لامانه دی اوريدلی خپلی مورې
خدای زده چه به دچا ترزړه گی وزی پورې وورې

ښه باز دی دخوشحال خټك خاطر په لاسو كبوت
په قدر ی خبر شه چېرې نه په لېږی پلورې !
« خوشحال خټك »

شنه خالونه چه د پاسه پر جبين زدی
د عشق اور مې وبلوی د زړه گی شمع
ما دې خيال ار ه فرش كړی تور لېمه دی
په شپه حال د مهجورانو په ياد راوړه

دا زما پر زړه داغونه آتشين زدي
بيهوده مې پر موم نقش دنگين زدي
ته بې نيا زه قدم ولې پر زمين زدي
په راحت چه سر له نازه پر بالين زدي
« پير محمد كاكړ »

❀ ❀ ❀

## ه : موضوع گانې

### (۱) ـ مخ :

بادې لاس په پلو كښېښږدی سره رېږدی

گل يې مخ وته نظر كا خوله پرېږدی
« خوشحال خټك »

د پری ښكلی جو ه مايدلی دی په ستر گو
زور دغاښو مه كړه مخ يې صاف تر آئينې دی
عمر به يې لنډ شی كه ئې تار دزلفو كم شی

ړوند شم كه به تا غوندې په حسن بله وه
زخم به پرې وشی په ورو ورو يې ښكلوه
فهم كړه اى ډمی ! ز مخ ورو وروچلوه
« عبدالقادر خټك »

اى چه په مخ و ډې خو ئې له ور ده
ته بې آ سيبه بهی ، سيب او سی

خالی يو دم نه يم د ستا له در ده
كه ترنارنج مې خپر ده زر ده
« عبدالقادر خټك »

كه مخ دې نمر كړم دنمر كړه وړه نشته

كه يې سنبل كړم سنبل مشكين ندی
«عبدالقادر خټك»

ډېر هوس لرم د ا ستا د مخ و گل ته

زه بلبل پرې الو ته كړم كه بد نه وړې
«شمس الدين كاكړ»

سپین رخسار دی ستا کعبه د عاشقانو — تورې زلفې غلافونه د اطلس

«میا نعیم متی زی»

دا په خوب کښې را ښکاره شو د دلبر مخ — که په ابر کښې ښکاره شو د قمر مخ
چه یې و لیدو دا ستا جوهر د غاښو — پټ له شرمه په خپل آب کښې کړ گوهر مخ
له حیا دې غټ و مخ ته کتی نشم — کله لید په خوږو سترگو شی د نمر مخ

« قلندر »

دا دې بار خو دی، خوله نیولی — که لاله گل دی پر خپې وهلی
دا دې سرې شونډې که سپین غاښونه — که لعل و در دی سره پیېلی

«خوشحال خټک»

ډېر مې ستا و مخ ته وکاته موړ نشوم — نور به څو پردې نابوده دنیا ویاړم

«شمس الدین کاکړ»

لکه مخ زما دیار دی ای باغوانه ! — په درست باغ کښې یو نسرین هسې لرې !

«خوشحال خټک»

مخ وته یې، گوره چه په مخ لری خالونه — څه عجب زیبا دی لکه گل د پیغمبر

«خوشحال خټک»

## (۲) شونډې او زنه:

د خولې ویل دې واړه نبات دی — خو ازه دې لا د کنځلو زیات دی
څوک یې چه ښکل کا سخ د هغو دی — شونډې دې دواړه آب حیات دی

«خوشحال خټک»

بوی به ستا د محبت ځنې روان شی — که یاره مې د نافې په دود تاتر کړې
په نازکو شونډو بار د پانو مه زده — خدای چه شونډې سرې بې پانو درته در کړې

«عبدالقادر خټک»

غنچه خوله چه یې نقطه موهومه ده — څه عجب که په خندا کښې شی دوه نیمه

«پیر محمد کاکړ»

په سرو شونډو کښې یې روز دی هم او به دی — دواړه زیست کا په یو ځای کښې بې جداله

«دالپوری حافظ»

که څوک و وینی د استاذ نخ پر آب — زړه یې و وزی د سینې لکه حباب

«عبدالله پوپلزی»

چه یې خیال د زنخدان وزړه ته تېر کړم — په کوهی کښې گذار کاندې اسکورلا

«میانعیم متی زی»

هغه شونډې چه ځائی د پانو سرې دی — هغه شونډې، څه حاجت لری وپان ته

«خوشحال خټک»

چه په خیال د سرو لبو د شپې خملم — هر سحر ښاخې ځما تر بستر و یننی

«عبدالله پوپلزی»

(c) ketabton.com: The Digital Library



## (۳)- بوسه:

چه بوسې د جفا جو یو د خولې اخلی
څوك مايوس څوك په اميد ديار دوصل
زه خوشحال د آهو چشم مينې سر گرم

گويا اخلی د يا غيانو قلنگو نه
څوك پراته غاړه غړئی په يا لنگو نه
د غر څه غوندې په هسې گړ سگو نه
«خوشحال خټك»

چه د يدن دمين و كړمه تا زه شم
په ارمان د هغه و خت يم دريغه دريغه

لكه كښت چه په باران سره اوبه شی
كه د زنې سبب يې بيا زما په خوله شی
«خوشحال خټك»

څوك چه زور سره ښكاره كا وزيا تيږی

كه پخپله بوسه را كا زور به نشی
«خوشحال خټك»

مگر تا سره سا مان د سلطنت دی

چه په هود مې سپينه خوله غوادې خټكه
«خوشحال خټك»

څو مې ياد دهغې خولې دمچې خوند دی

نو ر مې كل له د له هر د ی تلذذ
«خوشحال خټك»

سر به دركړم مچه را كړه ښه سودا ده

كه يې ته په بها پېرې زه يې پلورم
«خوشحال خټك»

په ربښتيا رماته وو ايه طبيبه!
سپينه خوله كه بې ريباره وزپيشكش كړم

چه د رنځ به يې صحت وی كه به نه وی
په خوشحال به مې منت وی كه به نه وی
«خوشحال خټك»

دادی هغه اوچه په هجران كښې پسی ته مرې

اوس يې په وصال كښې دوا ده اوريه ښكلوه
«خوشحال خټك»

دصبا باده! گزر په چمن بيا كړه
زه خوشحال كمزوری نه يم چه به ډار كړم

په چمن كښې رنگا رنگ گلونه وا كړه
په ښكار نارې وهم چه خوله يې را كړه
«خوشحال خټك»

زده مې تخمخ كېنږی دسپين مخ وښكلول ته
زه چه ځمنې سوال دبوسې وكړم راته خاندی

لاس يې لر بر كېنږی دزلفينو ونيول ته
يا به زده راضی ده يا پروانه كاوين ته
«مطيع الله پيرخيل»

چه يې تل دمخ ثنا وايی خوشحاله

په صله مې سپينه خوله درته بخښلې!
«خوشحال خټك»

دبوسې وعده دايم صبا برات كا

زده به څو كاندې تازه په دا وينا كښې؟
«اشرف خان هجری»

بيا حانث په سپينه خوله شوم د خو با نو

قسمو نه مې نا صح گڼل عبث
«ميا نعيم متی زی»

هغه چا چه ستا دلبو خوازه نوش مكړه

په خو زو يې د حلوا نشته غرض
« يونس »

كه هر ار ځله شيخی كوی خو شحاله

كه ښه ښكلی درنژدی شی نو يې ښكل كړه
«خوشحال خټك»

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ٤ ـ سترګی :

مست دهغه مخ یم چه مخموری اری ستر ګي
هسی پرې غوځېږم وایی توري لري ستر ګي
یارمې په ښایست کښې بې نظیره بې مانندی
لا په درست صورت کښې د پرمشهوری اری ستر ګي
ناست دی لکه ځری رقیبان وخوار عاشق ته
ځکه ستاله مخه هورې دوري لرې ستر ګي
هرچیرته چه ته یې هغه اورته مې نظر دی
هرچرته چه زانې شاهین هورې لري ستر ګي
« خوشحال ختك »

ما یې خیال لره ابلق د ستر ګو زین کړ
قدم نېز دی په رکاب زما د ستر ګو
« عبدالرحمن مهمند »

خار بندی مې د ښو کړه ترې چاپېره
ګوندې خیال دیار په ستر ګو کښې حصار کړم
« عبدالقادر ختك »

ځکه ما دعشق په تېر ځا ن شهید کړ
چه مې نه رسی د صبر په کفن لاس
مر ګیع دژړند زما پوښته له مړاؤ ستر ګو
په رسا ګنذار بو هېنږی د تور زن لاس
« عبدالحمید مهمند »

کنږی وروځی کوزبانه چه دې را یاد شی
کازه غشی مې تر زړه لوېږی آزاد
« پیر محمد کاکړ »

نیمکښو دی د غمز و توري تېر ې ستا
پرې په غوڅ شی هرچه کاندې ننداري
« میا نعیم متی زی »

باز دیار دستر ګو دمږ ګانو په پنجو کښې
دی لکه تنزری په چنګ و ړی زما روح
« میا نعیم متی زی »

د اشنا دتورو ستر ګو په تعریف کښې
نده کمه شاعری لـه اجتهاده
« میانعیم متی زی »

خو دیار بیماري ستر ګې خدای خونی کړې
ګڼه خون کله کولی شی بیمار
« عبدالرحمان مهمند »

خپلو ستر ګو فتوی درکړه چه مې وژنې
حیرانی ده پردا لو ستو د مکتب ستا
وکوثر ته حاجت نـه لری د خپلو
چه جام نوش کا څوك دمیو لبالب ستا
« مرزا حنان »

زړه مې رم خوری له سینی پر خبر نه یم
دا د ستر ګو باز مې بیا راځی وښکار ته
« مرزا حنان »

یل یې په جهان کښې مـو ندی نشی
عاشق تـله د یار په لوری په لیمه کا
« عبدالقادر ختك »

بی د یار له مړاوو ستر ګو چه کج ګوری
ګڼه نکا رنځورا چا ته جواب سخت
څوك د صبر ارام نـه غواړی په عشق
د ازل کاتب دی ښکلی پهدی باب سخت
« عبدالحمید مهمند »

عجب نده که وحشی د کوه و د شت شی
هرچه زړه د آهو چشمو سره مل کا
« پیر محمد کاکړ »

روهي ګلونه (۵۲۵) ـ سردار محمد ، ح سراج الدين ، ر فتح محمد ، ن محمد نعيم ، ه اجرائيه پښتو ټولنه ۱۰ـ۱۱ ـ ۵۲۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۵ـ غــابن

په آورزو دسپینی خولی یی په بوستان کښی
چه یی و لید ، خندا د سپینو غا ښو

نرگس پیاس پر سر نیولی د ، پیا لــه
لــه شبنمه لمن د ڪه کړ ، لا لــه
« شمس الدین کــا کړ »

په ر نــا د سپینو غا ښو یی خرم و م

وا قف نشوم د هجران د شب لــه دا چه
« پیر محمد کــا کړ »

## ٦ـ غوږ اوپوزه :

در په غوږ کښي د مهرو هسی زیب کــا

لــکه بر ښنی په سحا ر کښي ستا ر ه
« مرزا حنــان »

چه الماس دلبندرو زا نگی په غوږ کښي

کو ا کب کــا په اسمــان لر زان حبیب
« میا نعیم متی زی »

چه له غوږ وتی مقصو د مو می لبښتی ، ده

چه له پوزې یی مراد مومی لونــگ د ی
« خوشحال خټك »

سپینه پو ز ه د ی غوټی ، د زنبق د ه

چه چــاپیر تري نور گسلونه د گــلدار دی
« خوشحا ل خټك »

## ۷ـ خال :

مخ وته یې گوره چه په مخ لری خــالونه

څه عجب زیبــا د ی لکه گــل د پیغمبر
« خوشحال خټك »

زه حیران د استاد ورځو په نور خال یم
گــل دوه ږي بــاریکی ، په شبنم خوړ شی

کــافر څه ر نسگ سجده کــاندي په محراب کښی
نازك زړونه بد وي په صاف جواب کښي
« عبدالرحمان مهمند »

مشکین خــال دي په سرولیو هسي زیب کــا

لکه مهر یــه مخرو ن د د ر مر جا نو
« عبدالرحمان مهمند »

لکه عکس د اسمــان چه ار به شني کــا

زړه مي شین شوستا دشنه خال له لاجورده
« شمس الدین کــا کړ »

چه ز خــال و خط خبر ی یــکښې نه وی

د عشا قو یــکــلا ر د ا ترا نه نه د ه
« قلندر »

شنه خــالونه چه د پــاسه پر جبین ز د ی

دا زما په زړه دا غونه آ تشین ز دی
« پیر محمد کــا کړ »

شینــکی خــال د وروځو منځ د مهر و پانو

هم محراب دی ، هم منبر دی هم خطیب
« میا نعیم متی زی »

زړه مي ځکه په سل ژبو گفتگوی کړی — چه شانه وهی په زلفو د نګار لاس
« عبدالله پوپلزی »

په لښکر د تورو زلفو یې تالا کړم — خدای دی نه کا ځای کمان کفر د چا
« میا نعیم متی زی »

خیال د زلفو د رخسار زما په زړه کښې — زر عو نه کړه تر سنبل او سره گلاب
« میا نعیم متی زی »

زانگی پکښې زړونه د عاشقو سره په ویښتو — ته چه چیری کینږدی سره گلونه په اور بل
« میا نعیم متی زی »

کفرستان د شاه د تورو زلفو گوره — چه په څه ښائي تا وینږی وایمان ته
« خوشحال ختک »

که خوک وایي چه مار کله په کټ خیږی — زه خوږ لی یم په کټ د زلفو مار
« عبدالرحمان مهمند »

که اره لکه شانه شم پری نه یې نږدم — که د تورو زلفو تار په لاس را کښیوت
« مرزا حنان »

توری زلفی دی په لیچو باندی زانگی — ښامار ان دی دچندڼو په ښاخو نه
« خوشحال ختک »

دار بل په هر هر تار یې زړونه بند دی — مشاطه ور باندی نور یسی په تار و
« خوشحال ختک »

که د دیدن حج اکبر کوی تلوار راوکه — چه پر سپین مخ باندی د زلفو تور اطلس لرم
« صدیق آخند زاده »

## ۸- زلفی:

که بل مار چیچلی په لاس یا په پښو کاندی — په زړه خو له لگوی مار د تورو زلفو
« عبدالرحمان مهمند »

رحمان ستا په مخ بی ځنمو وهم مین دی — پیهو دمه د و ر ته کښیښو دام په څه
« عبدالرحمان مهمند »

دک می دننه لړمون په اور شو — زړه سمندر دی پکښې یی کور شو
چه ستا د تورو زلفو په رنگ دی — له بخته خو بس یم چه بخت می تور شو
« عبدالقادر ختک »

په لیده یې پیچ وتاب شم نه پوهیږم — څه بلاده د شوخ چشمو په کا کل کښې
تر حلقو د زلفو مخ ئی معلومیږی — که گلاب راته ښکاره شو په سنبل کښې
« مرزا حنان »

زه مین په هغه زلفو په رخسار شوم — چه سنبل ورته خجل دی گلاب هم لا
« پیر محمد کاکړ »

خو دیه خود یی کله زلفی په مخ زانگی — واړه زهر دی چه خوزی په تور مار کښې
« پیر محمد کاکړ »

خیال دزلفو یې دزړه نه جدا کیږي   دې کیبی پورې پښکته شي تور حجاب
« عبد الله یو پلزی »

## ۹- خندا:

په بار بار د خندا منت را باندی   چه په مادی نظر وشوپه خندا شوی
« خوشحال خټك »

کله کله یه خپل قهر لکښې مسیږي   لکه خوکې په هندو بارکښ دینداري کا
« شمس الدین کاکړ »

تبسم یې له دشنا مه سره زیب کا   قدر زیات لري ترخه چه شي شراب
« مرزا حنان »

## ۱۰- لاس:

د ا تحسما د قا تل لاس دی نه یو هیزم   که تر باغ وتلي لاس دي د سرو گلو
« عبد الرحمان مهمند »

کوم دلبري زړه په سرو منګو لووړي   چه لاس یې دي د ویښو د کې دی د حنا
« شمس الدین کاکړ »

سره نوکان دی دسرو ګلو په څیر زیب کا   د واړه لاس چه دی رنګ کړی په حنا
« پیر محمد کاکړ »

## ۱۱- حسن:

ته په دا حسن د ګل غوندی پیدا یې   پوری مور که ښا پیرئی یې راوړی
« خوشحال خټك »

زه رحمان د هغه حسن ثنا خوان یم   چه جر که دعا شقا نو وی پر پنده
« عبدالرحمان مهمند »

ستا دحسن د آفتاب له ګرمه خوبه   لکه ګل په نمن یت تازه شبنم وډم
« شمس الدین کاکړ »

پوبکښی مخی د قند هار د کښلیو نشته   کښلی د کشمیر که دلا هو رو د کابل
زړه دشمس الدین پهحساب سره دری ځای کړ   پوطرف دي تیك شو بل دی نته بل چار ګل
« شمس الدین کاکړ »

خو بررو نی یې دلبر نی څه په کارنده   لکه ونه بې میوی په پا نو پور ه
« عبدالرحمان مهمند »

توری زلفې نشته خالونه سره رخسار   ښکه طوطیان دی سره ګلونو تور ښامار
« یونس »

## ۱۲- جامه او ګانه:

ارغوانی جامي یې واغوستي رحمانه   پیایی جوړ کړه ستا دقتل اسبابونه
« عبدالرحمان مهمند »

دعقیق د آب بهرنګ یې تن معلوم دی   هر و ورخ چه جامه واغوندی ګلنار
« مرزا حنان »

نور دشمعی په فانوس کښله پټیږي   تاچه واغوستي دخیال جامي سپری
« عبدالرحمن مهمند »

درسته‌دي له‌خپل‌غريو واېستم خوشاله — يودغاړي هارمی د ګلونو مه‌شلوه

« خو شحا ل ختټك »

## وښې

داهلال‌دی چه‌ليدل‌شی په‌شفق کښې — که‌په‌لاس د ګل‌اندامی سپين‌وښی‌دی

« عبدا لر حما ن مهمند »

## ۱۳ ـ عيش،اودعشرت‌سامان:

دنيادار کړه چه نه‌وی ښې دلبرې — اوردې پوري ددنيا په‌ملك ومال‌شی

ارمان دادې چه به زه هميشه نه‌وم — هميشه به‌سره ګلونه کال په کال‌شی

د ګلونو وخت‌تېرېږی ساقی! ګرم‌بی — که دجام به د کولو دې اهمال شی

« خو شحال ختټك »

❀ ❀ ❀

ساقی ! پورته شه‌دميو جام تيار کړه — عمرهيڅ معطلی نه کوی‌تلوار کړه

که‌غمخوارغواړې‌په‌غم او په‌اندوه کښې — ښينه د که د شرا بو اختيا ر کړ ه

هغه‌خوك دی‌چه‌تهمت پري وا په نه‌شی — غوزپه‌هيڅ‌ابا ندي‌مه‌با سه‌خيل کار کړه

« عبدالرحمن مهمند »

❀ ❀ ❀

غنچه‌خښوه‌شراب‌ساقی!بيابه‌ارمان کړې — عندليب نارې وهی چه‌بهار دروی

« عبدالقادر ختټك »

❀ ❀ ❀

ساقی وخت دنوبهاردی شراب راوړه — دشرابو سره نقل دخولې مل کړه

« خو شحا ل ختټك »

## رباب

په‌آواز مې‌بی دزړه پرهار ګانه‌شی — مين ځکه د رباب په ز يرو بم يم

« عبدالقادر ختټك »

له مزينه زړه مې نرم او از څېږی — ځکه‌خوښی لګه‌رباب په‌زيروبم‌يم

« عبد ا لقا د ر ختټك »

باغ د ګلو نو ګنج د کتاب وا ی — رودوسرو دو نقل‌و شر ا ب وا ی

ښې‌ښې محبو بې ښه ښه احباب وای — خو بې د عمر وخت د شباب وی

« خو شحا ل ختټك »

## شراب

زمايار په‌خوب ويده دی چه‌ويښ نه‌شی — په‌پياله کښې ساقی! می‌تر پوه‌ورو

« عبد القا در ختټك »

ګله ! ته چه د بلبلی مخ جار با سې — مګرستاپه‌خيل‌ښايست اميدمدام‌دی

نور چه تل د کې پيالې تشوی ښه‌دی — په‌يوه‌پياله خوشحال‌ختټك بدنام‌دی

« خو شحا ل ختټك »

(c) ketabton.com: The Digital Library



داگلگون شراب د کومې میخانې دی — چه صوفي يې په جرعه سره مدهوش دی
بیا به دا گلونه نوی میخواری کړه — د بلبلو په اواز کښې دا سروش دی
« خوشحال ختك »

د رحمان شراب له عشقه — نه انگور نه له عنبه
« عبدالرحمان مهمند »

د گلو نو میو ناوې راسته ناسته — زنگاری کمیس اغوستې د مینا دی
« عبدالرحمان مهمند »

شپه او ورځ په دا زه مستغرق یم د شرابو — وینم یکښې هردم د خوبانو انعکاس
« قلندر »

په تاخیر کښې افتونه پیدا کېږی — معطل مه کوه ساقي! په داد و مل شه
« عبدالقادر ختك »

یو نفس د یاد پیاله له لاسه مه ږده — دا شراب حقیقي نه لري خمار هیڅ
« دولت لواني »

نن هغه شراب حرام دی — چه یې نسی کا زی له انگوره
« شیخ دولت »

ای ساقي د جام په ور کړه سستي مکړه — کاشکې یو هم پاتې نشي هوښیار دریغه
« دولت »

## ۱۵- بیلتون :

کیږ ر نا د نمر خپره شوه — زما یر کور د و یر ناره شوه
د بیلتون و رځ تورة تیاره شوه — غنږ شونا څا په چه بیلتون راغی
زړه مې له دې ویرنې سین دی — په ژړا ژاړم خپه ما ور ین دی
زرغون له او ښو مې سا دین دی — په نوال نولیږم چه تاخون راغی

❀ ❀ ❀

نه به بیا یم نه به بیا را شی — نه به تیاره شپه زما رنا شی
نه به شڅی را ته پخلا شی — بیلېږي پیر يی اوس دیون راغی

❀ ❀ ❀

د ښبتن یار د ی هیر مو نکړی — آ غلیه مخ چه په یا نه کړي
اور بل دې پر ښو وی وا ته کړي — په ما د بل اور کړوون راغی

« دا شعر د شیخ تمین بڼ کا کړ دی چه د ۵۲۵ ه په حدودو کښې ژوندون کاوه »

❀ ❀ ❀

و یر مې زړه سوری سوری کړ — را ته وگوره ملو کې ! !
په بیلتون کښې د ې و با سم — له خوږ مینه زړ گي کوکي
را ته وگوره ملو کې !
را ته وگوره ملو کې !

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بېلتون اور ونه بل دی    هر ګړی مې زړګی سوځی
لبو نی یمه د مینی !    سوځم زه لکه پېلوځی
راته وګوره ملو کی !
راته وګوره ملو کی !

غوږ و لی دی اور بل دی    اور زما په زړګی بل دی
زه د بختیار خاوری ایری شوم    په اور سوی می ګوګل دی
راته وګوره ملو کی !
راته وګوره ملو کی !

❀ ❀ ❀    « قطب الدین بختیار »
« متوفی : ۱۳۳۳ ه »

جدائی دما په زړه کاهغه چاری    لکه بازی به تارو یا پهدراج کا
دوه مېن چه په هواد وبله بېل شی    خدای یی څه شکل دتش سلام محتاج کا
زما اوښې د ګوګل په جوش پیدادی    لکه اور چه له کباب په نم اخراج کا
هر ناوك چه دقضا له شسته خېژی    زمانه دخوشحال زړه ورته امج کا
« خوشحال خټك »

که داستا ستر ګې راوجاربا سم ځانته    له بنادی به یی نور شا کرم وجهان ته
یوزمان مې که داستالیدل نصیب شی    نوربه ستر ګې پورته نکړم ګلستان ته
طبیبان دخپل دارو درسره کېږدی    تا ویشتلی مینه نه کا و درمان ته
چه په ما باندې تېرېږی ستا په عشق کښې    خدای دې هسې حال پېښ نه کا مسلمان ته
په فراق دښو یارانو چه ډېر ژاړم    دواړه ستر ګې مې پېغور کاو باران ته
« خوشحال خټك »

اوس یی درد د فراقت زغملای نشم    لکه نی یم وهر چاته په فغان کړ
« پیر محمد کاکړ »

دفراق په درد کښې شوق دبوسې څه کړم    خوزشربت په حال دمر ګ دبیمار نښلی
« پیر محمد کاکړ »

مونږ له هواده تنها راغلی یو    دبڼ طوطیان یو ، په دام و تلی یو
غمازه ظلم را باندې مه کړه    دښو یارانو فراق نتلی یو
« پیر محمد کاکړ »

دسحر چر ګه خوږ شې په کومی    چه تا ناري کړې دلبر مې دروم ی
یومې دلبر ځی بل رانه زړه وړی    زړه مې پدا وړی چه دلبر نو می
« اخوند ګدا »

دهجران دغم راتله په توره شپه وی    په هر چاورمه شه بېوخته مېلما نه
د فراق اوښکو دصبر تیمم مات کړ    په دریاب کښې نشته نمونځ په تیبانه
« شمس الدین کاکړ »

وخت دنوبهاردی زه جدا له خپله یاره    دریغه دریغه دریغه چه بی یاره ځي بهاره!
ژاړی غاړې غرونه په احوال دعاشقانو    سیل دراوروندی چه رادرومی له کهساره

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوردخوزو زړودی چه‌دغره په‌ونوبل شو    سری ډډوزی خېژی له نېتره له چیناره
غوادی چه‌احوال‌دفراق چنودرمعلوم‌شی    گوره هغه زانبي چه جدائی محی له قطاره
نوري ناري نشته خو ناري د بېلتانه دی    راشه که بی اوري در باب له هره تاره
رنځ مي نه کمېږی‌په‌زمان زمانزیاتېږی    زر راځه طبیبه! گنه مرم د خدای د یاره
مرگ د رقیبا نو بل ژوندون د حبیبانو    خدای‌زو به‌هنگام‌دوصل کېږی دادوه کاره
څه‌شو که لادم‌وهی په شماردی دژوندیو    رنځ چه‌لا دو اشی طمع پر یکړ ه له بیماره
هسي‌خواروزارشوم‌زخوشحال‌په‌عاشقکښې    خیل دی که پردی دی راته‌نه گوری له هاره
«خو شحال ختک»

چه‌په‌وخت‌دتلوراتلو کاچیغارونه    دهوا دیاران زا یاد زانبی اکثر کا
«عبد القا در ختک»

که هر څو دبېلتانه له غمه وا یم    خپل‌ژوندون‌مي دروغجن کاندي‌چه‌بایم
په‌قد کوز په‌تن‌ضعیف گوښه‌یولی    په مثال لکه ا بر و د لر بـا یـم
«عبد القا در ختک»

له ښکیه وچاوده وخت دصبا شو    په هر مسجد کښي ا ذ ا ن ادا شو
راشه‌چه‌ښکل‌دي کړم‌اوس‌به‌بېلېږو    په ځا ن ز مو نږ ه صبا بلا شو
«عبد ا لقا در ختک»

مین را یاد شو دا ستا له رنگه    که یو د رنگ کښېښي زما تر خنگه
که اشنا نه‌بی داشنا مثال لري    ځا ر شم قر با ن شم تر تا ملنگه!
«عبد القا در ختک»

وخت د سحر شو پر یوتي تلي    له کښیه لو ر یسه را و ختلي
د یار د راغلو وعده شوه تېره    په ډېر ککتل مي ستر گي و تلي
«عبدالقا در ختک»

د مني و خت ؤ و ني لیډ لي    یو څو بلبلي چه ژ ړ یډ لي
خواري خسته وي وي‌مي سزایی    چه بې گلو نو و یا ښېډ لي
«عبدالقا در ختک»

وډل‌دهجرپرما شرطمکره پعشقکښي    ز هر چا خوډ لی ندی په شرطو نه
«شمس الدين كاكړ»

دزړه‌ویښې‌مې په کومه‌درشتې خوری    هغه شونډي چه په شهدوشکر خوږ شی
بېلتانه‌می‌هډوپوست‌هسي‌وچ کلک‌کړه    دیار لاس می په وهل دخنجر خوږ شی
«شمس الدين كاكړ»

د هند بـا ر ا نه آ هسته و وره!    یار مسافر دی د ر بسره بی ژ غو ره
د سا یی گل ؤ په نا ز لو ی شو ی    و تلی نه دی هر گز له کو ر ه
«شمس الدين كاكړ»

د هجرا ن له ډېره غمه ولي نه مرم    له دي هسي رنگه ماتمه ولي نه مرم
چه یو یار له بله یاره جدا کېږ ی    د د ي د هر له ستمه و لي نه مر م

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه په هر سحر زما په ژړا خاندی — له دې هسې صبحدمه ولې نه ړم
چه‌په‌لنړه گرمی شا کاندي وگل ته — ه دې بېوفا شبنمه ولې نه مړم
« عبدالرحمان مهمند »

زاروخوار عاشق‌دی چه‌په‌شپه‌دجدائی — درسته‌شپه‌بېخوبه‌داسمان ستوری شمېری
« خوشحال ختك »

## کاغذ

مخ یې سپین ورق خالونه توری په کاغذ — سرومال په دا عاشقان پلوری په کاغذ
دادی تماما د محبت کمال طور ونه — یار له جدائی چه یار ژغوری په کاغذ
ته‌که‌نه‌رادرومې گاهی گاهی‌په‌خطیار کړه — نیم ملاقات وینم ستا له لوری په کاغذ
مه کوه ناترسه د جفا ستم را باندې — کله کله یاد کړه خیل‌غمخوری په کاغذ
وران به هرگز نه شی کښېلی توری‌له‌ازله — هرزمانی که سترگې د چا اوری په کاغذ
ستوری د طالع هم له جبینه معلومېږی — څه گوری فالونه د بخت ستوری په کاغذ
مه گوره بې خط قلندره دیار مخ ته — بې توروم ندېږی چه‌څوك گوری په کاغذ
« قلندر »

## ١٦ — ژړا

که گریوان می‌دسپوږمی‌دنمرمشرق‌شی — زه چه یار په سترگو نه‌وینم تورتم وی
درحمان خندا په اجر دژړا ده — تازگی د گل په قدر دشبنم وی
« عبدالرحمان مهمند »

ناخبر به ی له حاله شفق بولی — که دوینو په ژړلو کړم اسمان دوب
« عبدالرحمان مهمند »

بې دردان ئی‌لاس‌سرخی دشفق بولی — که په وینو کړم برجونه د آسمان دوب
« شمس الدين کاکړ »

زه دشمعې په څېر ژاړم تر صباحه — ته د صبح په شان خاندې له‌غروره
« شمس الدين کاکړ »

له ژړامی شوه تازه دزړه داغونه — لکه تل چه شبنم اوری پر وښو
لما دیار په‌زړه کښ جوروستم نشته — در وی ئی سپی رقیب را ته پرېښو
« شمس الدين کاکړ »

په سحر ژړا دېښنی نشا نه ده — بلبلانو پرې لوولی گواهی ده
که فریاد په زورونکړم‌زړه‌می‌چوی — که‌په زوره ناری کړم مه رسوائی ده
« مطیع الله پیرخیل »

هرسحر سترگې د گل له اوښوډکی — په داباغ کښ ئی ژړلو خندانشته
« عبدالقادرختك »

روهي گلونه ( ٥٢٥ ) ب : سردارمحمد : ج محمدعلی خان : د عبدالغنی : ن رجب علی : ه اجرائیه پښتو ټولنه تاریخ ٧ - ١١ - ٣٢٥ ع

## ۱۷ ـ او ښکي :

خه اثر به زما او ښي په تا کاندي
لا نازه شي او ر به او ښو د کباب
« عبدالرحمان مهمند »

هومره او ښي مي بهېږي په رخسار
چه غرقاب مي هم گرېوان دی هم کنار
په گرېوان مي تل داوښو باران وری
نه ور کېږي در حمان د زړه غبار
« عبدالرحمن مهمند »

خدای پیدا کړم لکه او ښکي په ماتم کښ
څکه برخه مي ژړا شوه له السته
« شمس الدین کاکړ »

یا کوم ستر گی به او ښو دیار مخ ته
ناروا دی په قران وهل خیچن لاس
« مطیع الله پیرخیل »

په ناولی مخ دیدن د ښکلو نشی
چه څوا وند نشي د او ښو په باران مخ
« پیر محمد کاکړ »

له حسرته خپلو او ښکو برسر پوډم
محبت په شان و شکل د حباب کرم
« عبدالله پوپلزی »

دا ورك زده غوادم په او ښو یسي لحظلم
زخمي ښکار به په بل دو ښو پیدا کېږي
« مرزا حنان »

## ۱۸ ـ غم :

غم دي هسي غلبه شو په ما باندي
چه مي ځای شي نه دننه نه د باندي
له زگېروی نه مي نور خلق په عذاب شوه
تل دوچو له کبله سوزي تاندي
زه دستا په غم کښ شمعي غوندي ژاړم
ته زما په غم کښ صبح غرندي خاندي
زړه مي ستا په اوری هسی او بزان دی
لکه زلفي دي په مخ دی او بزا ندي
ما دي ستا داند ښېنو په غم کښ سوي
د دنیا اند ښني واړه لکه سپاندي
داد ستور دی چه لوی غم په سری ورشی
نور غمونه ئي همه شی تر پښولا ندي
هرچه ما په نصیحت له تا جار باسی
بیا دي ستا په اوری دروم ی له ماوړاندي
سره لمبه گوره چه څه کا په وچ د کی
مخ دیار په رحمان هسي چاري کاندي
« عبدالرحمان مهمند »

هسي زه یمه دیار په غم تازه
لکه وی هره گیاه په نسیم تازه
ستر گی وخورم که نیي وچي کړم له نمه
که مي شی په دا ژړا صنم تازه
زه به څه کړم دچا چاري بی دیاره
هر سړی دی پخپل سا په دم تازه
دیار نوی نوی غم زېږوی و صل
رغوی سوی پر هر مر هم تازه
که دي زړه له غمه وچوی دلگیر مه شه
کا تبان کړی په چول قلم تازه
ښایسته یاران گلونه دی رحمانه !
بیلتانه کړه اکثر مړا وی کم تازه
« عبدالرحمان مهمند »

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه غم دبختورو له خاطره
قسمت هسې لهښا دليو کناره کړم
« عبدالقادر ختك »

تل مطيع الله ځکه سرور په دود نغمې کا
دا مشهور متل دی فرياد غم بر بشا نوی
« مطيع الله پير خيل »

غم ديار مې په خاطر کښې محکم بيا موند
په کعبه کښې مې صياد دحرم بيا موند
« پير محمد کاکړ »

جای نشين وغم ته تل په انتظار کښی
رکالا يا نوی بندی يم د انگريز
« عبدالله پوپلزی »

لاله افسوس کاد زړه له داغه
کفن ئې رنگه کړ دزړه په وينو
پر چمن نه دی خاطر فراغه
په ارمان ويست خزان له باغه
« شمس الدين کاکړ »

گوتې چه پر نبض زماز دی هغه پری سوځی
ځکه مې حيران شوو علاج و ته طبيبت
« پير محمد کاکړ »

۱۹ ـ رقيب :

سپی رقيب ئې کښېنولی دی په مخکښې
هرڅوك زدی کوڅی په مخکښې دباڼيز
« شمس الدين کاکړ »

عشق له عقله څخه کا خلاف کارونه
بی هنره سپی رقيب هلته څه غوښت
گڼه زه څوك اشنائی د زور ورڅوك
که ويارته رسيدای شوی په هنرڅوك
« شمس الدين کاکړ »

د رقيب وسرته وزی تنزی ناست يم
پری برئې تنږدم که ئې پلار په لاس را کښېوت
« مرزا حنان »

مافبول د رقيب ناز کړ ستا دپاره
سوداوزيان په دا جهان کښې خوراوورور دی
« عبدالرحمان مهمند »

۲۰ ـ جفا :

ستا دعشق حرفونه تور نه دی گلگون دی
تش به نه شی هغه خم دعشق له ميو
ددنيا چاری همه واړه فانی دی
مقتولان ستا د غمزو دی لا له ندی
در جهان دزړه خوناب مگر قبول شو
هم په داچه نوشته په جگر خون دی
چه ئې خاوری د فرها دو دمجنون دی
داد ستا جورو جفاو لې افزون دی
چه په سره کفن له مځکې را بېرون دی
چه مخونه د دلبرو پری گلگون دی
« عبدالرحمان مهمند »

له خوبانو چه کوم دوفا طمعه
کتوری غواړم د زانو له قطاره
« قلندر »

نن مې پياله تورو ستر گو سره جنگه دی
که پر هکری سر په لاس ورلره راشم
پر لبانو ئې دزړه دوينو رنگه دی
لا په دائی باور نشی زړه ئې سنگ دی
« تيمور شاه ابدالی »

## ج : بدیعی تشبیه ګانې

خوله دې ګل غنچه ده تور ګیسو دې سنبل پانې
ښې دی ددی دزر کې سپینه غاړه دې دزانې
شونډې دې ژوندون ښې به ستر ګو کړې خونه
ژبه دې شکرې ده د نښه په زړه پانې
هیڅ پری نه بو هیبزم دا دې زنه که منه ده
خال دې دی په زنه که دانه ده د ممانې
« خوشحال خټک »

کښته ولی د دواړو سترګو ستا په طمعه
و هر لور ته مې نیولی کور په کور دی
چه مې خیال د ترکوو لید و په زړه کښ
د واړه کسی مې و زړه و ته نسکور دی
« عبد الرحمان مهمند »

مایه خواست وزاری خوله له یاره غوښته
ده په ناز لکه غنچه سره و نه غوښته
څه خو حال زما تر غوږه د یار ورو ړه
چه مدام کا پرتا خواب د ناز پالښته
محبوبا پر پا انګک وا و ښته په خوب کښ
که هو ښی ده د بهار پر ګلو ر غښته
ثمره د بد فرزند ښکنځل د پلار دی
پیدا مشه تا خلف د چا له پښه
« شمس الدین کاکړ »

چه له غنګه د ګلرخ مې اغیار کښیناست
په چشمانو کښې مې ګل عوندې خار کښیناست
« پیر محمد کاکړ »

آهو چشم پر سبزه د چمن رام شو
یا پر تخت د زمرد شهریار کښیناست
« پیر محمد کاکړ »

که عشاق جنګ وجدل کا باندې څه شوه
پر ګلزار وی د بلبلو شر و شور
« پیر محمد کاکړ »

کوم یو له دوه ؤښه دی سپین رخسار که چنبیل ګل
کوم یو له دوه ؤښه دی تور ګیسو که سنبل ګل
« پیر محمد کاکړ »

پر سینه د ګلبدن ګریوان پاره شو
د غنچې له چا که رنګ د ګل ښکاره شو
« پیر محمد کاکړ »

دا تور خط راغی پر مخ د ګلعذار
که غالب شوه په کشمیر باندې کفار
« شمس الدین کاکړ »

چه مې ستا د مینې داغ په خاطر یوړ
زرغونه به مې لاله شی له تربته
« میانعیم متی زی »

میانعیم ناست دی ستا دغاړی الېلونه شماری
پیکښې پراته دی هزاران زړونه بلبیلی صنم
« میانعیم متی زی »

ګوتې تورې کړې په بای کړې دا پورې
زه حیران یم ستا د سپینو ګوتو تور ته
« خوا جه محمد بنګښ »

زه دربېسې درسته شپه پټ ژاړم لکه شمع
ته صبا خندان لکه ګل واز ګریوان دچاپې
« علیخان خټک »

(c) ketabton.com: The Digital Library



يون ئې د تدرو ، دربده ئې دی د سرو  پېر کوی په پلو کښې حمله ئې د سپاره ده
« عليخان ختك »

تماشا چه زه د خپل داغونو تل کړم  هم گلشن هم لاله زار په لاس را کښېوت
« مرزا حنان »

د گلرخ په هوا در ستمه شپه ر فتن کړم  د شبنم په څېر پښې يېلې سر سر تور تم
« شمس الدين كاكړ »

او ښې در ، ر نگ گهر با ز بده لکه لعل  جنس مې ډېر ولې رونق د بازار ته نشته
« مرزا حنان »

د يار خيال ته مې خالي کړ د ز ړه غولی  مېلما نه لره تيار شی سرای د ستور دی
« مرزا حنان »

چه دې خيال په خاطر را شی مضطرب شم  لکه پېښ چه د مفلس کره مهما ن شی
« مرزا حنان »

چه تا و و يستم تا زه غز ل ا نشا کړ م  پرې بلبلې فرياد کاندی چه گلعذاروی
« خوشحال ختك »

پر خپل ځای با ندې ولاړ يم لکه شمع  ترغزل پورې رفتار کړم لکه شمع
« شمس الدين كاكړ »

وخت دی راغی دغه دا که فدا کېږی  شمعه پله شوه تازه پتنگه خوځه !
« جمعه بار كزى »

آفرين دې پـه ول ول توروسنبلو  چه ئې ځای د پا سه وينو په گلو
« خوشحال ختك »

## قبيح او مليح

که يو ځله ئې په سرور باندې کښېنې  رنځ د هجر به شی د فم د بيمار
په مدار مدار به ئې کاږم چه خوږ نه شی  د بانو په ستنې ستاد يو ندې خار
« شمس الدين كاكړ »

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دویم باب ـ اخلاق او نصایح

## الف : ښه خويونه

### ۱ ـ اخلاق

که د رنګ خوبي ئې ستايې بوديې نښته　　په جهان کښ که باقي ده خو اخلاق دي
« خوشحال خټک »

په خو يونو کښ ډېر فرق دی　　که سړی پرې خبردار شي
ځينې هسې خوی آغاز کا　　چه خپل هم ځينې ويزار شي
ځينې هسې خوی آغاز کا　　چه پردی ئې خدمتګار شي
که څوک خپل خصلت ديو کا　　تر سرو زرو به رويدار شي
« خوشحال خټک »

ثنا د ګل شي له ښکليه بويه　　صفت د مرد شي له نيکه خويه
اهل به نه کا ستاينه هيچيري　　د ګل له رنګه د مرد له رويه
« عبدالقادر خټک »

چه ګل همت ئې خوراك لباس وي　　په تحقيق هغه ارذال الناس وي
شرف په خوی دی په ديانت دی　　که څوک شريف وي يا څوک کناس وي
« عبدالقادر خټک »

په ښه خوی د سړي قدر قيمت کيږي　　بد خصلت سړی يا ديو دی يا پېري دی
چه ئې علم وهنر نه وي ځني تښته !　　بې هنر سړی که وګوري لاشي دی
« خوشحال خټک »

په ښه خوی باندې پردی عالم خپليږي　　په بد خوی باندې خپل واړه شي سوا
« قلندر اپريدی »

که دې رنګ، بو، لطافت واړه دلځان کړل　　نور د ګل په خبري پاس په دستار ګرځه
« فاضل »

د ښه خوی ګټه ده ډېره　　له ګڼلو ترانده تېره
هغه څوك چه اخلاقي وي　　د هغه نوم به باقي وي
که دچا اخلاق ښه نه وي　　د هغه به ژوند ښه نه وي
د اسلام دين دی راغلی　　پيغمبر دی پا څېدلی
چه پوره کي ښه اخلاق　　او پر ځای کي دا ميثاق
په خويو انسان انسان دی　　که نه وي خو تش حيوان دی
مکارم انسانيت دی　　رذائل حيوانيت دی
« عبدالکريم کاکړ »

هر طرف پرې سره ځمکه سره پښته شي
په نسب که خان، نواب قاضي قضات وي

لکه کښت لره باران اوباد په کار دی

رب دې مه کړه د اخلاقو پلمه سپکه
بد اخلاق سړی نه ارزي په کنجله
« احمد گل الهامی »

د عالم تولی په خلق په احسان شي
« خوشحال خټك »

۲ - په ځان باور « او » همت :

چه فلك سره سر باسي
کړه ئې ندی بې حکمته

په همت کښې هغه زه یم
زه خوشحال دده په کړه یم
« خوشحال خټك »

په تېرو تورو ور دروي یکر ننگان
په له بو باندې ځان ولې پښتنگان!

د کنجکو قدر یو، د در ویل دی
ننگیالو سره څه ژوی بې ننگان

ار تگی د زړه دلیل د جنتی ده
د دوزخ دا ور لایق دی دلتنگان

د باد شاه په سلطنت پورې خندا کا
په سپېر وایرو لړ ابی ملنگان!

نور ماهی ئې تار په تار دروي له مخې
ماتوی لو اې بېړی نهنگان

دهاتې دپاسه سپور ورته پیکه وي
چه د مېو پیالې آخلي سر هنگان

څه د ځان صرفه اوس کار کوه خوشحاله
لکه کار کا پرهار ژاړي پلنگان

« خوشحال خټك »

چه په غوښو ئې روز گار هغه زمری یم
نه چه ولې ئې خوراك هغه مېږك يم

که عالم راته گل تا وکاغم مې نشته
په رښتیا ویل د دېرو پو لیو لك یم

په دانش په شعور نده په همت ده
چه دا هسې سر گردان لکه پټك یم

هر پښتون چه د مغولو نوکري کا
که دی زر، د هغو وادو بهترك یم

چه منصب مې د مغل خوږ يو ملك وم
چه منصب د مغل نشته اوس ملك یم

د فرمان د پروانې حکم ئې نشته
شکر داچه په خپل حکم په خپل وك یم

نه مې کار په خاص وعام نه په دیوان دی
نه په درو لاړ د هر یو ه مردك یم

نه تصدیق شته نه یادداشت شته نه توجیه شته
نه په فکر د سند نه د دستك یم

هر گیدی به چه له ما سر کوزی غوښته
د هغه د سر یا توره یا کوتك یم

پښتانه لره شړیء اندېر مې بس دی
نه په فکر د مسندنه د تو شك یم

آزادی ده په ساده سپینه جامه کښې
خلاص دغمه د زر بفت اود میلك یم

د وښو جونگړې هسې راته ښې شوې
وایی ناست په محلونو د آهك یم

که او گره د بټو شته په شړو مېو سپینه
د مغولو پولاو پاتې دېر برې دك یم

چه نیولی مې داهود دننگ ونام دی
که له خپلو هوده وا ودم کنیزك یم

په بل غشي تو پك هیڅ ویشتلی نه یم
که ویشتلی یم خو بیا په خپل توپك یم

چه ښهپر مې بڼی خیل وو کنډ کیرشول
پر وا دار په لنډو پرونو دبارك یم

د کریز بڼې مې توئي لکه باز کړې
گمان مه مه کړه چه بې پرو ښا پېرك یم

تف په زیره د همه وا ډو بسار کو
لا زما په زیره هم که زه بارك یم

که دواړو پښتنو را ته تسلیم دی  زه خو بیا دسبا کی انا خشتک یم
نن خو قام‌را سره ډېره جفا وکړه  کانده بیا د خدای وحکم و ته ځك یم
که څه حق یا دنیکی یا دوروری شته  و یا داش وته په طمع د هر یك یم
مهمندی زما دګډی لاس او پښې دی  راضی من دافریدیو یو په کومك یم
ډېر چینی چه تراوش وکا دریاب شی  چه ایده شم اوس خود ایم یو بولك یم
کړ لانی خړ بنی خو چه پښتانه دی  زه د ننګ په کار دواړو مشترك یم
که مې عمر په شماره تر شپېته تېر دی  لا په کار د سواری لکه از بك یم
د افغان په ننګ مې وتړله توره  ننګیالی دزمانې خوشحال خټك یم
« خوشحال خټك »

❀ ❀ ❀

حواله مې په تیشه د فرهاد شه ده  تر هغه چه نا هوار لکه خا را یم
تر هغه چه سرد جوشی د حنا وینم  خو ش په طور دمك بې دست وپا یم
« کاظم خان شیدا »

بار دهر خس‌وخاشاك په‌خپل ګردن ږده  حو صله دې په مثال د لوی دریا کړه
« کاظم خان شیدا »

راته یو دی بحرو بر  که څه سمه وی که فر
په همت به ئې تسخیر کړم  په شا ها نه شا ن وفر
« احمدشاه بابا »

ای مرزا په خپل اختیار له ځایه پاځه  دون همت اندېښنه مکړه بله بله
« مرزا خان انصاری »

که فلك‌ئې دزمری په‌خوله کښې ور کا  خدای‌دې نه کا چه‌عارف پکښې غارت‌شی
« خوشحال خټك »

څه‌هغه شهباز شه‌چه دې‌ځای په سردرو وی  نه لکه د کلی کارغه ګرزه غم دښ کړه
« خوشحال خټك »

که ئې ته په منت مومې وائې مه خله  که دچا په باغ کښې بوټی د کیمیا دی
« خوشحال خټك »

سر دې دروم‌ی‌مال دې درومی پت دنه ځی  د سړ ی د چارې کل خو بی په پت ده
چه‌یې خدای ور کاو چاشکرد کاندې‌ندې  په جها ن کښې لو یه بخر ه د همت ده
« خو شحال خټك »

علم تا بیائی په پورته جهل تا بیائی په ښکته  یا‌عیسی اره وردرو مه یاقا رون ته‌ځان‌سپاره
د نباتو حلوامه‌خوره چه‌منت‌ورسره مل‌وی  خپل کشکاب‌دخپل‌محنت خوره‌په‌سرراوده‌پشتاره
« خوشحال خټك »

❀ ❀ ❀

هغه ژ یست چه د عز ت له مخه‌نه وی  چه‌یې کا‌په هغه ژیست پورې هکك پکك یم
اوریې پوری په منصب په نو کری شه  چه تر فهم و تر نظر د مغل ککك یم

به خپل نام وننګ چه را شم لېونی شم
چه په طمع د او د و ز غلی و شست ته !
تر قضا پورې د هېچا چاره نشته !
لکه باز په لوی اوی ښکار زما نظر دی

خبر دار کله په سود او زيان دلکه يم
ګمان مکړه چه هغه نا پوه سمک يم
او کنه تر زاړه ذئب لا زيرک يم
نه چه ګرځی ګونګټ نيسی بادخور ګی يم
« خوشحال ختک »

❀ ❀ ❀

که دجام لکه حباب وه نه نيو سيند ته
آفرين دې په همت شيدا ختکه

« كاظم خان شيدا »

❀ ❀ ❀

په څو غره په غره دباز غوندی پرواز کا

بيا به وا نی د خوشحال ختک پر نشته
« خوشحال ختک »

ساقی جام دمېو مه پرېږده له لاسه
د بلند همت کښې پورته پورته درومی

څو دعقل څه زده وی لا به مست کښی
ښکته ښکته ځی سړی په پست همت کښی
« خوشحال ختک »

چه همت د سړی څو قدری هومره
دولتمن سړی هغه بلبلی بويه

د تميز په تله هر سړی تا له شی
چه له سينده نی جدا د چا واله شی
« خوشحال ختک »

نوره پښتو نخوا ه په ځای ميشته ده
که يی درست د هتو زور راته ښکاره کړه
عجب مار می چار و تلی تر دوه پښو دی
مست ها تيان خونی زمری په زنځير کښېږی
په خپل اومې باور شته اثر به و کا !
يو دوه سړی مارمی پروت په دواړو پښو دی

خو يو زه دی زمانی په کښې منصور کړم
نه به بيا په قوم کښې کښېنم نه به هور کړم
مګر لوی پاڼو پيداشی چه يه دور کړم
بويه دا چه ځان فلک وته تر پور کړم
رقيبان به اور لړ ونی دتنور کړم
په ديدن يی له نشاط نه نفور کړم
« خوشحال ختک »

کار په خپله تر دستی لکه حباب کړه

چه محتاج دخياط نه شی پير هن ته
« كاظم خان شيدا »

د باښی دباز نصيب شوی تازه غوښی

دوچ در بو بيخ نصيب شود سپهر کندي
« مطيع الله »

وزی تېزی پروت په خپل پوز کی ښه نې
دمنت پو لا ودې زهر شه که نې مومې

نه په تخت دپا سه نا ست دبل کره
د محنت سو ی سکرک د ساګې سره
« عبد الحميد مهمند »

که د توان رسی به لوی درياب کښې ګرزه
عاقبت به ککری ور با ندی کښېږدی
هغه يار که په پالنګ را سره نشته
دعمزي په تيغ نې خوږ ښه نې خوشحاله

په بيله کښی دې زوال ويښم نهنګه
تر ځراغ چه کېږی وښی ګرځی پتنګه
داهم شکر چه نې بوی ځی له پالنګه
مړ نی به روغ صورت نه ځی له جنګه
« خوشحال ختک »

که غوټې پسې وهې په لاس به در شي
چا وي دا چه په دریاب کښې گوهر نشته
که د جنگ په کار کښې ډېر دي حکمتونه
خو صفا به در نشي ز لمیه ظفر نشته
څه عجب بادشاهي لکه خورشید کړم
یکه تنها په جهان گرزم لشکر نشته
د منت دارو که مرم په کار مې نه دی
که علاج لره مې را شي مسیحا هم
« خوشحال خټك »

راشه گوره نامردان بلا و هلي
د ډېرې میدان ډېر پېښ دي لرې تښې زغلي
د آسمان د پاسه گنبت ننداره نکاه
کوز د خمکې د تلې په مینځ کښې هلي
مړ هغه چه نوي نوم نه یې نښان شته
تل تر تله په ژوندون یاد یې ښاغلي
څوك په خپل پتې کړل کاد اغزي و
چا په خپل پتې گډو نه دي کړلي
پسینه کړنه هومره فایده نکا
چه په وخت کړ نه و کا پر آ خلي
چه محنت په ځان قبول کا راحت موی
رنج و گنج سره دا دواړه دي تړلي
« خوشحال خټك »

بنسیاد د چارې په مصلحت دي
بنیاد د مړ دانو په همت دي
چه سره یو شي دا دواړه نو که
وامه دولت دی حرمت عزت دي
« خوشحال خټك »

مردان هغه دي چه همتناك وي
دننگې په کار کښې چست و چالاك وي
کار چه آغاز کا انجام یې فرض گڼي
په زړه هم پاك وي په خوله هم پاك وي
« خوشحال خټك »

چه په خپل دخپلو وینو سر خرو گرزم
څه منت به دد و نانو د دنیا ر کړم
چه په وازه خوله موندې شي مه یې وینم
که صدف غوندي حاصل در شهوار کړم
« عبدالقادر »

که د مځکې غوندي کوز په تواضع یم
په همت تر واړه پاس لکه آسمان یم
« عبدالقادر »

چه همت دې دتیوس دی ځان بازمکړه
ځان په رسم د جانباز و جان باز مکړه
« عبدالقادر »

هر سړي په موافق دخپل همت نظر ارینه
په وړو چارو هیڅ کله گټه نکاندي لوي چاري
« عبدالقادر »

مردان هغه دي چه همتناك وي
په هره چار کښې چست و چالاك وي
چه غم پېړي را شي پروا دغم نه کا
خوازه له هر چا په زیست وژواك وي
« خوشحال خټك »

چه په شان د آفتاب ندی گرم رویه
ستا په سر کې په سایه دهما خوښ یم
« کاظم خان شیدا »

چه همت مې نه کا ډېر په هسکو او
لکه موج نکړمه بیم له پسو پسو تللو
سوال مې خوی له در افشانه ابر ندی
صدف ورانه خپله خوله کړمه په غوښتلو
د آفتاب په کمند نه خېژم آسمان ته
نه زدم بار لکه شبنم پر دوش د گلو
« کاظم خان شیدا »

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳ـ امید :

د شپې ځېټن دې سحر ته ګوري
هېڅوک دې طمع امید پرې نه کا

ګوندې پسرې و خېژي د صبا ستوري
باران به تېر و کښېنو نو اوري
« خوشحال خټك »

له مقصوده نا امید مه شه یکلخته

خدای به ځمکه کامرغونه د هوا پېښ
« عبدالحمید مهمند »

دادستور دی چه شپه و لوېږی په ځمکه

په شتاب ور پسې صبحدم راځي
« عبدالحمید مهمند »

په ژوندون به لکه شمع دلسرد نه شم

چه تر مرګه پورې زما جانګزاري ده
« کاظم خان شیدا »

هر ګره ګره کشالري نیکبخته

نا امید له خدایه غو ته جبین مه شه
« عبدالرحمان مهمند »

٤ عزم او توکل :

دهوشیارو نادان هومره تفاوت دی
که په مابانديځر خوری پروايي نکړم

خو دځمکې د آسمان په مینځکښې وت دی
دهر هر کله دانا سره په نښت دی
«خوشحال خټك

نه رسي تر یاره هر چه ډېري اندېښنې کا

نورې کېسې مې بېږده دعشق په تو کل هسې
«خوشحال خټك»

هغه باغ چه تل ما واده دبلبلو
دزړه راز و چاته ووایم حیران یم
تو کلت علی الله و ینا یوه ده

اوس په ده کښې د بلبلو آواز نشته
په هر اوری چه نظر کړم همراز نشته
د خوشحال دزمانې سره ساز نشته
«خوشحال خټك»

په پرېشانو اندېښنو خاطر پرېشان شي

جمعیت هومره خاطر له تو کله
«عبدالقادر خټك»

٥ ـ جد وجهد :

په طلب کښې دې ستې وینم درویشه
نعمتونه رنګارنګ دي په هر لوری
خو طلب هومره موېدل دی په دادور
د عسلو خوازه کله هغه مومي !

چه و تلې یې ددې خونې له ویشه
په غښتونې با نه دې نده جفا پېښه
بلکه لا تر طلب بخره مومي بیشه
چه حذر کا د مچې له باده نیشه
« خوشحال خټك »

عشق چه ډېر ولې به تېر انداز شي
کار د محنت دی د مشقت دی

چه مشق دخط کړی وخط به سازشي
ورو ورو به هر هنر ممتاز شي
«خوشحال خټك»

هر مرغه چه دبل غوښې خوري مردار دی
دذري په خير دلمر په طلب ګرځه
کار به تش لستونې نشي بې دلاسه
چه تقوی د يانت نلري رحما نه

ځان حلال کړه لکه زانه شاهین مشه
لکه تیزه هسې پروت په زمین مشه
لاس په توره کړه بې لاسه آستین مشه
د دې هسې همنشینو نشین مشه
«عبدالرحمان مهمند»

چه زمری خپلې منګولې نه کا کښلې    هومره نه وی خړبې غوښې ورته لې
مرجونړا درو مرجان هله ولجه کا    چه قبول کاندی د بحر خونی چلې
عاشقان چه ترسره تېرشي هله ښکار کا    دا ابرو پسې خولې لکه جلې
بازچه والوزی له جاله هله ګوری    د کبکانو ښایسته ستر ګی کجلې
چه داور بخری یادسره رفیق شي    بیا هاله کا په ملکو نو لمبې بلې
چه سیلاب دغره دسره نه روان شي    بیا هاله بیاني په مخ دپري خخلې
«خوشحال ختك»

* * *

په تحصیل پسې یی څکه کوښښ بویه    خپل هنر له لاسه مه پرېږده خوشحاله
«خوشحال ختك»

چه تورده ترخه قبول لکه دریاب کا    هم هغه د قیمتی د ر و صاب شه
چه لمبه یی د آتش کره په ځان تېره    له هغه پسه د ګلا بو ګل ګلاب شه
د کمال کسب پیا په دسعا دت ده    هغه بنه چه د کمال په اکتساب شه
نه هم زده مراد وغواړه له عمله    چه په علم یی عمل وکړ کامیاب شه
«خوشحال ختك»

ښادی عم غوندی آسانه موندنه شی    سور په خپلو وینو لعل د بدخشان دی
«عبدالرحمان مهمند»

زرنده هله خه حاصل کاندی چه ګرزی    یو زمان قراری مکړه له طلبه
«عبدالقادر ختك»

له آزاره چا بازار مو ندلی ندی    له انګاره چا ګلزار موندلی ندی
تلوار مکړه په خپل وار به برخه درشی    بی له واره چا خپل وار موندلی ندی
په قصور مطلب موند نه شی پسی پاسه    له ګفتاره چا کردار موندلی ندی
«مطیع الله پیر خیل»

کار کوه کار په کار هم کار دی    ناوان په ځان باندې خالی ګفتار دی
عقل څه بل دی خبری نور څه دی    ګو تره ګوینګه طوطا طرار دی
«عبدالقادر ختك»

لکه عامل شوه د خا ورو لاندې    عمل هم ورك شو په مځکه باندې
او س په خبره بوول و بل دی    دا بیت بازی دی عالم یی کاندی
«عبدالقادر ختك»

کله به لا دروی له ماي دسحر خوبه    خوب بیغمه نه کا چه په مځکښ یی منزل دی
«عبدالقادر ختك»

چه منت په ځان قبول کا او راحت شي    چه عارف د مصیبت شي عافیت شي
«خوشحال ختك»

## ٦ ـ صبر او استقلال :

غشی چه ډیر ولی ښه تیر انداز شی    چه مشق د خط کړی و خط ته ساز شی
کار د محنت دی د مشقت دی    ورو ، ورو ، په هر هر هنر ممتاز شی
« خوشحال ختك »

مړ نېږي د هر چا نند ی سره سمي … دخرد بار د فیل په شا باندې مثقال دی
نه چه لا فی د مردانو د میدان کړي … په میدان دی کوم راوړي استقلال دی
که همه خلق یې سنز شه په خندانه … بېچاره خوشحال په خپل هنر خوشحال دی
« خوشحال خټك »

دغرد چه صبر چه استقلال نه دی … چشم پری راشی پکښې خوشحال نه دی
مرد ی یې هیڅ ده و زما په بوهه … که یې په جاه ودولت شوك سیال نه وی
« خوشحال خټك »

اضطراب به دې خلاص نه کا له غمه … مستقل و ر ته په صبر و تحمل شه
« عبدالقادر خټك »

په تاکه را شی خاد ته لو یه … تېښته تسلیم صبر ته بو یه
ته به یې دفع په صبر وکړی … نه په لښکر و په زرا و زو یه
« خوشحالی خټك »

صبر و نیسه په نخکښې که مراد غواړی … هیڅ کړی دغه کار په شتاب ندی
« عبدالرحمن مهمند »

ای حنانه صبر وکړه مراد به مومی … د فلك زر نده به وا رده پس ، پیش
« مرزا حذن »

خلاص به نه شی سرکشان له گوشمالی … چه فلك په جهان شته دی تلوار مکړه
« کاظم خان شیدا »

دا نا یی مه گڼه چه صبر نه لري … چه صبر نه لری حکمت به څه لری
سړی د صبر به کار کښې و زمیه ! … چه صبر ناك وی هر څه به بیه لری
«خوشحال خټك»

صبر ناکو سره جور فلك نه کا … د فلك جو ر د چا چه سبکسار و
« خوشحال خټك »

ژوندی که گرځی خان یې ژندلی دی … تو ر زن د سر به ویڼو لږ لی دی
چه صبر نه لری ظفر به نه مومی … ظفر له صبر ه سره تړ لی دی
« خوشحال خټك »

شورش مکړه د گردون له کش مکشه … اومه کلکه کا مرغی له اضطرا به
« اشرف خا ن هجری »

۷ــ د وخت اهمیت :

دو باره دې را تله نشته په د نیا … ن دې وار دی که دروغ کړی که رښتیا
هرڅار چه تروخت تېره شی عنقاشی … عنقانه نیلی په دا م کښې د هیڅا
تر ورخ تېری او به بېرته نه جار وزی … نه جار وزی تېر ساعت به بېرته بیا
تېر ساعت په مثال مړی د لحد دی … مړی چاری ژو ندی کړی په ژړا
هره نېښه چه صحیح گڼه به زړه کښې … په غر ور به هغه نښه کړی خطا
په عمل د نیکو بدو فهم و کړه … چه به دا کښې دې بهبو د دی که بېدا
« عبدالرحمان مهمند »

چه بې وخته ارمان کا به وخت به دې موی

د هغه عالمو ز ېرې د و ښکو دی
« عبدالرحمان مهمند »

که د پېره سعیه کوښښ کړی څه شی
که هر څو مې په بېړۍ ملاح کا

په وخت چه نه کړی بی وخته څه شی
په ټانګې چه کښېنوزی پوری هاله شی
« عبدالقادر خټک »

آبشاره ! ولې دا هسې ژاړې !
کهٔ تل فریاد کړې په کاڼو سروهې !

له چا فریاد کړې څوک بسی غواړی
بیابه را نشې او به نچه لاړې
« عبدالقادر خټک »

کړل دی ویل دی دواړه اوان لری
چه کار د نن ورځې پر بېګه دې صباته

چه وخت یې تېر شی افسوس ارمان لری
هو ښیار به نه وی دا خوی نادان لری
« خوشحال خټک »

٨ - زړه

شه سړی پردی بدلاسا په نیکی خپل کا

کومه ښاغلیاده چه څوک بد کا زړه دیار خپل
« خوشحال خټک »

یو زړه د خوشحال ندی چه جهان پکښې ایده شی

د هر چا زړه مرآت دی صفائی ورله بویه
« خوشحال خټک »

دواړه ښکو نه لکه تن دی
زړه بی چون او بیچگون دی

کار د تن جوړوی زړه
څوک دا غوښه ګڼی زړه
« خوشحال خټک »

څو دې زړه خاندی خوله دې خندا کا
مدار د هر چاری په زړه دی

چه زړه دې ژاړی سترګی ژړا کا
زړه دی مفتی دی هزه فتوی کا
« خوشحال خټک »

د نازکدلو اطوار مشکل دی
.. هم بی ننته ګنډل یې هم لا

په دا به یوه شی هر چه عاقل دی
که زخمی شوی د مینا دل دی
« کاظم خان شیدا »

ماتېرو سوځه په داور کښې شراب وڅښه

درته وایم خو د زړونو آزار مکړه
« عبدالرحیم هوتک »

که هزار ځله تقوی په هغه ګاری کړی

شه دې نشته چه مدام دل آزاری کړی
« عبدالرحیم هوتک »

قلب د مومن ګوره ملقب په عرش الله دی

زار زار جوړ نو چه د زړه په بازار بلوسی
« دالپوری حافظ »

چه زړه د نو دنیا ځلو به پروا وی

تږو که زړه د سړی پوسی څه ښکار
« عبدالرحمن مهمند »

و ګوری واړه کاروبار خپل کا
خو کښې چه آرام ګتی د ښکو نام ګتی

مردان هغه دی چه کار د بل کا
د خو زو ژړو نو دارو به تل کا
« خوشحال خټک »

نه سره سم دی و اده مړو نه ! نه سره سم دی دهر چا زړو نه
زړه هم هغه ګڼه چه اکثر غرشی که بیا ئې راشی هزار غمونه
«خوشحال ختک»

مرهم به زړه‌زده ډیر هارونه دا نیا به ګل کړی نادان خارونه
په هره سوړه لاسونه مه منډه یککښ به خوب کا خونی مارونه
«خوشحال ختک»

زړه دی دهر چا سره صفا وی په‌چا ګرم مه‌شه که‌دې رضاوی
که‌څوک ئې ناحقه اتا پرخاش کا اند وه ئې مکړه ظفر به ستاوی
«خوشحال ختک»

### په بدن کښې دزړه اهمیت

زړه په مثل د پادشاه دی هر اندام د ده سپا دی
ټول د ده فرمان بردار دی دی بادار دوی خدمتګار دی
کل اعضا ئې مسخر دی د ده حکم ته مضطر دی
په فرمان ئې خوله ویل کړی لاس نیول ، سترګې کتل کړی
په بدن کښې ګوشت پاره ده چه څکو چنو ئې جثه ده
چه وی راست شی راست بدن شی چه فاسد شی فاسد تن شی
پس چه شو صلاح فساد د تمامی په زړه بنیاد
تمدام اصلاح دزړه کړه په هیڅ وخت غفلت مکړه
زړه په مثل ګنجینه ده د ګوهر و خزینه ده
ډیر پکښې دی جواهر قیمتی نفیس نادر
اول عقل ښه ګوهر دی د جمله نعمتو سر دی
بل ګوهر ئې معرفت دی زیات تر نورو په قیمت دی
نور علمو نه حکمتو نه واړه دی اوی نعمتونه
چه زړه هسې خزانه ده د ګوهر و ګنجینه ده
پس لازم ئې ده ساتنه له جمله ؤ غلو ر هزنه
چه دښمن ئې تالا نه کا جواهر ئې یغما نه کا
«حبیب الله کاکړ»

چه‌غرقاب‌شی نورمژګان په‌نم دزړه نورخراب شی خانمان په دزړه
عبث‌وای غم دزړه وبوالهوس ته څه‌پوهیږی هلکان په غم دزړه
په بل مخ باندې سوا د یار له مخه ما ترلی دی چشمان محکم دزړه
چه‌ئې‌عرش او کرسی لاندې‌تر‌قدم‌دی بالا تردی هسې شان قدم دزړه
دخلیل له کعبې ۱۰ کعبه ده اوبه که‌آباد کاڅوک ویران‌حرم دزړه
که‌نور خلق قدمونه ږدی په مځکه مادی ایښی په آسمان قدم دزړه
دامکان‌چه‌دآسمان مځکی‌ترمیان‌دی په خلوت دی دامکان سلم دزړه
زه مرهم دزړه له‌چا غوادم بې‌یاره چه کړی نشی طبیبان مرهم دزړه
صورتی همدان ډیر دی په دنیا کښې ولې نه مومی رحمان همدم دزړه
«عبدالرحمن مهمند»

همیشه په ځای د شکر شکایت کړي!   منکر ږدي په عطا د سبحان و ای!
د ربولي خدای د هر چا چې توان دی   په هر توان کښې خپل ځان بولي ناتوان ولي!
زده دنفس په پیروي درځه لاړو   د خبیث په لاس دي ورکړو قرآن ولې!

«رحمان»

بنګ شراب سرود کوه عبدالقادره!   خو یو مکړه آزرده د مسلمان زړه

«عبدالقادر»

مرده دل دي له تقره زړه بیرون کا   یو ساعت په کور کښې نه پرېږدي خوک مړي
جمعیت چه لدنیا په دنیا غواړي   هغه غواړي په معنا د شګو پړی

«عبدالقادر»

هر څوک چه یو کا زړه خوله خپل دواړه   دو یم په نیت شي ثابت له واره
که کمي ورغی په دین د نیا کښې   تاوان یې واړه وزما په غاړه

«عبدالقادر»

هغه چه ستادي چه یې سائل نکړي   ویره مې کیږي چه یې دبل نکړي
که دادې خوی دی دادې خصلت دی   خپل به پردی کړي پردی به خپل نکړي

«عبدالقادر»

چه زړه له تا نه د چا نه کیږي   نه کړه دعا ګټه د عا قبلیږي
ازار د هیچا د ا خستو نه دي   نه پرې د خوږو زړو نو لګیږي

«خوشحال ختک»

لټو مه ګنج د زړه په ویرانه کښې   پرواګلرم د شهر په عسس

«شمس الدین کاکړ»

زړه ولاړ شو اوس یو وار بیا ولاړ نه   لکه چیر ته لښکر دروي د سلطان دوست

«مرزا حنان»

زړو نه مه ماتوه لعل د بدخشان دي   بیا مشکل دي رغول د شکسته ؤ

«خواجه محمد بنګښي»

چه بهتر تر در ګوهر دی هغه زړه دی   چه پراخ تر هر کشور دی هغه زړه دی
مکرم په مخلوقاتو کښې انسان دی   په انسان کښې چه بهتر دی هغه زړه دی
کم یې مه بوله بېحده مشرف دی   چه د خدای باندې نظر دی هغه زړه دی
د مکې حج خو موقوف په یوه وخت دی   چه مدام حج اکبر دی هغه زړه دی
که هر څو یې صفت وکړم څه به وکړم   چه تر حده صفت بهر دی هغه زړه دی
د زړه شان خو یو بېحده عالي شان دی   چه تر ډېر خوبو خوبتر دی هغه زړه دی
سرچشمه د معرفت د لوی دریاب دی   چه محل د در ګوهر دی هغه زړه دی
څه سیالي به نیشکر ور سره کاندې   چه شیرین تر نیشکر دی هغه زړه دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا د خولي په وړل حکم دقاضی دی
چه ظاهر وباطن دواړه پري رو ښان دی
هیڅ اشیا یی لـد فتره بیرو ن نه دی
زه نبی به یی ئـن کم هنر بیان کړم

چه مقبول دخدای په در دی هغه ژبه دی
چه دا هسې بلند لمر دی هغه ژبه دی
چه د درست جهان دفتر دی هغه ژبه دی
چه منبع د هر هنر دی هغه ژبه دی
« عبدالنبی »

دلجو ئـی به دي تمام و ګړی و کړی

کـه ته هم د د لجو ئی په جستجو ی شـی
« قلندر »

داپند له مانه په زړه کښي یاد کړه
ژبه نه د هر چا په احسان ښاد کړه .

خو د ي لاس د سـي مر و ت د اد کـړه
آز اد بنده کړ ه بند ه آز ا د کـړه
« عبدالقادر خټك »

٩ ـ ژبه

فولا دی تو ره وی که لوپه تبه !
ډېر یی بلا به د ر خته وا و ړ ی

تر دا لا بـه ده بد ګو یه ژ به !
ژبه که بده کـړ ي د پند طا لبه !
« خوشحال خټك »

په واك چه نه اری په کـام کښې ژبه
په بده ژبه ځا ن ځی جهـا ن ځی

که ګـنګـك شی ښه دی په لویه تبه
ایمـا ن لا هم ځی و ا وره طا لبه !
« خوشحال خټك »

خوږه مړی ده کـه خو ږه ژ به !
هنر هم دادی کـه دا هنر اري

چه خولا پري خپل کـړی زما صاحبه
چـار به دي تل وی تر سیـا ل غالبه .
« خوشحال خټك »

که هر څو ډېر یي تـر صحبتو نه
لا به یه ژ به ډېر فهم و کـړ ی

عـلـم اد ب لـر ي فصـا حتـو نـه
د ژ بي ډ یـر د ی فـبـا حتـو نـه
« خوشحال خټك »

ژبه عـا دت کـړه په ښه و یلـو
کـه یی عـادت کړي په بد ګـوئـی

چه د ي عـا د ت شـی هغه تـر تلو
مخ به دي تور کـا تر پر د و خپلو
« خوشحال خټك »

په مر هم دخوشامند سره روغ مشه

هغه زړه چه پـکښې تیغ دژبان کښیني
« پیر محمد کـا کړ »

په مجلس کښې دمهرویو څـکه زاړی

شمعې هم ځـکـا ره کو له بله ژ به
« عبدالله یوپلزی »

هر سړی چه شی ګـو یا لکـه قلم

سر به یی شی له تن جـدا لـکـه قلم
« عبدالله یوپلزی »

درست عالم په داخبره خبردار دی

چه بلبله خپلې ژ بې په قفس کـړه
« خوشحال خټك »

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلامت کاروان به تېر کړی له رهزنه
که جرس رنګه نه کړي په غوغا ژبه
« ملاجمعه »

که تازی ژبه هر ګوره ښه ده
چا یی پلو د جمال وانه خیست
فارسی هم ډېره په خوند خوږه ده
پښتو لاهسې بکره پرته ده
«خوشحال ختک»

ژبه په تن کښې څه عجائبه ده
چه ښه مې تحیر کړ ښه ډېرې خبر شوم
صحت هم ژبه ده ژبه هم تبه ده
جنت هم ژبه ده دوزخ هم ژبه ده
«خوشحال ختک»

جنګ د هاني او مزري آسان دی
چه خپله ژبه یی په خپل فرمان کړه
د خپلې ژبې آفت لا ګران دی
هم یی رستم ګڼه هم لا لقمان دی
«خوشحال ختک»

که څوک نیکان دی که څوک بدان دی
مه یی ستاینه کړه مه یی غندنه
په دا دنیا کښې چه په هر شان دی
نه به یی څه کړې چه د خپل ځان دی
«خوشحال ختک»

د هوښیارو ژبه پټه وی په زړه کښی
لنډ او ډېر ویل به نه کاندې بې ځایه
راز به نه وایی اشنا وناآشنا ته
هیڅ باطل ویل به نه وایی و چاته
«خوشحال ختک»

ژبه عادت کړه په ښو خبرو
د خوند مثال یی شکری وایم
خبری ښې دی ښه تر شکرو
قدری د ډېر دی تر مرغلرو
« عبدالقادر »

لکه وهی له میدان ګوی داخه ژبه
نه یی شي وهلای په تېره کړی شمشیر ګوره
« عبدالحمید مهمند »

که دین دنیا غواړې پرده پوشی کړه
که نه خاموش یی نه پرده پوش یې
فتنې له خولې پاځي نو خاموشی کړه
بېخوده پر یوزه باده نوشی کړه
« خوشحال ختک »

سخی یی مه ګڼه چه نن یی خوار نه وی
که دانشمند وی تفسیر یه یاد لولی
باتوری مه بوله چه پری پرهار نه وی
چه ډېر ویل کا دی به هوښیار نه وی
« خوشحال ختک »

ښې خبرې در ګوهر خاموشی مهر
دانا تل ځکه په خوله د غه خاتم زدی
« عبدالقادر ختک »

د میرو میره دخانو خانه
دا رنګ لویی په هاله روزی کړی
د جهانیانو جان او جهانه
که وې نیکنیته او نیک زبانه
«عبدالقادر ختک»

بحر خاموش دی سیلاب غرغر لری　　سیلاب تش لاس دی سینه امن یولری
دسیلاب گېډه دکاڼو ډکه ده　　بحر یه گېډه کښی قیمتی در لری
«عبدالقادر خټك»

لهخامی جوش وخروش څېڅی لهدیکه　　دی له خیلې پختګی پختګان چپ
یه ابو بهدي ډیوه شی دمراد بله　　کهصدف غونډي پهصبر کړي دهان چب
چه دانه پهخاورو پټه شی خوشهشی　　یه کو ګل دننه وساته ارمان چپ
دبلبلو ناري ښې نهدی یر ګلو　　چه پهسرولمبو کښی سوځی پتنګان چپ
لکه کاه او کهربا چه سره بولی　　هسې پټه خوله بلل کاندي یاران چپ
«عبدالحمید مهمند»

سپین ویل دحق کوه عبدالحمیده!　　کهیه زبه اویزان شې لکه صبح
«عبدالحمید مهمند»

تماشا دزماني کوه عظیمه!　　مه له خولې نهخه وباسه مهخه وایه
«عبدالعظیم رانیزی»

صافدلان له ګفتګو یه خفه کېږی　　شی نفس دآئینی یرمخ غبار سخت
«مرزا حنان»

۱۰ اخلاص:

ګوره څه بلند مقام دی د اخلاص　　چه جهان وایه غلام دی داخلاص
کهله ځمکې نه اسمان تهخاته ګران دی　　د اسفر یه یوه ګام دی داخلاص
چه خبر کا مخلصان له علم غیبه　　داهمه وایه الهام دی د اخلاص
در واج د رسم عمر مدام نه وی　　لکه عمر چه مدام دی داخلاص
بی اخلاصه حلاوت د اسلام نشته　　که اسلام دی خو اسلام دی داخلاص
څهعجب دی کهمستان وی تری چاپېره　　هرساقی څخه چه جام دی د اخلاص
څه عجب دی که همای یه دام نښلی　　هر صیاد څخه چه دام دی د اخلاص
درحمان کلام یه داسبب شیرین دی　　چهیی هر کلام کلام دی د اخلاص
« عبدالرحمان مهمند »

هرباغی بوزې بنده کاندي اخلاص　　هر بې شرم شرمنده کاندي اخلاص
آب وتاب یی عالمګیر لکه افتاب شی　　هرجبین چه تابنده کاندي اخلاص
هیڅ یروایی دحیوان یه اوبو نهشی　　هغه زړوی چه زنده کاندي اخلاص
هیڅ مقراض یی غوڅولی یه خوله نهشی　　هرپیوند چه پائنده کاندي اخلاص
هغه کار چه سحر کړ کاندي پهسحر　　تر هغهیی څوچنده کاندي اخلاص
سند لاسه زوړ کافر دلو کاوو　　واسلام ته خواهنده کاندي اخلاص
دنفاق له اهلهځ ن ژغوره حمیده!　　یهلباس بهدي ګنده کاندي اخلاص
« عبدالحمید مهمند »

هرباغی او هر سرشوخه هربی شرمه     همه واړه شکسته کاندي اخلاص
په نیکه نوم به عالمگیر لکه افتاب شی     هغه څوك چه همیشه کاندي اخلاص
دنفاق دشپي تیاره به رڼاورځ کا     چه سحر غوندي خنده کاندي اخلاص
که بي پښولره راتقی ملامت یم     که انسان لهدرنده کاندي اخلاص
« شمس الدین کاکړ »

## ۱۱ ــ راز ساتل :

چه بل خبر کړي د زړه . را ز یه     هوښیار به څه یی و ماته وایه !
هرچه هوښیار دی هنر یی دادی     خبره نه کا چا ته بی ځایه
« خوشحال خټك »

دباد شاهانو به راز خبرمه شه     که یې خبر شي ځان ته غاورمه شه
رازیی دزړه په صندوق کښی وساته     په ښکارول یی چاته لر برمه شه
« خوشحال خټك »

که چاته و کړي دزړه خبره     تا کبد پېري و کړي چه وبی نغره
کهدي خپل ځوی وی گمان پري مکړه     چه به یی نه کا چا ته ظاهره
« خوشحال خټك »

که پېځایه زرکي نه وښکي آواز     نه صبا د ځني خبرو ، نه شهباز
سکه لیه دي خبرېمسي معلومېږي     چه خپل صوت دی هر سړی لره غماز
دمنصور وحال ته گوره حال ئي څه شو     خدای دي فاش دهېچا نه کاندي پټ راز
دربغه دربغه که وروستي عقل دومبی وای     دانجام خبري نه شی په آغاز
چه منکر پري اعتراض کولی نه ئی     دا دشعر دی رحمانه ! که اعجاز
«عبدالرحمان مهمند»

ته چه مایوښتي دیار له حقیقته     څوك دیار خبري کاندي واغیار ته
«عبدالرحمان مهمند»

خاص خلوت دښکلیو عام په وخت دخط شی     کم فوت سړی لههرچا سره راز کا
« عبدالحمید مهمند »

ځای به ځای به ستا دمال حساب کاوه شی     خپل اسباب د کاله مهښیه مزدورته
«عبدالعظیم رانړېزی»

هوښیار به هر کله زمانه سازوی     په دانائی به یی د کار اغاز وی
نادان به هیڅېری په داخبر نه وی     پههرهر کار به یی پېځایه راز وی
« خوشحال خټك »

زړه بېځایه مه را باسه و بازار ته     وایه نشی په کو څو دخلوت راز
«عبدالله یوپلزی»

منصور راز ظاهراومسوئی تهوخوت     د خلا خبري کله په ملا شی ؟
« دالپوری حافظ »

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۲- زر:

اوس په دا دور ما ولیدل خوازه دی
نورو چار وو ته څه گوري دا گوره
څه که څه چه د آسمان شایست په زر دی
شاهزاده بی زرو گوښی تنها گرځی
زور، قوت، حرمت هوري دروي چه زر وی
هر مراد چه د سړی وی په دنیا کښي

تر پدر تر برا در تر پسر زر
چه صاحب د مسلمان کا کافر زر
ستوری زردی آفتاب زردی قمر زر
د هندو سره روان کا لښکر زر
د پادشاه په سر خوك کښېږدی افسر زر
د طلب په وخت یی ور کا در بر زر
«خوشحال خټك»

په خالی کیسه به نرسی تر کامه

څه حاصل که بوعلی شی په قصو!
«خوشحال خټك»

که هر څو مشکل کارونه در ته پیښ شی
ماچه ولیده خوازه دی په دنیا کښي

فکر مه کړه چه آسان به په زر نشی
خوسړی دې یی په مینه کا فرنشی
«خوشحال خټك»

که پښتوی په اوریخ کښي هم تر میاشتی امر تېری کا

همه عالم خبردی چه زر ښه دی له درمه
«خوشحال خټك»

زردی چه ز پرمه دننگ وشرم کا
د ېر گران کارونه په زر آسان شی

صحبت د هرچا و بله گرم کا
زر په فولاد کښېږدی فولاد هم نرم کا
«خوشحال خټك»

زردي هرچاته اعجاز معلوم کا
وینځه میرمن کا خادم مخدوم کا

معدوم موجود کا موجود معدوم کا
زر په سندان کښېږدی سندان هم موم کا
«خوشحال خټك»

بادشاهان ښه دی په خوانو زر ښندی
زر سر دا دواړه تو گو ډېر گران دی

خوانان پري ښه کا چه ورته سر ښندی
یو یوی و ښندی نه یی هر یو ښندی
«خوشحال خټك»

زر په بده ورځ په کار وی
د زر دار بلا په زرو
چه سپروی گذار په سپر شی

هوښیار څکه ساتی زر
د نادار بلا په سر
چه سپر نه وی لاس شی سپر
«خوشحال خټك»

چاوماته نصیحت کړ چه زر ښه دی
چه په کور کښي خزانې لری د زرو
هر بادشاه چه خزانه ور څخه نه وی
هر سړی چه په نام لوی په دولت کم وی
په امثال یی دهغې مرغۍ مثال کړه
گوره مادهغه څرنگې خواب ور کړ
ماوې مرد لره خونام بویه نادانه

تو اول به کا د زرو چه خبر دی
هغه کس که یك تنهادی زورور دی
عاقبت ور څخه تار پتار لښکر دی
په معنا بدر نگه ښځه سپین خادر دی
چه سینه یی کشاده تن یی لاغر دی
پري په بوه شی هر سړی چه دا نشور دی
نه د زرو تولول چه بد هنر دی

که هندوخته انبار انبار مهران وی
په مهرانو به ښه نه شی مختصر دی
که په خره باندې دزروصندق بار کړی
خر به هیڅ پداښه نشی خر خوخردی
چه هنر یی دلویی وینویه لاس کښې
دهغه وجود پارس شو واده زردی
«خوشحال خټك»

ځکه نوم یی دزهب وربانديې کېښود
چه دباد غونديې هردم کا گذرزر
«عبدالقادر»

که زده سخی اری چه مال یی نه وی
په ځان مې وليد څه حال یی نه وی
که باز داواده هنر د ښکار لری
ښکار به په څه کوی چه بال یی نه وی
«خوشحال خټك»

## ددولت اهمیت

ژبه هم ښه وینا کاندې چه یی وینه
دخاوند په لاس کښې زراو درهمونه
ژبور ور له ورځی وینا یی اوری
ددرهم خاوندان تلوی په ویادونه
که درهم یی ځنی ورك شو شی نتلی
پر ژړی یی وی په خرو پېژندونه
که بلدای سونمی(۱)وبولی خلق وایی
داوینا ده رښتیا ینه له رښتـو نـه
که بې وزلي ووایی ر ښتیـا خبره
نور خووایی دخوسونمی دی تېرونـه
هو، درهم ښندی هرچاله لویـه برخه
ددرهم دخاوند هرځای پرتمونـه
درهم ژبه ده که خوك ژبور کېږی
ده وسله که خوك به کاندي قتالونه
«ابو محمد هاشم ابن زیدالسروانی البستی المتوفی ۳۰۰هـ»

چه نیستګاره شی که ځوی داحمدشاه ئی
ترتازیات په دبدبه دی تا کرداس
«عبدالله یوپلزی»

❀ ❀ ❀

۱۳ ـ خپل قام :

هر سردارچه دخپل قوم دبدوخیال کا
آئینه دې دخپل ځان حال دجمال (۲) کا
پرې کوی ترخپلو ښو لاندې ښاخونه
چه بدی دخپل عزیز په زړه نهال کا
عاقبت هغه سردار شی مردار پاتی
چه یی نفس دخپل بدوته لېوال کا
چه دبل و سرو مال وته هوس کا
ترهغه پخوا به ورك خپل سرومال کا
هم هغه به یـکښی پر بوځی دامتل دی؛
چه وبل وته کوهی کښی وبال کا
دهغو په خونه پیښ جنګ وقتال شی
چه هوس دچا دجنګ و دقتال کا
چه له خپلو لاس و پښو شی بېمجالـه
له غنیم ـ سره به جنګ په کوم مجال کا
په پردو مړانه نه کـېږی بی خپـلو
له لحده دااراز جمال جلال (۲) کا
چه تر خپله حده ښه غزوی وړاندې
زمانه به یی جمال غوندې پایمال کا
پردی نجره هیچـاندہ خپله کـړې
بلکه خپله به پرې بایلی چه داخیال کا
« عبدالحمید مهمند»

---

( ۱ ) لغات ؛ سونمی : دروغ

(۲) جلال اوجمال دوه نومونو ته اشارت دی . «خادم».

## ۱۴ ـ وطن :

دوطن ونـي چنـدن اگـر دي  خاوري يي وا‌ده مشك و عنبر دي
كـه سراى ونورو وتـه سنگـر دي  كـانى يى ما‌تـه وا‌ده سر ه زره دى

« خوشحال ختك »

درزى لا گزلرى مقراض سوزن لرى  بو جمدر گوتى خو شحال خپرن لرى
كوچ يى اسان دى مشكل هيڅ ندى  غـم ديـارا نـو درد د وطـن لرى

« خو شحال ختك »

هغـه ورځ دهجرغـم لـره سرا شوم  چـه لـه ياره پـه ژړا ژړاجدا شوم
ماهلـه مـاتم دځـان و كړ يه وينـو  چه اتـك وتهمي شاشو پـه ژړاشوم
اوس پـه‌خه دوطن كـانى بوتى ژاړم  درخصت سلام‌مي كړى‌ترې جدا شوم
بو ناوك‌مي په‌دل لـاك‌راووړله كوره  زاروجارمي دباغ ونه كړ خطـا شوم
په محنت‌مى بورباض جوړ كړپـه‌دهر  لامى گـل‌بوى كړى نه ځنې سواشوم
شپن‌فلـك پـه خندا سورشو لههوسه  چه‌هوړى جبـل‌په مځزه ورته شاشوم
بوپـاړو پـه دكن‌نشبـه چه‌مى‌دم كـا  گرفتـار په كـنج و كـاو داژ دهاشوم

« اشرف خان هجرى »

## د وطن په ياد

ستا دعشق له وينودك شوځيـگرونه  ستا په‌لاره كښې بـائـلى ځلمى سرونه
تـاته را شمـه زړ گى زماقارغ شى  بې له تامي انديښنې دزړه مارونه
كه هرخومى‌ددنيـا ملـكونه ډيرشى  ز ماهيـر نشى داستا ښكـلى باغو نـه
د ډيلى تخت هيروم‌ـه چه رایاد كړم  زه د خپلې پښتو نخوا دغرو سرو نه
در قيب‌دژوند متاع به تار پتار كړى  چه په تورو پښتـا نه كـا گـذارونه
د«فريد»د«حميد»(۱) دور به‌يار اشى  چه‌زه و كـاندم په هرلورى تاختو نه
كـه‌تمامـه دنيـا يوخوا ته بل خوابى  زمـا خوښ‌دى ستاخالى تش‌د گرونـه

(احمد شاه بابا)

خـــوار غـ ريـب او بينـوا واى  خـوو طنـه ! ستـا پـــه خـــوا واى
وا تـــه غـــواړ مـــه لـه هنـده  چــه و طـن بـــر خـــه زمـــا واى
خـــو ژونـــدى يمـه تـــر مـر گـه  هـــم هـاغـــه آ ب و هـــوا و اى
مپشتـه خـو ښ يـم پـه وطن كښى  نـــه چـه هنـــد وا ړه ز مـا واى
نـه دي هنـد شى نـه دې نوم شى  همـــا غـــه بيـــد بيـــد يـــا وا ى
چير ها ر كـښى كـلا شيـخ واى  ر ز ق ا لله ا و مشغـــو لا واى

« خواجـه رزق الله »

بى وطنه نهـاپروت يـم پـه‌غربت كښى  نـن لـه مـاسره همدم د صنم‌غم دى
دهواداشنـا پـه ستر گـو ليده نشى  كه‌پـه‌خوب‌راتـه‌حاضرشى‌بس كرم‌دى
قاصدان لـه روهه راتـله مدت شو  سلام بـادرا ر سوى منت‌يى تـم دى

« اشرف خـان هجرى »

---

( ۱ ) فريد : شيرشاه سورى . حميد : سلطـان حميد لودين

پښتنې جونه دې زلفې بادنه نیسي
چه شمال یې بوي راوړي په رنتمبور (۱) کښې
« اشرف خان هجري »

خو به فخر د کشمیر په دوشالو کړي
خو به خیال کړي په اطلسو د فرنګ
« پیر محمد کاکړ »

نسیمه ورشه د « سرای » سواد ته
له هغه پسه افضل آباد د ته
سلام م و کړه پسه دواړه لاسه
د رود د پوارو ګل و شمشاد د ته
« کاظم خان شیدا »

که ګذر به خیر ابادو کړي نسیمه !
یادي ګټ وشي د «سرای» د سیند په سیمه
په وار وار سلام زما ورته عرضه کړه
ور سره زما د لوریه څو تسلیمه
اباسیند وته ناره و کړه په زوره
و لندۍ ته و ینا و وایه حلیمه !
ګوندې وی چه بیامې ستاسې جام روزي شي
په ګنګا جمنا به نه وو له قدیمه
چه سرې اوبه دغره نشته په هند کښې
تري توبه که واړه دك وي له نعیمه
خدایه زړه مې په وصال دهغه خوښ کړې
داچه اوس ورځني لرې دی دوه نیمه
همیشه به په هند نه او سي خوشحاله
عاقبت به عاصي ووزي له جحیمه
« خوشحال ختك »

نور جهان سقر شو بیا دې سرای دار القرار دی
کله به خوشحال دار القرار لره ورد رومي
« خوشحال ختك »

د خوشحال دزړه خوښي نشي بې سرایه
خپل وطن یې په هرچا بانډې کشمیر کړ
« خوشحال ختك »

دهواد یاران مې هر زمان یادیږي
چه نې مخ په خوب کې ووینم و یادم
«خوشحال ختك»

ښه په هند کښې چنبا ګل دی
ترداګل د وطن خار ښه
د سرای قدر نور چا نه زده
په خوشحال دی ترفر خار ښه
« خوشحال ختك »

درزي لاګرزلی بیا نې سوزن لری
یوجمدر ګوتې خوشحال خبرن لري
کوچ یې آسان دی مشکل هیڅ نه دی
غم دیارانو درد دو طن لري
« خوشحال ختك »

۱۵ ـ مسلماني :

په دا دوه حرفه مسلماني ده
هرچه نه پسندي په ځان په چامه پسنده
چه یې اوس په تولو لو نه مړیږي
همدا خپل دولت به و کاپه تا شنده
« عبدالقادر ختك »

چه نه پسندي په خپل ځان هغه مه پسنده په بل ځان
همداده که ته یې ګوري په صحی مسلماني
نیکانو سره زیست روزګار په مهر و محبت کړه
بدانو سره زیست روزګار هم بو په لساني
«خوشحال ختك»

په قوت به داسلام کړي
د کفار انګر غارت
« دولت لواني »

---

( ۱ ) رنتمبور دیو ځای نوم دی چه شاعر هلته بندی و « خادم »

(c) ketabton.com: The Digital Library



دمسلم نښانه داده که یی و پښی
یسه مسلمو کښی خاصه مسلم هغه دی

چه اول په شریعت دې استوار شی
« مرزا خان انصاری »
چه یی وشلاوه زنار ددی دنیا
« عبدالرحمان مهمند »

## ۱٦ ـ آزادی :

وهرچاوته چه وگورم فریاد کا!
پهجهان بههیڅوك نهوی چه آزادوی
عقل وهوښ یی وړی وته پیدا کړ

روزه نه یم د جهان دی سینې خوږې
ځنې عشق اندوبنده کړه ځنې لوږې
داچیچل داهل دیرانگ دی یادیږې
«خوشحال خټك»

چهسرې شرومی یی چښم پهوخت داوړی

بادشاهی داورنگ زیب زماه غړکه
« خوشحال خټك»

دحاتم دسخاوت خبرې مهکړه

لاپه دا کښې هم د طمع نښا نه ده
« خوشحال خټك »

کهیی تهیه منت مومی وایی مخلهه

کهدچا پهباغ کښې بوټی د کیمیاوی
« خوشحال خټك »

دمغل منصب می پرېښودهسې خوښ یم
دانا دره عقیده لکه زما ده !
دمغل وته بههسې کار بنکاره کړم
آزادی تر باد شاهی لاتیرې کا

اکه خلاص داویه بنده بند یوان شی
لاعجب که بل پیدا هسې افغان شی
چه راضی راځنې روح دفریدخان شی
چه بل د حکم لاندی شی زندان شی
« خوشحال خټك »

چه نوکری کاڅوك ډېر گنده کا
تر آزا دی نه بهتر هیڅ نشته

سړی ازاد وی خپل ځان بنده کا
چهڅوك په کور کښې خپله دنده کا
« خوشحال خټك »

طمع بلاده اصیل بنده کا !
ماډېر لیدلی دی چهطمع نه لری

ښه ښه سړی وی دائی گنده کا
په بادشاهانو یوری خنده کا
«خوشحال خټك»

لکه ونه مستقیم په خپل مکان یم

کهخزان را باندې را شی که بهار
«رحمان بابا »

که دعقل څه اثر لرې و سرته
پهنظر دهغو خاوره سره زر کیږی
بی منته جام دزهرو خکلی ښه دی
دیوسف له حاله زده که دغه پسه
دی فلك و چاته هیڅ بخښلی نه دی
که له خدایه دوې خلقووته مخ شی
همیشه به در په در گرزی رټلی
ددې سست بدن منت پهرحمان باندې

لاس پهسرمشه دهر گیدی ودرته
هرچه نه لری نظر و سیم و زرته
نه هغه چه منت بارشی و کوثرته
وایه حال د زماني وبرا درته
چه یی نه دی را پیرودی ځنی پیرته
له فردوسه بهدې مخ شی و سقرته
داستو گنې ځای بهبیانه مومی چرته
چهله خپله دره تلی نه شی بل درته
«عبدالرحمن مهمند»

روغی کتلونه : ( ۵۲۵ ) ب سردار محمد ح عبیر مولد ر محمد امین ل رجب علی : ۱۵ اجباع اثبه پښتو ټولنه کتابتون ۱۹ - ۱ - ۴۲

ژوندګی که څوك په هېڅ حضور ده دی    آینده و رفته کله دچا یاد وی
« عبدالرحمان مهمند »

نه خوښی کړم داحق سری ده ځای    نه مي زړه مومی اندوه دده له ذمه
دزلفېنو تور حلقو دي عذار و ېنم    که نسرین دي دی په زلفو کښې صنمه
« عبدالقادر »

چه مې شاکړه وښا دپوو ته ښاد شوم    چه د زړه مرادمی پر ښود په مراد شوم
اوس څه غم نکړم له غمه بې غم ګرزم    راضی من چه دازل دویش په داد شوم
چه مي طمع ددنیا ور ځني نړي کړه    هغه کس که کیکاؤس زه کیقباد شوم
ځان بازېد ولی کاروڼه دېنړېد کا    له شیخانو ځکه زه بې اعتقاد شوم
خدای مي بیا په کښې بندی مکړه ترمرګه    احتیاج عظیم زندان وه تري آزاد شوم
هم پې ځان له غمه خلاص کړهم نیکنام شو    دېرمین په وروستنی ضرب دفرهاد شوم
بادی بوی عبدالقادره سحر راوړ    شګفته لکه غنچه په دغه باد شوم
« عبدالقادر خټک »

چه خوښ له ګمه دلګیر له خاره دی    عشق له دو بېنه بې اعتباره دی
نه شکایت کړم لچا ، نه شکر    در دمی له یاره درمان له یاره دی
« عبدالقادر خټك »

له بیخونده آزاد دی شو به دسر وي    دګنی پخیر پخو بنده بندی بیا
« عبدالحمید مهمند »

وزی تنزی پروت پخپل پوز کی ښه ئې .    نه په تخت دپاسه ناست دبل کړه
دمنت پولاو دي زهرشه ! کي مومی :    دمحنت سوی مکړك له سا کث سره
« عبدالحمید مهمند »

تخت وتاج ته په سرګوز د همت نه کا    چه په داد ددهر یوه آزاده مرد وی
« اشرف خان هجری »

دافقیر دولت په مرګه هسي هوس کا    لکه ستړی مسافر وخپل وطن ته
زنهار حلت په هسی ساعت ور کړه    چه دنیا وربانې نه وی وکفن ته
« دولت لوانی »

آزادی او کارو بار دی سره اېری    لاس له کار وباره وباسه که کار کړې
« عبدالرحمان مهمند »

هر ګدای چه آزاده وی تري قربان شه    باد شاهان دشام دروم که دختن وی
ماتول دبت آسان دی مرد هغه دی    چه مشغول دخپل وجود په شکستن وی
« عبدالقادر خټك »

۱۷ _ انسانیت :

پوي اصل سره دوه او پامذ هبه    خدایه څه بنی آدم فریق فرېښتو
« خوشحال خټك »

خلق ناديده دي په خبر و پسې تللي | جار تر عار فانو چه په حال دي پوهيدلي
دوه او يا مذهبه پكښې هومره قيل وقال | واړه سر هوا په خپل مطلب پسې دي تللي
ډېر دي كتابونه مشتمل په ډېرش حرفونه | كل واړه كه گوري له الفه دي نحوولي
سل بهي سل سبق چه يې ماته په يو ځاى كړي | سل به بلل نه شي سره يو دي ماليدلي
واړه نور نامر دي هم دننه هم د بانديې | هر چېرته دا نور دي په هر ښهر په هر كلي
زه خوشحال ختك يم در نداو به مذهب كښې | نور ويلمي نزده مختصر مې دي ويلي
« خوشحال ختك »

## ب : بابېزه خويونه

### ١ ـ بدعادات :

عادت لاړ شي عادت له سري نه | خداى دي نه كاندي په بدو چار عادت خوك
« عبدالرحمان مهمند »
همېشه وي نرم چوب غذا د كرم | شيدا مشه مرد خالي له سياسته
« كاظم خان شيدا »
ستر گي يه سوزي دخس له نامردانو | كه همه لنكه ايري آتش نسب وي
« كاظم خان شيدا »

### ٢ ـ بې پته خويونه :

يو چه ډېر خوري سوگندونه | بل چه ډېر كاندي پورونه
آشنائي ور سره كمېږه | دا بې پته دي خويونه
« خوشحال ختك »

### ٣ ـ كوزتيا :

نور هر څه پدد كجئي خطر دى ! | كجئي په نه كا چه دانشور دى
الف چه سم شي، كجئي پې نشته | ځكه تر نورو حروفونو بر دى
« عبدالقادر ختك »

### ٤ ـ بدنيتي :

چه د بل په نامرادي كښې مراد غواړي | دا سبب گڼه د خپلې نامرادي
« عبدالحميد مهمند »

### ٥ ـ بدگوئي :

چواړي د حلال خور په نامه بولي | له ښو خلقو بد گوئي نده ممكنه
نه چه بد له خلقو وائي زه و پرهېزم | چېري خپله بدي نكړي معينه
له هغو نه به رومبي ستا عيب ښكاره شي | چه هر چا و ته دي كړېده خندنه
« عبدالرحمان مهمند »
مه پر چا غيبت تهمت وا په مه نښلمه | مه د بد نامه په هېڅ بڼي آدم زده
« دوات لواني »

٦ ــ بېکاري :

د جملـه بـلاو سـرتـن اسـانـي ده
لټ غوبي شي خرڅاوه په قصابانو
فـراغت د بېغمی په ملـك كښ نشتـه
خـه امید دبېغمی کـړی ظالمانو !

« عبدالحمید مهمند »

٧ ــ ډېراحتياط :

كـل وسـواس لـه احتیـاطه پیـدا كېږی
زه له ډېرې هوښیارۍ نـه لېـونی شوم

« عبـدالرحمان مهمند »

٨ ــ تذبذب :

كـمـال د كـفر تـر نـاقص دين ښه دی
يا درست گمان ښه دی یا درست یقین ښه دی
چـه كـلـه د اشـی كـمـه هغـه شـی
دا نـا تـه كـلـه مذ بذ بين ښه دی

« خوشحال خټك »

٩ ــ شخصيات :

دزړه غـلا پـه زړه كـښ غـم ده
لا پـه تـېـره د سـر د ا ر
هـر سـر دار چـه پـه زړه غـل شـی
ځـان رسـوا كـا خـلـق خـوا ر

« خوشحال خټك »

١٠ ــ ظـلـم :

بازچه وینی دځیگرخوری مرګ یې زروی
له دې وېنو ځان ساته زما ځیگره !
كه تر خـه دی هـم شراب دقهر نغره
ظـلم وجور پـه چا مـكړه ځیـګر وره

« عـبدالقادر خـټك »

چـه بیهوشی ډېره گـېره پسې نـر بـلی
ډېـر پـه ظـلم كښ خوك مه كوه گـبر گوره
ماشی مر كانډې هاتی چه سره تول شی
پـه یوه وجود ـي كښې مه كـړه ډېر گوره
لنږې لنږې او به تولې شی ملك وران كا
په لـږ جبر چېرې نـه شي دلـېر گوره

« عبـدالحمید مهمند »

باز كرگس شاهین جـوړه ترې په هوا شول
چه ثابت د عندلیب شو په گلعـزار حق
بلبلان طوطیان د فـكر په تـال ځانـگی
خدای كړ پوره ا دي باغه دماښار حق

« عبدالعظیم رانیزی »

خدای دې نـه كـا چا ته وازی دآزارخولی
دغه خولی ده په آزار كښ دښامار خولي
په گر كـښ بخته برج هسی میدان كړی
یا توبو بدی خـولی دی یـا دو یـاړ خولي
د یوې خـو لـې لـه آزاره وو یـر پـېږه
كه پـه مر دي دعـا كـا نـه دي هزار خولي
چه پـرې راشـی د مظلـوم د آه سېلـی
كـالـه خـاو رو ایرو ډكـی د مدار خولي
چه قـوصر د آه سر دور بـانـدی لـگـی
ور بـه نشی د هغه چـا د بـېر هـا ر خولي
چه اثـر د مـسیـحـا لـري ي پـدم كـښ
خوز و ی دې هغه خلـق پـگ فـتـار خولي
و رخ بـه شـی د غم شپـه پـهغـه خـلقـو
چه پیـاب بی بد دعـا كه هر سحار خولي

« عبدالحمید مهمند »

چه داغی یی سپین بشر په اور د ظلم
په لاس مه شه باز پرور د ظالمانو
د مومن د زړه آزار د خدای آزار دی
هم آزار دی پیغمبر د ظالمانو
چه نهال د ظلم کیږدی ځنی لاړ شی
تر یخ تر زهرو شی ثمر د ظالمانو
آزادی که دي پکار ده شمس الدینه !
له مجلسه کړه حذر د ظالمانو
« شمس الدین کاکړ »

هسی خوبن د ظالمی په کار ولاړ دی
نه به وا یی مرګ یی نښته تل به ژوی
« خوشحال خټك »

ر سید لی تر مطلبه به خود نه یی
چه خوږی د د مظلومو د سر وینی
« عبدالله یوبلزی »

## ۱۱ قهر :

ما نی مه کوه حنا نه صبر بو یه
جوړ کارونه خشموران کاندي تلوار هم
« مرزا حنان »

همیشه غوته جبین یی ډك له کینه
له خپلواو کورو کلی مرور یی !
« ملا جمعه »

د جهان کینی غصي واړه تر شا کا
که سړی په وخت دقهر مرګ تر زړه کا
دا پیدا چه خو د بینی ور ځ خه نښته
د جهان ننداري ځکه دوه ایمه کا
په کینه یه حسد هیڅ د چا و نشی
هر سړی چه حسد کاندی ځان او به کا
« خوشحال خټك »

## ۱۲ ــ تعجیل :

دانا وران کارونه جوړ په دانائی کا
په تعجیل سره نادان کاندي سم کار کج
« عبدالقادر خټك »

په هنر هنر خبري کړه دلبره
تېزی مه کوه په هیڅ کار کښي د سره
« عبدالله یوبزی »

## ۱۳ ــ حرص :

په غم د نورو و غم ته ساز مه شي
سیك و عالم ته به خیل آو از مه شي
سړ ی په طمعه د بل بنده شی
د عا به دا کړم اخته په آز مه شي
« خوشحال خټك »

## ۱٤ ــ کبر غرور :

دغه زور به چلوي تر کو مه پوري
چه یوازي دي په ځان تمام جهان خوړ
تا چه تېز تېزه سمند د خو د را یی
ما دا ستا دېر بواته هله ارمان خوړ
« عبدالحمید مهمند »

چه کمال غواړی په کبر احمقان دی
په پلیتو اوبو نه کیږی او د س
سبره ! هیڅ په تېتو و نو لو یی مکړه
ستا به هم دغه قیمت کاندي روزګار کج
« عبدالقادر خټك »

## ۱۵ ـ بیوفائي :

چه یې نه وینې وفا په رنګ وبوی کښې
زر که ځلکه مینه نه کا و ګلزار ته
« عبدالحمید مهمند »

چه نه رنګ لري نه شرم مه یې غواړه
تو به و کا زه له یلمه د بیوفا
« مرزا حنان »

که یې اوی دزړه په وینو لکه ګل کړي
هم هغه به یه زړه در کاندي شنه تا نده
« عبدالقادر خټک »

## ۱٦ ـ طمع :

څوك چه طمع له چا کا په حقیقت کښې
که بادشاه د درست جهان شي لا ګدا دی
« خوشحال خټک »

نه دی نفس لره جلب د ور کړو لو
نور قیدونه و اړه سهل دی حمیده !
امو ختنه در باندي غل او کا سیر مشه
خو به غاړه دي د طمع زنځیر مشه
« عبدالحمید مهمند »

له هغو ترخه ویل شي د حق پاتي
چه یه خوله کاندي خوزه حلو اد طمع
« عبدالحمید مهمند »

سړی توب به دي سپیتوب کاندي دا طمع
هسي چاري به حرص در باندي و کا
عزت و سا ته په صبر که دا نا یسي
چه په هیچا شوي نه وي بیا به وا یسي
« عبدالحمید مهمند »

کهدي زړه وي چه بیاي شي طمعه پرېږده !
څو دي طمعه چاته شته توا نګر نه یسي
« عبدالقادر خټک »

که یاس له حقه تحقیق حرام دی
اصیل بنده کا خلاص شوی بند کا
یاس له مخلوقه د حق انعام دی
طمعه له خلقو د خلقو دام دی
« عبدالقادر خټک »

شرموی هر یو سړی د دنیا طمع
همت ناك سړي که خوار وي دولتمن دی
د هغه د شرم بوزه په مخ نه وی
لکه څوك لوبی به خپله حیا کا ندي
لکه یو سپی چه هیڅ نه ختی ال هغه سي
د هغو د عزت پښه ده بنو لېږد اسي
تل د خواست لاس به یې نیولی دی کوڅه کښې
د حاتم د سخاوت خبري مه مکړه
دسبي توب نامه حاصل کا په دا طمع
خاخکی ګوره نه کوی له دریا طمع
چه کوی د نس د پاره له چا طمع
هسی ما و ته بنیکار پېړی دا ستا طمع
هسی ده د یو له بل نا صلا طمع
چه به دا زېره له چا کا ندي بیا طمع
محمدی چه څوك کا بل ته پیدا طمع
لا پیدا کښي هم د طمعی نشا نی ده
« خوشحال خټک »

## ۱۷ ـ ریا :

در یا عمل مي طوق شو را تر غاړه
لکه خیور شي په ځیګر د ستار د چا
« شمس الدین کاکړ »

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۸ – بدي :

چه په بدو په رشوت کاندي حکمونه    تور مخونه به دوزخ ته قاضیان د رومي
چه په طمع د دنیا مفتیان فتوی کا    شرمنده به د دوزخ په زندان د رومي

«مطیع الله پیرخیل»

## ج: نصایح

دا همه له نا پوهۍ پیدا کېږي    خرخشي دعوي نا ساري شر و شور
پېر څو، ښه سلوك، نمانځنه، او بل عدل    کېدي دا خویونه شته څه غواړي نور
کبر جن حریص بي زړه چه دروغ وايي    د یاري لایق نه دي دا څلور
که وعده یې قیامت وي د غو ښتني    دهوښیار سړي به نه وي په کار پور
که طالع یې ددولت په شربت ډك کا    بیا آخر شي د کم عقل جام نسکور

«خوشحال ختك»

چه دخلقو نیکخواهي لري په زړه کښي    مبارك شه بادشاهي لري په زړه کښي
که بي غوږ د دانشمند په نصیحت وي    څه عجبه آګاهي لري په زړه کښي
د ناصح په نصیحت به اصلاح نشي    هرسړی چه تباهي لري په زړه کښي
د مردانو په معراج به ور تلی نشي    که دسعی کوتاهي لري په زړه کښي
مختورن د دواړو کونو ندی څه دی    چه هر چاسره سپاهي لري په زړه کښي
نیکبختان به اندیښنه کاندي د نیکو    گمراهان به گمراهي لري په زړه کښي
په هغه هنر کښي تېنگ او سه خوشحاله    هر هنر چه سپاهي لري په زړه کښي

«خوشحال ختك»

په دوستانو تلطف کړه خو په تاشي    د دښمن سره هم ښه کوه خلقت
د نمانځه تر قضا گران دا قضا ده    چه قضا شي د څلور و مصلحت
نوراني کا هغه ځای چه سره کښېني    دیرینه څلور هو ښیار په مشورت
چه په ته تواضع کښي گټه کېږي    هومره سود نشته ددك طباخ دست
که حاتم غوندي کرم کړي د مهرانو    دیوي دمړی په چا مه زده منت
څو بدانو سره بدشي هومره ښه دي    ولي عفوه کرم ډېر لري لذت
که دي سرځي کېدي مال ځي کېدي نور څه    استوار اوسه په کار د رفاقت
په ظاهر باطن کفران دنعمت مکړه    هوا خواه اوسه دخپل ولي نعمت
که راحت غواړي په ځان محنت قبول کړه    بي محنته هیڅوك نه مومي راحت
که دارو په خواست موندل شي مه یې اخله    که دمرگ وته نژدي کاندي زحمت
که آسمان دي درمړي په خوله کښي ور کا    دزمري په خوله کښي مه پرېږده همت
که ژوندون دي هم هغه دي په جهان کښي    چه یادېږي د سړي د خوی خصلت

«خوشحال ختك»

خپل استاد و ماته ووې څو پندونه    هر یو پندي مرغلري دی لا لونه!
وې چه هره بدی کړه هغه بد مکړه    چه دلاسه دي آزار شی دچا زړونه
که دي زړه وی چه بدنه موې له چا نه    اول ته پرېږده د بدو خصلتونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دشهوت په نغوته مه ځه شهوت اور دی
ته کینه، رخه، حسد له هیچا مه کړه
د هر چا سره د ښو سلوك بایده دی
د دنیا په مال د نیکو نوم حاصل کړه
د هر چا سره نرمي ملایمت کړه!
خپل پردی ته د خپل راز خبره مه کړه
خوشخوئی هر ګوره ښه ده نه دا هومره
هغه کار چه په آرمی تر سره کیږی!
و هغو وته چه قهر کړي روا دی!
د هغو په مرګ ثواب ګڼلی بویه
که دښمن دي ډیر زبون ته ځني ډار کړه
د دښمن په تملق غلطي مه کړه
عاقبت به خپل ورغوی په غاښ پریکا
چه دي لاس په دښمن برشی پرې یې مه ږده
په خپلوانو باندې هومره خشم مه کړه!
د پادشاه په مهرمینه غلط مه شه!
پادشاهان چه په چا مخ کا نه بدی؟
په هغې معشوقې څه باور د کړو دی
د پیلو بانې خوره نه هغه پاستی
د بد خویه سره هیڅ بدی ته مه کړه!
د کمذات په ښو خبرو غلط مه شه!
په هر کار کښي چه در پیښ شی بیړه مه کړه
په رښتیا که په دروغوی سوګند مه خوره
د حرص سترګې مړي په قناعت کړه
که هر څو دي علم ډیر چه عمل نه کړي
د ښه دین دپاره علم، دانش ښه دي
په جهان کښي که مردان دی هم هغه دی
چه بدانو سره ښه کړي قباحت دی
عاقبت به ملګیری در ځني پریکا
که دي وروروی که دي ځوی وی چه بد کار شو
چه بد فعل، او بد غرض په کوم ځای ناست وی
چه په کالو وی مشران نه یې حرمت کړه
په هغه کور کښي چه ښځه چرګه بانګ کړی
هرچه شرع فرمائی په هغه کار کړه
نیکو کار په فقراؤ خیر خیرات کا
که دي زړه له وینو ډك شی و دښمن ته

پیدا اور د ډیرو سوی دی کورونه.
دازل په ورځ مقسوم دی قسمتونه
په بدی کښي څه فایده د کوم سودونه
ټول جهان و چاته نه پرېږدی مالونه
ګنډي وی چه پداخیل کړي د چازړونه
د بخچي دننه ښه دی خپل رختونه
چه په باغ کښي دي خربوزی وهی خرونه
څه حاجت چه رساوه شی تر جنګونه
چه اری د بدو فعل بد خو یو نه!
چه پای سوځی له شامته غاډي غرونه
په یوه شجري و سوځی ښارونه
درستم غوندي هسم مړه دی په مکرونه
هر چه کار کا د دښمن په ور مونه
دمارانو په غارمه منډه لاسونه
چه پردی ورځني تښتي په منګونه!
زورور په لږ ګناه وهی سرونه!
و سپیندو ته تل ه شی بندونه!
چه په هر لوری یاران لری زرګونه
چه بی خوري د نوکری په خوشرطونه
غلیمان ور له بس دی خپل خویونه
د ګډه پر، وینه خوازه لری ګلونه
په تلوار، سره ورانیږی جوړ کارونه
منافقوی چه ډیر ډیر خوری سوګندونه
چه په کور کښي دي انبار شی نعمتونه
ته حمار یې په تا اېښي کتابونه
نه پیدا چه پرې لوټې پردی کورونه
چه و سختي و ته و نیسی لاسونه
د بدانو خو هم تور ښه وی مخونه
چه په لارې ترتا تېر د رومی ستاملونه
په خپروی کازه کړه ور مېږونه
د هغو د ناستي تښته په کرو هوانه!
بیا هغه چه دي په ځای وی اکه ترونه
د هغو خونه نه ځی برکتونه
مه عمل کوه په ر... دودونه
هرزه کار په عمارت کاندې خرخونه!
اېږو ډېر په زبان مه راوړه عمونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



به هر كار بهتري لاس بروي په ځواني كښې    كه طاعت كه عبادت كه نور كاروونه
په ځوانۍ كښې چه د كار نلاسه ووزي    په پيرۍ به دي ونه رسي لاسونه
هميشه او سه خو له پته لكه ناوې    چه ضرور شي هاله وكړه دوه حرفونه
سر هغه به نا معقول په جهان څوك وي    چه هميش په خندا سپين اري غاښونه
كه خبره كه خندا كړي جګي جګي !    هره چار تر حساب مه كوه بيرونه
كه دي زړه وي چه بې عيب دي ښكاره نه شي    چاته مه شماره د خلقو بيت عيبونه
كه له ټانه په قوت د متو زيات وي    له هغه سره حجت مه كړه بحثونه
چه توانيږي د هغې خبرې لاف كړه    او كه نه په دروغه وهه لافونه
چه دښمنو كښي د جنګو خرخشې وي    ته بې غمه خپل هوس كړه خپل ښكارونه
كه دي واوريدل چه بيا وبله روغ شول    نور په خپله وسله ووهه لاسونه
چه دښمنونه بتر دي هغه څوك دي !    چه دښمنو سره كا مصلحتونه !
خداي هغه په دواړه كونه دي نمانځلي    چه په ورځ كا عدل وداد په شپه نمځونه
چه دزړه په تمامين دهغو نازو ده    تل نياز منو سره وړي دي نياز ونه
داصيل شيوه خپل اصل نه ابناس دي    په زرباڼو كښي يادم وي يا مريوونه
« خوشحال ختك »

په پيري كښي چه هوس دي د ناب كړي    بيهوده ګمان په صبح د مهتاب كړي
داسته ګناه كوي توبه وكا زي    لكه بت هسي په غټو ستر ګو خواب كړي
علم وكړي بې عمل وربانديې نه كړي    لكه طفل هسي لوبې په كتاب كړي
په شپه پروت بې د هغان په ميخانه كښي    او د ورځې مخ په لوري د محراب كړي
له خالقه دې نه شرم نه حجاب وي    له رحمان ګوښه ونيسي حجاب كړي
« عبدالرحمان مهمند »

كړ د ګلو كړه چه سينه د ګلزار شي    اغزي مه كړه په پښو كښي به دې لاړ شي
ته چه بل په غشو ولي هسې بوه شه    چه هم داغشي به ستا په لور ګذار شي
كوهي مه كنه دبل سرې په لار كښي    چېرې ستا به د كوهي په غاړه لار شي
ته چه هر چاته په خوارو ستر ګو ګوري    لا دومبې به ستا صورت تر خاور وخوار شي
آدم زاد په معنۍ واړه يو صورت دي    هر چه بل آزار وي هغه آزار شي
كه نه نه كوي نظر د چا وعيب نه    هر سړي به ستا د عيبو پرده دار شي
د متان كړيه لوړه مڅكه بانديې كا    سر كوزي كوه چه پښ دي مرغزار شي
دمات لوښي او از كله ثابت خيژي    د هر چا عمل خر ګند په خپل ګفتار شي
واذا حكمتم بين الناس راشه واوره    حق باطل سره جدا كړه مه شي نغاره
مدا ماچه لكه باز غوښې د قام خوري    عاقبت به شي بندي په پښو به غاړه
چوړ وي نوي قصر ونه خبر نه ئي    نن صبا دي ابا دي ويم ويجاړه
فكر وكړه وخت كو تاه دي وږ لو ييږي    د دنيا پر لانده باڼر بانديې ولاړه !
« د مرزا حنان »

نن چه صبح دی رو شانه لار صحیح کا　　نا گهانه به دا صبح شب تار شی
لږ ه نې مه ګڼه هر څو که ګناه لږ وی　　چه لږ لږ و سره جمع کړی بسیار شی
که بل بد کا نه دی ته ښه ورسره و کړه　　هر یو نخل چه میوه لری سنګسار شی
تل و ښو و ته آزار د بدو رسی　　هر چنجی و نرم چوب و ته دو خار شی
هغه زده به له طوفانه په امان شی　　چه کشتی ګوند ی د خلقو بار بردار شی
خدای دی بدله لاسه نه کا او که وی هم　　در حمان دی له کل بد و استغفار شی
« عبدالرحمن مهمند »

ای مدام د بل په کمه روا دار ه　　نیکی نه کوی بدی لره تیار ه
قدم مږ د ه پر عاجز میږ ی په ظلم　　نه چه دغه پښه دی و مبتلی له مار ه
هر چه وړی صباح بې راوړی لږ که ډېر وی　　دا چه نن یی پستم اخلی له خوار ه
کبر مه کوه چه کبر پر خدای ښائی　　چه رانده په دا شیطان شو له دربار ه
تکیه مه کوه پر مال فرزند بی بختهٔ!　　که دی مال که دی فرزند دی نا پکار ه
دا جل صیاد طلب د استاد روح کا　　ته طلب د مال اسباب کړی نا قرار ه
که دا پند د حنان ونیسی په غور کښ　　دی بهتر له هغه ګنجه بې شمار ه
« مرزا حنان »

ډیر به ستا په سبب خواب دراحت و کا　　که دمهد په شان ورك دځان ارام کړی
« شیدا »

پند دی سو دمن واوره تور زنه　　اسانه نده د سر پند نه
مصلحت مه پرېږده د خپله لاسه　　هم به خپل راز لری د زړه د ننه
« خوشحال خټك »

همیشه وائی چه خدای مې پیدا نه دلې په یکی دی　　که دی خدای وی پیږندلی مینه مکړه په باطله
په خیل حسن غره مه شه که په حسن لکه ګل شی　　زمانه به دی خېره په یوه ورځی کا زائله
« خوشحال خټك »

د چاوخوان ته خالی کتل مکره　　که تل دی خوان خوری منت په بل مکره
چه پری باور ځی هسی و یل مکړه　　چه مال د بل شی هسی بیا تل مکره
( خوشحال خټك )

منجم که در ته نحسه ادینه کا　　یا طبیب و تا ته بدي کا شکري
په جمعه به و نمانځه و ته و نوزي　　له شکرو به هم ګرزي اري لري
په قران کښې چه شراب دی منع شوی　　ته یی وای لکه بی د مور نغري !
« خوشحال خټك »

عاقبت به یی زده ترلاسه کړي حنانه!　　لکه زلفي دنګار تواضع خوی کړه
« مرزا حنان »

لکه ځمان ژغوری بربنده له تېرو تورو    هسې ځېل سر له ښېرو دسحر ژغوره!

« عبدالحمید مهمند »

چه ظاهر غوړوی په باطن سپوروی    په ژبه خوږوی په زړه کښې شوروی
ور سره مه کښېنه تا به تباه کا    سپین زر که سپین وی اثر یې توروی

« عبدالقادر خټک »

له همه واړه عالمه صلح کل شه    وښوېږدو خوشبویي ور ځکوه ګل شه
تعلق په تېرېږد و نی هوس مکړه    په بهار کښې په نارو لکه بلبل شه

« عبدالقادر خټک »

خوك چه نرم وېل کا عمل بې ګوره    ښکان دم په خوله وېل کا نرم نرم

« خوشحال خټک »

ښتن مو مل دی    اوس مو یسر غل دی    هواد د بسل دی
غازیانو ګوری    ښتن مومل دی
توري تېري کړی    د ښېن مو پرېکړی    منګلی سري کړی
خله به تښتو    ښتن مومل دی
که ټینګه کړو زړونه    بر بسري یونه    چه زمري یو نه
اسلام راځخه دی    ښتن مومل دی
غازیانو را شی    تول شاؤ خوا شی    دشهاب په ملا شی
دښن موغوخ کی    ښتن مومل دی

« شیخ ملکیار فرشبن ستانه داشعر په یوه غزا کښې چه دسلطان شهاب‌الدین غوری سره ؤ ، د غازیانو د تودولو دپاره درجز په رقم ویلی دی . »

# دریم باب: پښتو او پښتنوالي

## ۱ـ میړانه او توره:

مرد به نه شي په گفتار
خو پیدا نه کړي کردار

چه دي ونښکنځي مرد نه یي
که له تانه وي په دار

چه څه دي خو انتقام دي
د مردانو کار و بار

عفوه هورته ځای لري
چه نه عیب وي نه یي عار

چه عزت ورځنه وي
هغه مرد نه وي پکار

هم مهره لري هم زهر
ښه مردان دي لکه مار

چه هم تندر هم باران وي
تر هغو ځوانانو ځار

مرد به غم دخپل هنر کا
نه د زر نه د دینار

مرد به غم کا دخپل شرم
د عزت د اعتبار

نامرد فخر په نسبت کا
مرد نه مور لري نه پلار

د خوشحال خبرې گوره
لعل و در پیېیي په تار

« خوشحال خټک »

یا د سپېڼي توري مرد شه یا عاشق شه
چه یا د پېغلې په هډ لو په سندرو

د خوشحال خټک خوښي په هغه وخت وي
چه بر ښکنا د سپېڼو تورو شي د زغرو

«خوشحال خټک»

د نامرد، د مرد په دا تفاوت وشو
په نامرد، شرم آسان دی په مرد گران دی

مست هاتیان خوني زمري توري وښکلي
که د سرو پره دی نه شي کار آسان دی

کاشکي ته په دا دنیا همېشه پایې
په احتیاط احتیاط کښې د هر خلق طوفان دی

که د ځان که د ایمان بدخوامي دهر دی
ما په خدای باندي سپارلی ځان ایمان دی

ننگیالي چه د اخلاص توره په لاس کا
د هر لښکري د همت پوري کاروان دی

په ښادي سره شریک دي اولسونه
غم پوازې د خوشحال خټک په ځان دی

«خوشحال خټک»

مورد ی نه شي بانندي بوره
چه میړه و نه د کار زار دی

ځوک چه شته تر شرقه غږ به
د تورزنو خدمتگار دی

« خوشحال خټک »

درست پښتون تر قندهاره تر اټکه
سره یو د ننگ په کار پټ و آشکار

په داهسې وخت، چه وخت د نام وننگ دی
دا بې ننگه پښتانه کا څه رفتار

پښتانه چه نور څه فکر کا ناپوه دي
بې د توري خلاصي نشته په بل کار

تر مغلو پښتانه په توره ښه دي
که پوهه پښتانه وای څه هوښیار!

«خوشحال خټک»

«خوشحال خټک»

مېړنو له تښتېدنه شرم دی یو نسه !
د نصیب له پښېدنې ماړوه جلب
« یونس »

خه سړی خه یې تدبیر !
که جهان شی تیره توره
بې تقدیره به ونه مری
بې اجله مرګی نشته
لکه کار د مړنی دی
د غازیانو شهیدانو
کل ګتنه ده د توری
مړنی دی چه یاد پښتی
چه په دروغ د توری لاف کا
توره نجره د خوشحال ده
تر اوو پښتو پوری
دا د ځان ستاینه نه ده

هم هغه شی چه تقدیر
ستا به مرګ شی خلق خیر
نه په توره نه په تیر
تیغ و هغه مکر ه تقصیر
هسی کار نه دی د پیر
پر وا نشته د سعبیر
که کابل دی که کشمیر
په سندر و هم په ویر
د هغو نه یم د لګیر
کال به کال خلق خبیر
واړه مره به تیغ و تیر
حقیقت وایم په ځیر
« د خوشحال خټك »

چه په توره یې ځواب ورکړی مردیده
که وجوددی خوك آزار کاندی په چوب
« خوشحال خټك »

چه مین په وسله نه وی
مرد دی نه وائی خیل ځان ته
لاس دی سره کا سترګې توری
ځان دی و جوړ وی ځوان ته
« خوشحال خټك »

باغ وی سرود وی نقل و شراب وای
ښې ښې دلبری ښه ښه احباب وای
مجلس د خاصو کتاب په مینځ کښې
نقل د تورو و خت د شباب وای
« د خوشحال خټك »

د زنانو په حساب دی مردان مشه
چه له زیبه له زینته هم آغوش وی
شړی ور پښتون به سل به د که یوسی
کشمیری چه بغرګ شالونه یې په دوش وی
« خوشحال خټك »

د بلا تنه د اختیار توره په لاس کښې
وقضا وته تسلیم په شان دمړه یم
تند رهم زمانه ذاته نه پیدا دی
په سپین زړه که د باران سپینې اوبه یم
« خوشحال خټك »

چه جنګیالی وی دولت هغه مومی
چه ننګیالی وی عزت هغه مومی
داد واړه تو کسی سره تړلی دی
خوك چه محنت کا راحت هغه مومی
« خوشحال خټك »

چه ځان غواص کا ګوهر هغه مومی
چه بې ننګی واخلی دلبر هغه مومی
داکا رمې خوځله به ځان را غلی
له سر چه تېر شی ظفر هغه مومی
« خوشحال خټك »

ستار قیب کله زما په مخ را تلای شي    دمړو و جنګ ته نه د رومي عورتې

«میرزا حنان»

چه زړی شي میاشت آخره شپه را خیژي    پښتوه ځان له عالمه په افلاس کښي
ښې ورېښمنې جامې خوی دار تینو دي    دمېړه مړانه نه ځي په کرباس کښې
له یارانو اخلاص تلسلي دي حنا نه !    ګذران د زماني شو په لباس کښې

«میرزا حنان»

د میدان په ورځ چه تښتي کاله جنګه    یا تې هیڅ نشي باقي له نام و ننګه
له میدانه تښتي کار دی د زنانو    مرد به نه تښتي له غشي له تفنګه
چه د تورو به بر ښنا یې وار خطا شي    مور یې مه وای په هغه غولا تي انګه
د ضرور په ورځ به تښتي له ګیدړ کا    چه همېش کاندي خوښي له نای وچنګه
د عزت صدقه سر د سر د نیاده    مړ نی به شرم سرور کا بید رنګه

«یونس»

## ملي وحدت

تو له یو دي که غلجي که ابدالي دي    ښه هغه چه یې ښېښه د زړه صفا ده
چه عمل یې د نېکۍ وي مېړه هغه    که اغوستې یې ګدله د خامتا ده

«احمد شاه بابا»

۲ ـ ننګ او ناموس :

چه ننګ کاندګیالي دي ورته اېښي دي دوه کاره    یا کام د ننګ حاصل کا یا د دوی مینه سپېره ېږي

«خوشحال خټک»

چه د ننګ په چارو نر ندي خوشحاله !    که یې نر وېني په سترګو هم ماده دي

«خوشحال خټک»

کاشکې ځوان دېښتانه په ننګ کښ مړوي    نه چه ګور لره روان شوم له تلتکه
چه د قام به ننګ کښ و مړ هغه ځو یه    په عالم کښې دخیل پلار غاړه کا لکه

«خوشحال خټک»

څه یو ازې ننګ په ما را غلی نه دی    پښتانه د پر دی په غرو نه په سمو نه
چه ښور وا خوري د مغلو وا ده سپي دي    د سګانو به خو له څه اخلم نو مو نه
ګور به هم په ژړا سر کړم که یې ور وړم    زه خوشحال د زړه دا هو مره المو نه

«خوشحال خټک»

چه د بل ننګ و ناموس سا تلی نشي    و به نه ساتي خوك خپل ننګ و ناموس

«عبدالحمید مهمند»

دخپل رنځ د درد علاج را څخه نه شي    په حکمت که ارسطو و افلاطون یم
د ګلو خو په هوس شپې رنوو مه    امو خته لکه شبنم په دا شبخون یم
تلخ ویل پر رقیب شو څکوي وما ته    آخر زه شمس الدین ننګ ارم پښتون یم

«شمس الدین کاکړ»

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو وا نخلي له غلــمه انتقام
چه د ننګ او د ناموس اندوه يي نشته

مرد نه خوب کا نه خواړه کا نه آرام
د هغه سرى به نه وى احترام
« خوشحال خټك »

نام وننګ افغاني مې ولاړ بر هم شو

انصاف نشته د خوبانو په بازار کښې
« عبدالله پوپلزى »

واړه ننګ د پښتانه دى ګدا نه ځي

حال يې ورځ په ورځ زبون دى ستا په غم کښې
«خوند ګدا »

په جهان د ننګيالى دى دا دوه کاره

يا به و خورى ککرى يا به کامران شي
« خوشحال خټك »

ننګيالى د ننګ د ياره
سر به باد د سرى پر سوزه
چه به نام و ننګ اړ نه وى
د جهان بلا دې کل وى

په هر څه لګوى اور
چه يې نه وى ژو ندون نور
که تل ژوى مخ ئې تور
خو دې نه وى ويى (۱) سپور
« خوشحال خټك »

سر په دار لاړ شوى ښه دى
نه لاړ شوى په پيغور

۳ ــ ټينګښتيا

قول و بول په ژوندون نشى بدلولى

ځکه ځان په جهل و ژنى پښتانه
«عبدالحميد مهمند»

ځان به مر د عشق په جهل کړم ناصحه!

وا به نوړم زه حميد هسې پښتون يم
« عبدالحميد مهمند »

ددنيا ناوې به بيا په نکاح نکړم

که پښتون عبد العظيم يم په نسب
«عبدالعظيم رانړيزى»

زما څه يې اعتقاد د عقيده ده

چه له عجزه پر ملا خم و چاته نشو
« شمس الدين کاکړ »

د مرد چه نه وى وينا محکمه
چه يوى زړه وى يوه خبره

په ده به نه شي در غلــه سمه
خلاص وى له همه خلاص وى له غمه
« خوشحال خټك »

٤ ــ ښه ځواني :

جار شم قربان شم ډېلار له پنده
لذت دور کړي تر ساتل ډېر دى

راته يې ووې زما فرزنده !
خوى خير ندى مساك له خونده
« عبدالقادر خټك »

دلو يې به مقام به ها له کښېنى

که د ور کړې دمراني په وزرځي
«عبدالقادر خټك»

(۱) ويى : لفظ ، کلمه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خپل ځان دپاره یم درم اسراف دی — چه په بل خونه ښندې بې اسرافی ده
«عبدالقادر خټک»

تراول کښېوول دزرو ښځې کاندي — ور کول بازل بې خوی خصلت دنرو
«عبدالقادر خټک»

چه شجاعت کا دنیا په کف لري — نوم به د ښکو په هر طرف لري
هر چه حاصل کا دا د واړه خوي ـ به — هغه میراث دشاه نجف لري
«عبدالقادر خټک»

که څوا نمردی بل آزار مکړه په گنړو — ځان دښو دبدو تیرو ته کړه هدف
«عبدالقادر خټک»

چه گټل خوړول بخښل کا ځوان هغه — چه تو ره لري د توري خان هغه
کان د لعل و دیا قوت و گوهر څه دی — چه احسان تري پیدا کیږي کان هغه
چه نی ته په گړه وخوري حیطه شی — د مجلس سره چه خوړ شی خوان هغه
که د مال دی که د ملك دی که د لښکو — چه نې توان دچا یکار شي توان هغه
په تما مه شپه په ورځی میاشتی کال کښې — چه د خدای په یادو در ومې آن هغه
چه د خوك دوړ اندی روستو ځی داخه شی — په تنها وجود چه شان شی شان هغه
و نور چاو ته وران مهوایه خوشحاله ! — چه قول عهد وران شو وران هغه
«خوشحال خان خټك»

که پښتو ن شی گدا گر د کل جهان — غگ نې تللی دی ودی دی تریونان
هسی شه مهمان نواز خلك نشته — لکه خدای چه پیدا کړ یدی افغان
که بهر در ته مرزی شی خو به کور کښې — له ادبه ځان میر نې کړی تا به خان
ده رچا ځای له چه ور شي بې تکلیفه — کټ بوزی در ته تیار وی آش و نان
«میر احمد شاه رضوانی»

٥ ـ د پښتو نولی غرور :

زه له ځایه د ماغی په جهان را علم — ماد هسې د ماغ سر ندی را وړی
له اصلی فو لا ده هله تیغ ر غیږ ی — په وار وارچه ځنې لاډ شی و سنټړی
«خوشحال خټك»

که زه گوری درد آشامو سره شماریم — خوار هغه چه نې له ما سره آهنگ دی
هر ملخی دسر بازی هنر څه زده — چه په دا هنر کښې سر ښندی پتنګ دی
لا تر اوسه نې ما غزه په قرار ندی — چا چه ما سره و هلی سر به سنګ دی
د گیندیو به ځیگر کښې نې گولی دی — که لیدلی چا دما د ښکار تفنګ دی
لا په خوب کښې به لرزه پر یوزی له کته — چه دچا ترغوز زما د توری شرنګ دی
که په دا د رومی گو رې هغه زه یم — چه می داغ په خاطر ایښی داورنګ دی
در ست جهان می ومغل و ته خیر کړ — ځای په ځای نې پښتانه و ته قلنګ دی
ځنې څه اویه دعوی لرم په زده کښې — ولې څه کړم چه پښتون واړه بې ننګ دی

خو طالع را سره هسې مدد نه کا
گنه تېر تر فريدونه مې فرهنگ دی

دخو شحال دزړه دحال ننداره وکړه
که په تخت دپاچه کېښنی هم ملنگ دی

« خوشحال ختک »

چه زما د در وېزې په کچکول لحير شی
دحاتم په زړه به سهم د سوال پرېبووت

« عبد الحميد مهمند »

هسې رنگه له دې عالمه تنها خوښ يم
چه مدام لکه وحشی په صحرا خوښ يم

تر هغه چه خشک طينت د صحراو يم
لکه موج او اره په دريا خوښ يم

چه شاړه بې له اقمې و زی مگس شی
کله زه د هغه خوان په صلا خوښ يم

چه په شان د آفتاب نده گرمرويه
ستا په سر که په سايه د هما خوښ يم

چه په قيد يې د قفس کړم لکه زرکه
تر دا هسې خندا زه په ژړا خوښ يم

که پيدا ر لکه تصوير له خوا به نه شو
په دا حال له خپله بخته شيدا ! خوښ يم

« شيدا ختک »

جهان شرم نام و ننگ دی
که دا نه وی جهان رنگ دی

چه وفا و رخه نشته
گل به څه کړي چه خوشرنگ دی

چه يې عشق تر سره کړی
نور څوک نشته خو پتنگ دی

په ښا غليو جهان ارت دی
په غو و ليو باندی تنگ دی

چه خوشحال باندې ناستی کا
دا بوزی نده اورنگ دی

« خوشحال ختک »

اکوړی ، يحيی ، شهباز واړه سره زر وو
په خيل دور واړه وبه تېر کړ خپل وار

اکوړی ، يحيی ، شهباز واړه زمری وو
زه هم نه يم د گيدړو په قطار

« خوشحال ختک »

دحاتم غونډې مې خيل و حشم نشته
په عطا کښې له حاتمه برابر يم

سخاوت مې په تقليد په رسم نده ی
زه له ځانه په سخی پلار پسر يم

په وگړی مې خبرې د مردی شته
په همت کښې په هر لوری ناموريم

« خوشحال ختک »

هرچه کاندی نوکری د بادشاهانو
خامخا به د دربانو منت باروړی

« عبد الرحمان مهمند »

مطيع الله له موره پلاره هم سوال مکره
سل بلا شرمندگی دی په سوال کښې

« مطيع الله پير خيل »

در وېزه له در وېزه گرو ناکسی ده
د فلک کچکول ته مه نيسه کچکول

چه رښتينی سيده صاف نه وی حميده !
بولی بولی عالمان دا هسې بول

« عبدالحميد مهمند »

هسې فخر شمس الدين کاندی په عشق کښې
لکه فخر کړی پښتون په خپل نسب

« شمس الدين کاکړ »

دروغ ويل هغه کاچه يې وېره وی يا طمع
خوشحال په دا اړ نه دی حق به وايې خو يې سرشته

« خوشحال ختک »

روهي گلونه (۱۹۵۰) ج: سردار محمد، ح: سراج الدين، ر: محمد امين، ن: رجب علي، ه: اخرانيه پښتو ټولنه ۲۶-۲-۲۷

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**